


# سلگۍ

## ناول

لیکواله: شبانه احمدي

سلگۍ (ناول)

لیکواله: شبانه احمدي


شبانه احمدي د ښاغلي عبدالاحمد لور په کال ۱۳۸۰ هجري لمريز د پکتيا ولايت ګرديز کې زيږدلي ده، لومړنی زده کړې يې د رشاد خصوصي ښوونځي کې او بيا يې د ليسې دورې زده کړې په ۱۳۹۶ هجري لمريز کال کې د حليمه خزان عالي ليسې څخه بشپړې کړې، په ۱۳۹۷ هجري لمريز کال د پکتيا پوهنتون د انجينري ځانګې ته بريالی شوه، او په ۱۴۰۱ هجري لمريز کال له نومړي پوهنځي څخه په عالي درجه فارغه شوه، اغلې شبانه احمدي د خپلې انجينري مسلک څخه بغير له پښتو ادب سره هم ډيره مينه لري چې په ټولنيزو رسنيو ډيرې مقالې او ارواه پوهنې ليکنې خپرې کړي دي، او د ذهنيت جوړونکي خبرو په نامه يې يو کتاب هم ژباړلی دی چې چاپ شوی دی، دا دی اوس يې تازه ناول هم اماده کړی دی، او اوس په درو نورو کتابونو هم بوخته ده چې ژر تر ژره يې تيار او ټولنې ته اماده کړي!



سلگۍ

ناول


Note : this Novel till not Printed by any Publisher Company

# سلګۍ (ناول)

لیکواله : شبانه احمدي

# بسم الله الرحمن الرحيم

**کتاب پېژندنه**


د کتاب نوم: سلګۍ

لیکونکي: شبانه احمدي

ډیزائن چارې: ډاکټر عبید موسم

کمپوزر او ډیزاین برېښنالیک:

obaidullahmosam2011@gmail.com

چاپ شمېر: زر ټوکه

چاپ وار: لومړی

خپرندوی: دا کتاب تر اوسه چا ندی چاپ کړی که څوک یې چاپوی نو په ایمیل اړیکه ونیسی

موندنې ځایونه:

- کابل: علمي خپرندویه ټولنه ( ارزان قیمت، کارته نو سرک سه ) دانش کتاب پلورنځی، اکسوس کتاب پلورنځی او مستقبل کتاب پلورنځی.
- ننګرهار: مومند کتاب پلورنځی، ختیځ کتاب پلورنځی او ګودر کتاب پلورنځی.
- پکتیا: علمي کتاب پلورنځی.
- خوست: شیخ ذاید ، ژوندون -سباوون کتاب پلورنځی



**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو حقوق یوازې له لیکوال سره خوندي دي**

# منته او کور ودانی !

دا کتاب خپل ګرانی مور جان ، پلار جان او خپل درانه استادانو ته ډالي کوم چې زما سره د ژوند په دي سفر کې بیحده مرسته کړې ده

## سریزه

حمد او ثنا هغه ذات لره چې علم او قلم يې خلق کړل او د دغه علم په واسطه په انساني تولنه او نړۍ کی ډیر زيات سهولتونه او د ټکنالوژي خدمتونه منځته راغلل، چې اوس انسان کولی شي د انسان په څېر بل انسان (روباټ) جوړ کړي؛ اما د علم څخه په متناسبه او دوامداره ګټه ټولو خلکو وا نه خیستله. بله دا چې ناخوالې، نا امني او دوامدارو جنګونو د افغانستان علمی بهیر یو څۀ ټکنی کړ. اوس نو ټولې علمي ستې کۀ په هره سطحه کې دي، باید د پوهې او علم څراغونه هرې لرې پرتې سیمې ته ورسوي. د ببلګې په توګه زمونږ پۀ وطن کې نا سم رواجونه، چې اصلي جرړه يې د خلکو نا پوهي او لۀ علم څخه لیرې والی دی. د دې ستونزې پۀ حل کولو، عامه پوهاوي او د ناسمو رواجونو پۀ لۀ منځه وړلو کې تر هر چا ادیبان او لیکوالان زیات رول لرلی شي.

زموږ اکثره لیکوالانو ټولنیزې ستونزې درک کړې دي او د لۀ منځه وړلو او د خلکو د ذهنونو د روښانه کولو لپاره يې وخت نا وخت ناولونه، لنډې کیسې، ادبي ټوټې او دې ته ورته نورو فورمونو کې لیکنې کړې دي.

پۀ دې حساسو شرایطو کې چې ناسمو رواجونو، د نجونو لۀ تعلیم څخه منع کول او دې ته ورته ستونزو زموږ پۀ ټولنه کې ریښې کړې دی، دا دی آغلې شبانې احمدي د ( سلګۍ) تر عنوان لاندې ناول لیکلی دی، د ناوړه دودونو او رواجونو د قربانیانو ژوند يې پۀ کې انځور کړی دی، لوستونکي پۀ اسانه کولای شي، چې د ناوړه دودونو پۀ منفي پایلو پوی شي. آغلې احمدي دې تقدیر وړ ده، دا کار انګېزه غواړي، الحمدلله آغلې احمدي دا انګیزه لري او پۀ ناول باندې يې پوره پۀ جرأت سره کار کړی دی.

په آخر کې د آغلې احمدي دا ناول لیکل ډېر عالي او پر ځای بولم او د د لار نورو ښو لیکنو هیله ورته کوُم، تر څو لۀ دغې لارې څخه خپل دردیدلي ولس ته د خدمت جوګه شي.

پوهنیار استاد سید میرآغا معنوي

انجنیري پوهنځی

پکتیا پوهنتون – افغانستان

۱۴۰۰/۰۴/۱۱

د ادب پهٔ ډګر کې دې نوی پیل مبارک شه!

لهٔ تېرو څو کلونو را هیسې د پښتو ادب پهٔ بڼ کې ډېر نوي او تنکي ګلان را ټوکېدلي، ډېر ځوانان لهٔ چاپېریال، خلکو، ټولنیز ژوند، سیاسي جریانونو، ناوړه دودونو، فقر او غربت څخه اغېزمن شوي دي او دا اغېزه د دې سبب شوې ده، چې ډېری لوستو ځوانانو لیکوالۍ ته مخه کړې ده، او نوي نوي مضامین پنځوي، ځینې یې د نظم پهٔ برخه کې او ځینې نور یې بیا د نثر پهٔ برخه کې ښهٔ ځلېدلي دي او د پښتو ژبې ادب پهٔ بدایینه کې خورا ګټوُر ثابت شوُي دي.

یوه خبره چې باید ویې کړم هغه دا چې: اوسني لیکوال د نظم برخې ته زیاته توجه کوي، پهٔ مختلفو قالبونو کې شعرونه لیکي؛ خو نثر ته ډېر کم لیکوال دي چې پام یې ورته کړی دی، زهٔ ګورم چې د اوسنیو لیکوالو نوي اثار چې چاپیږي، نو پهٔ دې کې شعري ټولګې زیاتې تر سترګو کېږي، زهٔ پهٔ دوی انتقاد نه کوم، زما هدف دا دی یواځې شعر د یوې ژبې ادب نه شي بډایه کولی، نظم او نثر دې موازي سره روان شي، کوم احساس او عواطف چې پهٔ نثر کې بیانېدل شي هغه پهٔ نظم کې نه شي بیانېدلی او کوم چې پهٔ نظم کې بیانیږي هغه بیا پهٔ نثر کې نه بیانیږي؛ نو ښه ده دا چې لیکوال دواړو برخو ته پاملرنه وکړي.

بله مسئله موږ ګورو چې د پښتو ژبې پهٔ ادبي تذکرو او تاریخ کې د نارینه لیکوالو پهٔ نسبت ښځینه لیکوالې ډېرې کمې دي، علت یې دا دی چې ښځې اکثره لهٔ ټولنیزو اړیکو، تعیلم، تجارت او دې ته ورته کارونو څخه یو څهٔ محرومې دي، ټول تمرکز یې د ماشوم روزنې او د کور کارونو باندې دی، سره لهٔ دومره محرومیته چې یوه ښځه را پورته کېږي او لیکوالۍ ته مخه کوي دا ډېر د ویاړ ځای دی، لهٔ دې ویاړلو څخه یوه هم آغلې شبانه احمدي ده.

زهٔ پهٔ پکتیا کې وم د آغلې احمدي لومړی اثر د (ذهنیت جووړونکې خبرې) تر عنوان لاندې چاپ شو ژباړه او راټولونه وه، کتاب مې ولواستهٔ، د تنکیو ځوانانو لپاره ډېر ګټور و، داسې خبرې وې چې د مثبت فکر انګیزه یې راپاروله. لهٔ هغهٔ وروسته دا دی دوه میاشتې تېرېږي، آغلې احمدي ناول لیکلی دی، دا یې لومړی ادبي اثر دی، ما سر تر پایه ولواسته، کیسه یې ډېره جالبه ده، زموږ پهٔ ټولنه کې د مینې د پایلو ډېر ښهٔ انځور یې وړاندې کړی دی. د یو منظم پلاټ مطابق تر پایه ناول مخته تللی دی، پراګرافونه یې لنډ دي، ښایسته مکالمې لري، لنډې جملې او ښکلې هنري کلمې یې پهٔ کې کارولې دي. پهٔ ټوله کې بیخي پهٔ عامیانه ژبه لیکل شوی دی، د هر چا لپاره بهٔ یې ژبه پهٔ زړهٔ پورې وي. کهٔ څهٔ هم آغلې احمدي لهٔ اصله دري ژبې ده، خو پهٔ ټول ناول کې د دري ژبې هېڅ څرک نه لیدل کېږي، هېڅ داسې ګمان بهٔ و نه کړئ چې دا بهٔ دري ژبې اوسي.

دا د آغلې احمدي لومړۍ تجربه ده، ممکن ځینې نیمګړتیاوې ولري؛ خو بیا هم آغلې احمدي د دې اثر په لیکلو کې ډېره بریالۍ ده او نورې پنځونې به یې تر دې هم پخې وي، زه هیله لرم چې دا ناول به ستاسو د خوښې وړ وي او په مینه به یې ولولئ.

په پای کې آغلې احمدي ته د دې ادبي اثر مبارکي وایم او د دې په څېر د نورو پنځونو هیله ورته کوم، قلم یې تل تاند اوسه او د ادب د بڼ ګلان دې لا وغوړېږي.

جاوید خان خبیر

کابل، ارزان قیمت

1400/04/09چهارشنبه

10:13 AM

**څو خبرې**

قدرمنو لوستونکو!

دا ناول مې په 1398 کال کې لیکلی و، د ځینو مصروفیتو له امله، همداسې د کاغذ پر مخ پاتې و، اوس مې له موقع څخه په استفادې ناول یو ځل مې بیا له نظر څخه تېر کړ او ترتیب مې کړ، دا دی اوس چاپېږي.

دا ناول په افغاني ټولنه کې د ناوړه دودونو او رواجونو د بدو پایلو انځور دی، چې زموږ خلک تل ددي بیځایه رواجونو قرباني  شوي دي.

نو راځئ چي ددي بیځایه رواجونو په له منځه وړلو کي کوښښ وکړو ټول په خپله خوښه ژوند کولو ته پریږدو تر څو هغوي په خوشحالي ژوند وکړي او خپلو خوبونو ته حقیقي بڼه ورکړي.

په درنښت

شبانه احمدي

د پکتیا پوهنتون د انجینري پوهنځي د سیول څانګې محصله

*****

ژمی و، هوا سړه وه، ونو به هر سهار سپین سوړ نیولی و، لکه سپین ټوکر دې چې پرې هوار کړی وي. ښوونځي او پوهنتونونه رخصت و، د ډېر وخت لپاره به په کور کې پاتې کېدلم. د ژمي سړې ورځې او شپې به مې په مطالعې، د ټلویزیون او ټولنیزو رسنیو په تعقیبولو لنډولې.

یوه ورځ سهار وختي و لمونځ مې وکړ او نیمه سپاره مې د قرآنکریم تلاوت وکړ، د عادت سره سم مې فیسبوک خلاص کړ، ګورم چې نوې بلنه راغلې ده، پروفایل مې وکاته، نوم یې (سلګۍ افغان) و، پر پروفایل یې د کوچنې ماشوم تصویر لږولی و، بلنه مې یې ومنله، د بلنې له منلو سره سم یې راته پیغام ولېږه، ومې ویل چې دا به کوم مستعار اکاونټ وي، هسې مزاحمت کوي؛ نو پیغام مې یې بې ځوابه پرېښوده؛ لږ ځنډ وروسته یې بیا پیغام راولېږه لیکلي یې و: سلام زه سلګۍ یم په امریکا کې ژوند کؤم.

له دې سره سم یې غږیز پیغام را ولېږه، پیغام مې خلاص کړ، د نجلۍ غږ و، لهجه یې یو څه بدله وه، فکر مې وکړ چې امریکایۍ نجلۍ ده پښتو یې زده کړې ده؛ خو د غږ په اورېدلو سره یې یو څه ډاډه شوم چې مستعار اکاونټ نه دی. ما هم د سلام ځواب ورکړ او د حال پوښتنه مې یې وکړه.

بیا یې پیغام را ولېږه، لیکلي یې و: نوم مې سلګۍ دی، اصلاً د افغانستان یم، ډېر کلونه شول چې له وطنه جلا شوې یم، په امریکا کې له خپل وطن څخه لیرې د هجران شپې او ورځې تېروم.

تاسو د کوم ځای یاستئ او په څه کارو مصروفه یې؟

ما هم ورته ځان معرفي کړ، څه چې ضرور و ورته مې وویل. خدای په اماني مې ورسره وکړه.

د لمر سترګه را ختلې وه، مور مې را غږ کړل: راشه چای تیار دی. له خپلې کوټې راووتم، صالون ته ورغلم، زموږ کور یو لوی صالون لري، هلته ټول یو ځای چای او ډوډۍ خورو. پلار، مور او د کورنۍ ټول غړي مې میز ته ناست وو، د سهار چای یې څښه، زۀ هم ورغلم د پلار څنګ ته مې کښیناستم. چای مو وڅښه، پلار مې خپلې وظیفې ته لاړ، د کورنۍ نور غړي په خپلو کارونو مصروف شول. زۀ لاړم د نصیر احمد احمدي نوی چاپ شی ناول(ټال) مې لواسته، ناول ډېر جالب و، ټول مې په یو وار ولواسته.

ناسته وم ذهن ته مې سلګۍ راغله، له ځان سره مې فکر کاوۀ چې دا نجلۍ څۀ غواړي او ولې یې ماته پیغامونه رالېږل. مسینجر مې خلاص کړ، کوم نوی پیغام نه و راغلی.

سبا ورځ یې بیا پیغام راولیږه، یو څۀ کیسې مو سره وکړې، تر یوې اونۍ ما او سلګۍ یو او بل ته پیغامونه لیږل، د یوې او بلې احوال مو اخیستۀ. سلګۍ غوښتل چې لۀ ماسره ډیرې خبرې وکړي، خو ما ورته زیاته پاملرنه نه کوله، ویل مې امریکا کې ژوند کوي، غم نه لري، چاودنې نشته، غریبي نشته، ټول کارونه د قانون سره سم مخته ځي او د یو او بل حقوقو ته احترام لري؛ زما د وطن او ټولنې غوندې ستونزې نه لري.
وروسته یې تر یوې اونۍ پورې هیڅ پیغام او زنګ را نه غی، فکر مې کاوو چې له ملګرتیا به پیښمانه شوې وي او د څۀ پۀ لټه کې چې وه شاید هغه بۀ یې لۀ ما څخه نه شوای تر لاسه کولای.
له یوې اونۍ څنډ څخه وروسته یې راته یو تصویر ولیږۀ، د تصویر پۀ لیدلو سره مې وجود ولړزیدۀ، پۀ روغتون کې پر بستر یوه کمزورې ښځه پرته وه، سترګې ښکته پۀ کې غورځیدلې وې، د ډیر عمر نه وه خو وجود یې وچ کلک و داسې ښکاریده لکه اویا کلنه بوډۍ چې وي، پۀ اندامو پورې یې هیڅ غوښه نه وه، ټول هډوکي و لکه یو بې روحه کالبوت.
سمدلاسه مې ترې وپوښتل دا څوک ده؟
ځواب یې راکړ دا بد قسمته زۀ یمه.
.ولې څۀ در پیښ شوي دي، چې داسې حال ته رسیدلې یې؟
.زما بد قسمت دې حال ته رسولې یم.
.الله ج دې مه بد قسمته کوه، ولې پۀ کومه نا علاجه نارغۍ اخته یې کۀ څنګه؟
.د هډوکي سرطان مې دی، ډیره لۀ ژونده ستړې شوې یم.
د ټلیفون شماره یې راته ولیږله، ویل یې د لیکلو حوصله نه لرم، پۀ دې شماره راسره اړیکه نیسه.
د تصویر پۀ لیدلو او د نا علاجه ناروغۍ لۀ خبریدلو یې ډیره ناراحته شوم، لۀ سترګو مې اوښکې راغلې، لۀ ځان سره مې ښۀ ډیر وژړل، اندیښنه مې وه چې دا نجلۍ ولې دې حالت ته رسیدلې ده او څۀ بد قسمتي لري؟
موبایل مې را واخیسته، ګوتې مې لړزیدلې نمبر مې وواهه، زړۀ نا زړۀ مې د موبایل شنه تڼۍ ټینګه کړه، زنګ تیر شو، لۀ هغۀ طرفه مې د هلو آواز واوریدۀ.
له هلو سره سم مې ترې وپښتل اوس څنګه یې؟
.مننه، ښه یم خو کاش چې ښه نه وای.
.دا څنګه خبره کوې، تۀ څۀ وایې لېونۍ شوې یې هه؟
.نوره له ژوند سره مبارزه نه شم کولی.

.څۀ ستونزه لرې ولې دومره نا هیلې یې؟

.زړۀ مې نه غواړي، چې بل څوک دې زما لپاره زړۀ وخوري او خفه دې شي، همداسې نا خبره ښه یې.

سلګیو یې زور واخیست غږ یې ورک شو، اړیکه پرې شوه.

ډېره نا ارامه شوم، د سلګۍ ژړغوني غږ مې پۀ غوږونو کې انګازې کولې، کوټه کې مې زړۀ تنګ شو، د کور انګړ ته راووتم، هوا یخه وه، واوره پۀ تېزۍ اورېدله، ځمکې سپین بخملي پوښ اغوستی و، زۀ د سلګۍ پۀ سوچونو کې ډوبه وم، چې دد کوټې لۀ کړکۍ څخه مې مور راغږ کړل: وه نجلۍ ساړۀ دي، ناروغه بۀ شې، کوټې ته راشه چای هم تیار دی.

کوټې ته ننوتم، مور مې راته وکتل، وېې ویل لورې ناروغه یې؟

ومې ویل: نۀ، نه یم ناروغه.

.نو بیا دې ولې رنګ ژېړ اوښتی دی؟

.نه پوهېږم، خو ښه یمه.

.لورې پۀ ځان دې پام کوه، چې ناروغه نه شې.

.سمه ده، مور جانې!

مور مې پۀ بخارۍ کې اور بل کړی و، د بخارۍ رنګ تک سور اوښتی و کوټه ښه توده وه، تور چای یې پوخ کړی و، ماته یې هم پیاله ډکه کړله، ممپلي یې ورسره راواخیستل. ژمی و پلار بۀ مې تل ممپلي راوړل ویل یې ګرم دي، لۀ چای سره ښه مزه هم کوي.

د چای څښلو وروسته د خوب کولو لپاره خپلې کوټې ته لاړم، د سلګۍ سلګۍ مې هېڅ لۀ یاده نه وتلې، خوب مې وتښتېدۀ، همداسې پرته وم د سلګۍ پۀ اړه مې سوچونه کول.

دوه ورځې تېرې شوې خو د سلګۍ کوم پیغام او زنګ را نه غی درېیمه ورځ ما ورته پیغام ولېږۀ.

لۀ سلام څخه مې وروسته ورته ولیکل:

سلګۍ، دا درې ورځې دې هېڅ کوم خبر نه دی راغلی، څنګه یې لۀ مریضي سره؟

.سلګۍ ځواب راکړ: ښه یمه، خو کاش چې ښه نه وای.

.سلګۍ مه نا هیلې کېږه الله ج مهربانه دی ټول کارونه بۀ سم شي.

سلګۍ وویل: د اوس لپاره د خدای پۀ امان د افغانستان پۀ وخت د شپې دولس بجې بۀ بیا سره اړیکه ونیسو.

نه پوهېږم سلګۍ ولې ټلیفون بند کړ.

د شپې تر دولسو بجو مې انتظار وکړ، د وعدې سره سم د سلګۍ پيغام راغی.

لهٔ سلام څخه وروسته يې ليکلي و: تاسو غواړئ، چې زما د سوي ژوند پهٔ کيسه پوی شئ؟

.سمدلاسه مې ځواب ورکړ، هو زهٔ دا څو ورځې ستاسو د ژوند د داستان د اورېدلو پهٔ تمه يم او غواړم پوهه شم، چې تاسو ولې دومره نا هيلې شوې ياستئ.

.خو زما د ژوند داستان ډېر تريخ دی، تاسو بهٔ يې د اورېدلو تاب و نه لرئ.

.الله ج مو لهٔ غمه وساته، کيسه مو راته وکړئ، شايد درسره مرسته وکړای شم.

.تاسو راسره نوره هېڅ مرسته نه شئ کولی؛ يوازې زما د ژوند کيسه وليکه تر څو پهٔ آينده کې نور خلک د خپلو بدو دودونو قرباني نه شي، هېڅ مئين و نه ځورېږي او د بدو دودنو او رواجونو لهٔ منفي پايلو خبر شي او زما د ژوند لهٔ داستان څخه عبرت واخلي. تاسو مو راته ايميل ادرس ولېږئ، زهٔ بهٔ هغهٔ ته د خپل ژوند کيسه درته ولېږم.

ايميل ادرس مې ورته ولېږه، نور مو مخه ښه سره وکړه.

شپه ناوخته شوې وه، ساړه هم کرار کرار زياتېدل، ځان مې پهٔ بړستنه کې پټ کړ، نه پوهېږم چې څهٔ وخت بهٔ ويده شوې يم.

سهار وختي لهٔ خوبه پاڅېدم، لهٔ لمانځهٔ او تلاوت څخه وروسته مې موبايل را واخيسته، پهٔ بيړه مې خپل ايمل ادرس وکاتهٔ، د سلګۍ ايميل راغلی و، ايميل مې خلاص کړ، ليکلي يې و:

زما نوم سلګۍ دی، د افغانستان پهٔ يوه کليوالي سيمه کې زېږېدلې يم، د ماشومتوب خاړپوړې مې پهٔ خپل وطن کې کړې دي، د ځواني تر عمر پورې هملته پاتې شوې يم، پلار مې ډاکټر او مور مې د کور ميرمنه وه، مونږ په يوهٔ کلي کې ژوند کاوهٔ، زهٔ د کور مشره نازولې نجلۍ وم، وروڼه مې تر ما کشران دي، د پنځو کالو وم چې پلار مې جومات ته د درس لپاره بوتلم، زهٔ شپږ کلنه وم چې پلار مې د کلي پهٔ ښوونځي کې شامله کړم.

د ښوونځي لومړۍ ورځ راته ډېره پهٔ زړهٔ پورې وه له جومات سره يې ډېر توپير درلود، ټولې ښوونکې ښځينه وې، نجونې يې ټولې پاکې ستره وې او ما هم ډېر ژر لهٔ دې محيط سره ځان عيار کړ.

څلور کاله ډېره پهٔ شوق سره ښوونځي ته لاړم، پهٔ پنځم ټولګي کې د خپل ټولګي اول نمره شوم، ډېره خوشحاله وم، ناز مې نور هم په خپلو خپلوانو کې ډېر شو، د هر مجلس بحث زهٔ وم، هم خوشحاله وم هم مې د يو ډوّل غرور احساس کاوو او ورځ تر بلې به مې کوښښ څو چنده زياتېدهٔ.

د ښوونځي څلور نور کالونه هم ښهٔ پهٔ خوښۍ را باندې تېر شول، مور او پلار بهٔ زیات پام را باندې کاوهٔ، ما هم پهٔ خپلو درسونو کې پوره کوشش کاوهٔ، هر ځل بهٔ پهٔ ازموینو کې اول نمره وم. لوېې هیلې مې درلودې تل مې زیار ایستهٔ چې خپلو هیلو ته ورسېږم.

پهٔ نهم ټولګي کې وم چې زمونږ ښوونځي ته یوه نجلۍ راغله عمر د شپاړسو کالو شاو خوا و، ښهٔ هېوره وه تندرسته صورت یې درلود، نوم یې وږمه و، ډېره مغروره نجلۍ وه.

د پنجشنبې ورځ وه، وږمې ټولو نجونو ته بلنه ورکړه ویل یې زما مور تاسو ټولو ته میلمستیا کړې او تاسو ټولې یې دعوت کړې یاستئ، سر ښوونکې او نورې ښوونکې یې هم غوښتې دي، له (۲۵) کسانو څخه (۱۰) کسو د وږمې د مور دعوت قبول کړ، زه هم پهٔ دې لسو کسانو کې وم، ما نه غوښتل چې لاړه شم، خو د عایشې په ټینګار مې هو وویل عایشه زما نږدې ملګرې او ټولګیواله وه.

ښوونځی رخصت شو، کور ته لاړم، مور ته مې وویل چې ټولکیوالې مې میلمستیا کړې ده، سبا ته یې مونږ هم بللې یو.

مور مې راته اجازه راکړله، مور ته مې ټینګه غېږه ورکړه مخ مې یې ښکل کړ، مور مې زهٔ هم ښکل کړم.

★★★★★

د جمعې ورځ وه، ساده جامې مې واغوستې د ښوونځي ټیکری مې پر سر کړ او د خپلې نګرانې ښوونکې د کور خواته ور روانه شوم.

زمونږ د ټولګي نګرانه ښوونکې زمونږ له کور څخه دوه کوڅې پورته اوسیدله، لس بجې وې چې د خپلې ښوونکې کور ته و رسېدم، زمونږ سر ښوونکې هم راغلې وه.

ټولو ته مې سلام وکړ، ستړې مشې مې ورسره وکړه، د کړکۍ خواته کښیناستم، لږ ځنډ وروسته عایشه هم راغله.

عایشې لهٔ ټولو سره ستړې مشې وکړه، راغله زما خواته کښیناسته، لږ غلې وه، بیا یې وویل دا نورې نجونې چېرته دي؟

و مې ویل: نه پوهېږم څومره شرم دی، هېڅ څوک هم نه دي راغلي زه او ته هم کاش نه وای راغلې! د ښوونکو پهٔ منځ کې مونږ ته ځای نشته، وګوره ټولې ښوونکې بهٔ خپل منځ کې پهٔ خبرو مصروفې دي زه او ته بېلې ناستې یو.

عایشې وویل: غلې شه، ښوونکې بهٔ زمونږ خبرې وواورې، شاید نورې نجونې هم راشي.

و مې ويل: خدای دې وکړي چې راشي.

عايشې بيا وويل: د ورېمې دوی کور ډېر ښايسته او لوی دی، ستاسو له کور نه هم ښکلی دی.

ما وخندل، ورته مې ويل چې زمونږ له کور څخه نو نه شي ښايسته کېدلی.

لږ ځنډ وروسته ټولې نجونې راغلې، يوې ښوونکې وويل: ګورئ نجونو د ورېمې پلار د کلي مشر دی، ډېر بډايه سړی دی، زمونږ لهٔ ښوونځي سره زياته مرسته کوي، لهٔ تاسو هيله کوم چې داسې کوم کار و نه کړئ چې زمونږ سترګې هغوی ته ټيټې کړئ، کهٔ هر چا داسې کار وکړ بيا د شکايت حق نه لري، مونږ هلته يوازې د ميلمستيا لپاره نه ځو، بلکې د ورېمې لهٔ مور سره خبري کوو، چې د ورېمې پلار ته ووايي د کلي ښوونځي لپاره يوه نوې ودانۍ د کليوالو په مرسته جوړه کړي.

ټولو د ښوونکې خبرې تائيد کړې، ژمنه يې وکړه چې داسې کوم کار بهٔ نه کوي، چې د ښوونکو سترګې پرې ټيټې شي.

يوه شېبه وروسته يو مارسيډيس موټر راغی، د ورېمې مور رالېږلی و، موږ ټولې د باندې ور ووتلو، موټر ته ور وختلو، عايشه زما پهٔ خوا کې کښيناسته.

د ورېمې دوی کور نږدې و، لس دقيقې وروسته يوې لويې دروازې ته موټر ودريده.

موټروان څو هارنګونه وکړل، يو بوډا سړي دروازه راخلاصه کړه، لومړی ښوونکې ننوتلې بيا مونږه انګړ ته ننوتو، د ورېمې دوی کور رښتيا هم ډېر ښايسته و، لارې يې پخې وې، د لارې يوې خوا او بلې خواته د ګلانو بوټي و، ټول انګړ يې پهٔ تک شنه چمن پوښل شوی و، تا بهٔ ويل چې شين بخمل دې پرې غوړولی دی، د ګلانو خوشبويي پهٔ ټول انګړ کې خپره وه، مرغانو د ونو پهٔ ښاخونو کې خپلې سندرې غږولې، ټوله فضا ښکلې او معطره وه، پهٔ کلي کې يې دوه منزله پخه ودانۍ جوړه کړې وه، د بام پر سر يې د ټلويزيون آنتن هم لږولی و، ما د کور ننداره کوله چې عايشې وچوخولم، يو دم مې ټوپ کړل، عايشې وخندل پهٔ ټيټ اواز يې راته وويل: و دې ليدهٔ چې ستاسو لهٔ کور څخه ښايسته دی، څنګه ورته حيرانه پاتې شوې.

د ورېمې مور انګړ ته راووته، لهٔ ټولو سره يې سترې مشې وکړه ويې ويل راځئ چې ننوځو، هغه مخته موږ ورپسې روانې شولو، د تعمير دروازه يې خلاصه کړه، يو لوی صالون ته ور د ننه شولو، پهٔ صالون کې ميزونه او چوکۍ ايښودل شوې وې، پهٔ ديوالهٔ کې غټ سکرين لږيدلی و، موږ پر څوکيو کښيناستو

څو شيبې وروسته ورېمه راغله، ښايسته ويښتان يې خلاص پريښې و، ټيکری يې په غاړه کې اچولی و، ډيره ښايسته ښکاريده لکه د فلمونو اکټره.

ورېمې ټولو ته ښه راغلاست وویل، بیا ما ته مخ کړ او ویې ویل:

سلګۍ تا خو دومره ساده جامې اغوستې دي، نن میلمستا ده تا باید ځان جوړ کړی وای، ښکلې جامې دې اغوستې وای، خیر په هر حال اوس هم ښایسته ښکارې، کۀ غواړې راځه زه به دې ویښتان درته لکه خپل ویښتان داسې ښایسته جوړ کړم، نو د مجلس ښکلا به نوره هم زیاته شي.

و مې ویل: مننه، همداسې ښه یم.

د ورېمې مور ورته وویل: پرېږده همداسې ښکلې ښکاري، انجیلا جولي پۀ ښایست کې ورپسې نه شي رسېدلی، سینګار ته اړتیا نه لري.

له دې خبرې سره مسکۍ شوم ومې ویل: مننه، ستاسو سترګې ښایسته دي

سلګۍ همدومره ایمیل راته کړی و. دېره د سلګۍ د ژوند کیسې ته پۀ تلوسه کې وم، غوښتل مې پوهه شم، چې سلګۍ ولې لۀ دومره ستونزو سره مخ شوې ده، پۀ ژوند کې یې داسې څۀ پېښ شوي دي، چې سلګۍ یې نور لۀ ژوند کولو څخه نا هیلې کړې ده او ژوند ورته یو عذاب ګرځېدلی دی، درې ورځې تېرې شوې خو د سلګۍ کوم ایمیل او یا هم پیغام راښکاره نه شو. دېره ورته په اندیښنه کې شوم ځان سره می وویل هسې نۀ ناروغي یې زیاته شوې وي او نوره پۀ دې دنیا کې نه وي.

د پنجشنبې ورځ وه، آسمان شین و، هوا د نورو ورځو پۀ نسبت یو څۀ توده وه، پلار مې هم لۀ کار څخه وختي راغلی و، لۀ ځان سره یې پاخۀ ماهیان هم راوړي و. مور مې ویل راځئ چې نن پۀ چوتره کې پیتاوي ته ډوډۍ وخورو، مور هم ورسره ومنله، کشرۍ خور مې د لاسو مینځلو اوبو راوړلې، لاسونه مو پریمینځل، مور مې پاخۀ کړي ماهیان او شوله راوړله، ټول کښیناستو ډوډۍ مو خوړله، نا څاپه مې وټوخل، د ماهي لسکه پۀ ستوني کې بنده شوه، مور مې ژر راته اوبو ونیولې ویې ویل: لۀ څو ورځو راهیسې دې ځانته هېڅ پام نه دی، دېره خفه ښکارې څۀ در پېښ شوي دي؟ ومې ویل نه نه هېڅ خبره نشته د ماهیانو خوړل لږ سخت وي، نو ځکه مې لسکه پۀ ستوني کې بنده شوه، نور هېڅ هم نشته. ډوډۍ مو وخوړله د لمانځۀ وخت شو لمونځ مو وکړ، تر هغۀ وروسته خپلې کوټې ته لاړم.

فیسبوک مې خلاص کړ سلګۍ افلاین وه، ایمیل مې وکاتۀ ایمیل ته هم کوم پیغام نه و راغلی، نور می طاقت نه شو کولی سلګۍ د خپلې یوې ملګرې د فیسبوک نوم هم راته ښودلی و، ویلي و راته چې شاید د کیسې تر پایه درسره و نه اوسم، نو له اناهیتا څخه بۀ نور مالومات واخلې، هغه په هر څۀ پوهېږي

اناهیتا ته مې پیغام ورولېږۀ، ځان مې ورته معرفي کړ، وروسته مې د سلګۍ پوښتنه ترې وکړله.

اناهيتا ماښام مهال ځواب راکړ.

ليکلي يې و: سلګۍ مريضه وه اوس له روغتون نه کور ته لاړه موبايل يې کور کې و، دا څو ورځې بيستر وه.

.ولې بيا په سلګۍ څه شوي دي؟

.هغه د خپل زوی له غمه لېونۍ شوې ده.

.هغه زوی هم لري؟

.هو

.ولې پهٔ هغهٔ څهٔ شوي دي؟

.پهٔ پروفايل يې چې کوم عکس لږولی هغه د سلګۍ زوی دی يو کلن و چې سلګۍ ور نه بيله شوه.

.هغه اوس چيرته دی؟

.له خپل پلار سره.

.پلار يې چيرته دی او ولې له سلګۍ څخه بېل دی؟

.هغه په لندن کې دی له سهراب سره، د سلګۍ زوی سهراب نوميږي، سهراب يو کلن و چې پلار يې هغه له سلګۍ څخه بېل کړ، سلګۍ ته نه د سهراب د ليدلو او نه لهٔ هغه سره د خبرو کولو اجازه ورکوي، حتا تر دې حده چې سلګۍ ته يې يو عکس هم نه ليږي، سهراب ته يې پلار ويلي چې سلګۍ (مور يې) مړه شوې ده.

اناهتيا ليکلي وو: پهٔ دې شپږو کالو کې په سلګۍ داسې پېښې راغلې دي، چې سلګۍ يې لهٔ ډېرو کړاوونو حتا د سرطان لهٔ ناروغۍ سره مخ کړې ده، د سهراب لهٔ پلار سره يې امريکا ته تېښته، د ورور مرګ يې، د زوی بيلتون يې، لهٔ خپل عاشق څخه لېرې والی. دې پېښو سلګۍ پر ملا غوته ماته کړه، خو بيا هم لهٔ مجيد سره مينه لري، خپلې مينې ته وفاداره ده، خو برعکس مجيد د سلګۍ پهٔ رېښتينولۍ او پاکې مينې باندې هېڅ باور و نه کړ، د مجيد لهٔ امله سلګۍ د ځان وژنې هڅه وکړه، خو د الله ج نه وه خوښه چې سلګۍ دې مړه شي.

د اناهيتا پهٔ خبرو سره زما وجود بې سيکه شو، ګوتو مې کار نه کاوهٔ، پهٔ سترګو کې مې اوښکې راغلې، هېڅ مې خپل حواس نه شوای کنټرولولی، چوپه ناسته وم، د سلګۍ تکليفونو زهٔ سخته نا ارامه کړم. لږ وروسته د اناهيتا بل پيغام راغی ليکلي يې و: تهٔ څوک يې؟

لږ مې خپل حواس کنټرول کړل، پيغام مې وليکهٔ: زه د سلګۍ ملګرې يم، د سلګۍ د ژوند کيسه ليکم؛ خو خبره نه وم چې دومره ترخه کيسه بهٔ يې وي.

.ښا هغه نجلۍ تهٔ يې چې سلګۍ يې پهٔ اړه راته ويلي و؟

.هو هغه زۀ یم.

.وېښه ما باید د سلګۍ د ژوند په اړه څه درته نه وای ویلي.

.ما بښلې يې.

اناهتیا مننه وکړه او ویې ویل: نن شپه زۀ هم د سلګۍ سره یم. اوس ویده ده، چې را ویښه شي ورته وایم چې تا پیغام رالیږلی و.

د شپې لس نیمې بجې وې سلګۍ ته مې د واټساپ لۀ لیارې زنګ وکړ.

لۀ هغې خوا نه مې د سلګۍ ستړی غږ واورېدۀ هلو هلو.

زیاته خواشینې شوم، د سلګۍ غږ بیخي ناست و، ستړې ښکارېدله.

د ناروغۍ پوښتنه مې ترې وکړه.

ويې ویل: اوس ښه یم؛ خو له ژوند څخه ستړې شوې یم، زړۀ مې د سهراب لیدل غواړي، هغه به څنګه وي، څۀ بۀ کوي، ما به یادوي کۀ نۀ؟

ژړا یې نور هم زور واخیست او په ژړا کې یې وویل: سهراب او مجید نشم هېرولی، څۀ وکړم؟

لږ غلې شوه بیا یې ویل: پیغام نه شم لیکلی، نوره کیسه بۀ د غږیز پیغام لۀ لارې درته وکړم.

ورته مې وویل سمه ده هر څنګه چې ستا خوښه وی زۀ ستونزه نه لرم.

سلګۍ مننه وکړه او تلیفون بند شو.

پاتې کیسه یې پۀ غږیز پیغام کې راته ولېږله:

ښا کیسه لۀ همغه ځایه پیلوم:

یو څو شیبې وروسته یې ډوډۍ راوړه، رنګا رنګ خوراکونه و، یواځې د مرغۍ پۍ نه وې نور نو د هېڅ شي کمی هم نه و. ډوډۍ مو وخوړه، لۀ ډوډۍ خوړلو وروسته ښوونکو د ورېمې لۀ مور سره کیسې شروع کړې؛ د نجونو د مکتب خبره یې هم ور یاده کړه. زۀ، ورېمه او عایشه بل اطاق ته لاړو هلته په ګیم کولو مصروفې وو، پۀ دې وخت کې یو ځوان هلک زموږ اطاق ته راغی.

ورېمې وویل: دا مې ورور دی، مجید نومیږي.

موږ یې هم ورته معرفي کړو.

مجید وویل پۀ لیدلو مو خوښ شوم، موږ هم د مجید خبره تکرار کړه.

مجيد يو شوخ طبيعته هلک ښکارېدۀ، غنم رنګ و، جګ قد او تورې سترګې يې درلودې. مجيد راغی لۀ مورړ سره کښيناستۀ زمونږ د ګيم کولو ننداره يې کوله، د سترګو پۀ کونجونو کې مې مجيد ته کتل ټول پام يې ما ته و. ګيم خلاص شو، عايشې وويل: راځۀ چې ورشو، ښوونکې بۀ غوسه شي وايي بۀ چې چېرې ورکې وئ.

صالون ته را ووتو، ښوونکو د ورېمې لۀ مور سره خداى پۀ اماني کوله؛ مورړ هم لاړو د ورېمې لۀ مور سره مو مخه ښه وکړه. ورېمې مجيد ته ور غږ کړل چې مورړ تر کوره ورسوي. مجيد سمدلاسه موټر چالان کړ، مورړ ټول موټر ته ور وختو، پۀ لاره کې لومړی د عايشې کور و، عايشه لۀ موټر څخه ښکته شوه، ورپسې پۀ نوبت سره هره يوه زده کونکې او ښوونکې ښکته شوې، پۀ موټر کې يواځې زۀ او مجيد پاتې شوو، غونی مې زيږ شو، يو ډوَل د ويرې احساس مې کاوو، تر دې مخکې لۀ نا محرم سره پۀ يواځې ځان پۀ موټر کې نه وم ناسته، د موټر منځ کې عقب نما آينې ته بۀ مې چې وکتل؛ نو مجيد بۀ هم ماته کتل، د مجيد لۀ سترګو سره بۀ مې چې سترګې مخامخ شوې، بل ډوَل احساس مې کاوو، کور ته ورسېدو، موټر ودرېده زۀ ترې ښکته شوم، مجيد ته مې د چاى څښلو ست وکړ، ويل يې ډېر خوند بۀ يې کړی و، چې ستا د لاسو پوخ کړی چاى مې څښلی واى؛ خو زۀ بايد کور ته ځان ورسوم، د کورنۍ بۀ مې اندېښنه شي. ومې ويل سمه ده، پۀ خير لاړ شې. زۀ د کور پۀ طرف روانه شوم، مجيد لا هم ولاړ و، شاته مې وکتل مجيد همداسې پۀ ما کې سترګې خښې وې، د کور دروازه مې خلاصه کړه، کورته د ننه شوم، تر هغۀ وروسته مجيد هم لاړۀ.

جامې مې بدلې کړې، مور ته مې د ميلمستيا ټوله کيسه وکړه، د ورېمې دوی د کور او دسترخوان ډېر صفت مې ورته وکړ؛ خو د مجيد خبره مې لۀ مور څخه پټه کړه. لومړی ځل و چې لۀ مور څخه مې څۀ پټول.

سبا سهار ښوونځي ته لاړم، نورو ټولګيوالو ته مو د ميلمستيا کيسې کولې، ورته مې وويل بس ستاسو قسمت نه و. عايشې هم پۀ ستاينه کې کمی نه کاوو. د رخصتي وخت شو، ښوونځی رخصت شو، د ورېمې ورور مجيد ښوونځي ته د ورېمې د وړلو لپاره راغی.

ورېمې وويل راځه زما او ستا خو هسې هم لاره يوه ده، تۀ بۀ هم لۀ مورړ سره لاړه شې. ما هم هېڅ ست و نه غوښتۀ موټر ته ور وختلم، مجيد د تېر پۀ شان بيا د عقب نما پۀ آينه کې ماته کتل، د مجيد پۀ سترګو کې مې يو ډوَل د مينې احساس ليدۀ، کور ته ورسېدو د غرمې د ډوډۍ ست مې ورته وکړ؛ خو پاتې نه شول.

سبا چې ښوونځي ته لاړم، ورېمې راته يو کاغذ راکړ، ومې ويل دا څۀ دي؟

ورېمې وويل: نه پوهېږم مجيد راکړ.

پۀ وارخطايۍ سره مې ترې وپوښتل څۀ مجيد در کړ؟

هو، مجید راکړ ویل یې سلګۍ ته یې ورکړه.

کاغذ مې ترې را واخیستۀ، آخر ساعت مو خالي و، پۀ بیړه کورته لاړم، د لیک لوستلو ته مې ډېره تلوسه وه، ډوډۍ مې وخوړه؛ سمدلاسه خپلې کوټې ته لاړم، دروازه مې پۀ ځان پسې بنده کړه، لیک مې خلاص کړ.

سلام

ګرانې لۀ کله مې چې لیدلې یې بل ډؤل احساس کووم، تۀ ډېره ښکلې یې.

د دې جملو لوستلو سره مې پۀ وجود کې یخې اوبۀ لاړلې، زۀ لۀ داسې عاشقانه لیکونو سره نه وم مخ شؤې، لومړی ځل و چې داسې یو لیک مې لواستۀ.

مجید نور څۀ نه و لیکلي همدومره لیکلي و، لیک مې پۀ خپلو کتابونو کې پټ کړ.

لاړم د ښوونځي کالي مې بدل کړل، دا ورځ هم تېره شوه.

سبا سهار وړمې راته بیا یو کاغذ راکړ، کور ته چې لاړم پۀ لیک کې یې دا ځل لیکلي و: مینه درسره لرم زما ګرانې او ښکلې سلګۍ.

د لیک پۀ آخر کې یې لیکلي و: ستا مجید.

د مجید دې لیکونو زۀ بیخي پۀ چورت کې کړې وم، ما هېڅ مینه نه پېژندده، مجید ته مې فقط د لیک پر شا ولیکل:

وعلیکم سلام، مننه.

لیک مې سبا ورځ وړمې ته ورکړ، ورته مې وویل چې مجید ته یې ورکړه، پۀ دغې ورځې مجید را ته یو بل لیک لیکلی و، دا لیک هم نورو لیکونو ته ورته و، تر دې وروسته ما هم مجید ته لیکونه لېږل، ما او مجید د وړمې پۀ لاس یو بل ته تر ډېره وخته لیکونه لېږل، کله کله بۀ مجید د وړمې پسې ښوونځي ته راته هلته بۀ مو یو بل کتل، دې کتلو او لیکونه زما او د مجید تر منځ د مینې تار مظبوط کړ.

کلنۍ آزموینې پیل شوې، د آزموینو وروستۍ ورځې را نږدې شوې، ډېره خفه وم، لۀ ځان سره مې ویل پوره پنځلس ورځې بۀ زۀ د مجید لۀ احواله نه خبرېږم، پوره پنځلس ورځې!

آزموینه خلاصه شوه، د رخصتي ورځې را باندې لکه پنځلس کاله داسې تېرې شوې پنځلس ورځې وروسته ښوونځي ته لاړم، د نتایجو د اعلان ورځ وه، زموږ د ټولګي نوبت را ورسېده، زۀ ډاډه نه وم چې اول نومره بۀ یم؛ ځکه چې د امتحان د کتاب پر ځای بۀ مې د مجید لیکونه لوستل. همداسې وشول، زۀ یې درېیمه نمره اعلان کړم.

د آزموینو پایلې اعلان شوې، ټولو زده کوونکو یو بل ته مبارکیانې ورکولې، زۀ د ورېمې پۀ لټه کې وم، آخر مې ورېمه پیدا کړه.

سترې مشې مو سره وکړه، وروسته یې یو لوی پاکټ راته ونیوۀ، ورته مې وویل دا څۀ دي؟

ورېمې وویل: موبایل دی، مجید درته را لېږلی دی.

.څۀ موبایل؟

.هو موبایل.

د ورېمې بیړه وه ویل یې کورته ځم، خدای پۀ امانې مې ورسره وکړه.

زۀ هم د کور پۀ طرف روانه شوم، پوهه نه شوم چې تر کوره څنګه لاړم، د کور دروازه مې ټک ټک کړه، پلار مې دروازه را خلاصه کړه، سمدلاسه یې زما د نتایجو پوښتنه وکړه.

و مې ویل درېیم نمره شوې یم او په منډه خپلې کوټې ته لاړم. د کوټې دروازه مې پۀ ځان پسې بنده کړه، پلار او مور مې فکر کاوو چې زۀ خپلې نتیجې ته خفه یم؛ خو برعکس داسې نه و، زما موبایل ته بیړه وه.

خلته مې خلاصه کړه، نوکیا موبایل و، موبایل مې چالان کړ، پۀ اوکې کې یو نمبر و، زنګ مې ورته وکړ، ټوله لړزېدمه، دا لومړی ځل و چې پۀ موبایل کې خبرې کوم، هغه هم د مجید پۀ شان لۀ یو هلک سره، زنګ تېر شو، چا ځواب ور نه کړ،

څو شېبې وروسته له هغې خوا زنګ راغی اوکې مې کړ، لۀ هغې خوا د هلو غږ راغی، زړه می ټوپونه وهل نه پوهېدم چې څۀ ووایم.

مجید وویل: ولې خبرې نه کوې، شرمېږې!؟

د زړۀ زړبان مې نور هم زیات شو؛ څو زړونه مې سره یو کړل غلي مې وویل څنګه یې؟

.زۀ هیڅ ښۀ نه یم، پۀ تا پسې زیات خفه شوی یم.

ما لۀ مجید سره خبرې نه شوی کولی، خو پۀ لیکونو کې بیا سمه تکړه وم، موبایل مې بند کړ او پۀ پټ ځای کې مې کېښودۀ.

لۀ خپلې کوټې څخه را بهر شوم، مور مې ویل لورې مه خفه کېږه، پۀ تا باندې مور ویاړو، خیر کۀ درېیمه نمره شوې یې، تۀ لایقه یې، ستا پۀ وړتیا کې هیڅ شک نشته، مور مې پۀ غېږ کې ونیولم. د مور غېږه ډېره لۀ مینې ډکه وي انسان د ارامي احساس کوي، زما هم د زړه زړبان عادي شو، د سکون احساس مې وکړ.

★★★★

وخت تیرېدهٔ، د مجید سره مې تلیفوني رابطه عادي شوې وه، هر وخت بهٔ مو یو بل سره د مینې کیسې کولې، یو بل ته دومره نږدې شؤي و لکه روح او تن، یوه ورځ مې لهٔ مجید سره خبرې کولې، پلار مې ګیره کړم، کړپ شو موبایل مې لهٔ لاس څخه ولویدهٔ، ټوله رېږدېدمه، پهٔ قهرجنه لهجه یې راته وویل: لهٔ چا سره دې خبرې کولې؟ زهٔ زبون وهلې شوم، هېڅ مې هم و نه ویل، بیا یې موبایل را پورته کړ پر ځمکه یې وویشتهٔ، ویل یې نور تا ته کور زندان شو، لهٔ کوره بهر قدم هم وا نه خلې او نهٔ بهٔ نوره ښوونځي ته ځې، زهٔ نه غواړم چې ستا لهٔ لاسه زما شمله ټیټه شي او پهٔ کلي کې بې عزته شم، دروازه یې پهٔ زوره رابنده کړه لهٔ کوټې څخه وواتهٔ.
پنځلس ورځې مې لهٔ مجید سره خبرې و نه کړې او نهٔ مې کوم احوال ترې لارهٔ، یوه ورځ د کور پهٔ انګړ کې ګرځېدمه، چې یوه ښځه راغله ومې نه پېژنده، د سترې مشې او پوښتنې مې هېڅ حوصله نه درلوده، لاړم خپلې کوټې ته، مور مې راغله، راته یې وویل راځه ستا د ملګرې مور راغلې، حیرانه شوم زما د ملګرې مور کومه ملګرې!؟
لهٔ خپلې کوټې راووتم، د مور کوټې ته مې ورغلم؛ ګورم چې د مجید مور ده، حیرانه شؤم، لهٔ ځان سره مې ویل دا دلته څهٔ کوي، سترې مشې مې ورسره وکړه.
د مجید مور وویل شفاء د وي، ناروغه یې؟
ور ته مې وویل نهٔ، نه یم ناروغه، ښه یمه.
.ورېمې ویل چې سلګۍ ښوونځي ته نه راځي، تهٔ یې پوښتنه وکړه، چې ناروغه خو بهٔ نه وي.
دا خبرې یې زما د مور لپاره کولې، کنهٔ نو کیسه بل څهٔ وه اصلاً مجید رالېږلې وه.
همدې وخت کې مې مور له کوټې څخه ووته، ښوونځي ته د نه تللو کیسه مې ټوله ورته وکړه.
د مجید مور وویل: ګوره لورې تاته له مجید نه ښه نه رسیږي، لهٔ هغهٔ نه لاس واخله، زما زوی پرېږده، زموږ کورنۍ ژوند مه راخرابوه، یو زوی مې دی، تا لهٔ ژوند ایستلی، کهٔ غواړې چې ښوونځی بیرته پیل کړې او لهٔ درسونو محرومه نه شې؛ نو د مجید شا خوشې کړه، زهٔ د پلار قانع کومه ورته وایم چې موبایل ورېمې ورکړی و، لهٔ هغې سره یې خبرې پهٔ کې کولې. سلګۍ هېڅ ګناه نه لري، نجلۍ ده، ښهٔ یې نه دي کړي چې لهٔ تاسو یې د موبایل خبره پټه کړې ده.
خو پهٔ یوهٔ شرط، چې تهٔ لهٔ مجید سره خبرې وکړې او ورته ووایې، چې له هغهٔ سره مینه نه لرې او نور لهٔ تا لاس واخلي.

د دې خبرو لهٔ اوریدو سره حیرانه شؤم، یعنې د مجید مور هم زمونږ پهٔ مینه خبره شوې ده او نه غواړي، چې مجید دې لهٔ ماسره اړیکه ولري.
په همدې فکرونو کې ډوبه وم چې وېې ویل: مجید ته زنګ کؤم ورسره خبرې وکړه.
زنګ یې وکړ مجید و، هلو مور جانې، پهٔ ټیټ آواز مې ورته وویل زهٔ  سلګۍ یم، مجید وویل سلګۍ ته یې، زما مینې، زما ژونده ډېر درپسې خفه شوی یم، تهٔ پوهېږې دا پنځلس ورځې مې چې لهٔ تا سره خبرې نه دي کړې زهٔ څومره نا راحته شوی یم!؟ هره لحظه ستا د زنګ پهٔ تمه وم، نور مې نو صبر تمام شو. مور ته مې کیسه وکړه، هغه مې درولېږله چې ستا احوال راوړي.
مجید همداسې خبرې کولې، زما پهٔ سترګو کې ډنډ اوښکې ولاړې وې، ګرېوان مې لوند خوشت شو، لهٔ مجید څخه مې د خبرو نوبت ونیوهٔ.
په ټیټ غږ مې ورته وویل زه تاسره مینه نه لرم، زما شا پرېږده، ما نوره هېره کړه، زهٔ نور د مجید پهٔ نوم څوک نه پېژنم.
دا د بې وسۍ او مجبوریت خبرې وې چې مجید ته مې وکړې، لهٔ زړهٔ مې یو الله ج خبر و چې پر ما څهٔ تېرېدل.
مجید وویل: اې لیونۍ مه شرمېږه، هغه مې مور ده، هغه دې راتلونکې خواښې ده.
د مجید مور موبایل را څخه کش کړ او مجید ته یې وویل: زویه دا نجلۍ لهٔ تاسره مینه نه لري او وایي چې مجید مې ژوند را ګډوډ کړی دی، نور دې زما شا خوشې کړي، زویه سلګۍ ستا لایقه نه ده ما خو درته ویلي و، چې په اوس زمانه کې په نجونو اعتبار نه دی پهٔ کار، نن بهٔ لهٔ تا سره مینه کوي سبا بهٔ یې بل پیدا کړی وي، و دې لیدل آخر یې هم ځان وښودهٔ.
مجید ویل: مورې داسې نه شي کېدلی، سلګۍ لهٔ ماسره مینه لري، دومره مینه لکه لوی سمندر، نه نه داسې نه شي کېدلی.
د مجید د مور چالاکۍ ته حیرانه پاتې شوم، دا خبرې یې ځکه مجید ته کولې تر څو مجید له ما څخه کرکه وکړي.
د مجید مور موبایل بند کړ وېې ویل هوښیار کار دې وکړ، زهٔ بهٔ دې اوس پلار ته قناعت ورکړم، چې ښوونځي ته دې تللو اجازه درکړي، خو پام چې نوره د مجید خوا ته ور نه شې! د هغهٔ لپاره ما پهٔ ماشومتوب کې خپله وریره پهٔ نوم کړې ده، مجید بهٔ لهٔ هغې سره وادهٔ کوي. زما وریره لکه ښاپېرۍ داسې ښکلې ده، تهٔ زما د زوی لایقه نه یې، زهٔ چې ژوندۍ یم د مجید خپلول بهٔ دې یو خوب پاتې شي، پهٔ دې سره مې پهٔ سترګو تیارهٔ شوه،

سترګې مې چې خلاصې کړې؛ نو مور او پلار مې سرته ولاړ وو، لږ په هوښ راغلم ګورم چې په روغتون کې یم او سیروم راته چالان دی، پلار مې راته نږدې راغی، په غوږ کې یې راته وویل: لورې ما وبښه! بې له دې چې حقیقت باندې پوی شم، ته مې له ښوونځي څخه وباسلې، په کور کې مې بندي کړې، له خبرو یې پوهه شوم، چې د مجید مور خپل کار کړی دی، زما او د مجید په حق کې یې ستر ظلم کاوه.

سترګې مې پټې کړې، هېڅ څه مې هم پلار ته و نه ویل، د مور غږ مې واورېده زما پلار ته یې ویل راځه د باندی لاړ شو، یو څو شیبې به یې په ارامه پرېږدو، پلار او مور مې له کوټې ووتل. سترګې مې خلاصې کړې مجید مې له ذهن څخه نه واته، له سترګو مې اوښکې روانې وې، همداسې د مجید په فکرونو کې ویده شوې وم.

مازدیګر مهال مې سترګې خلاصې کړې، نرسې سیروم خلاصوو؛ مور او پلار مې کټ ته نږدې ناست ول، ډاکټر راغی، سپینه چپنه یې اغوستې وه، زما فشار یې وکاته وېې ویل فشار یې لږ ټیټ دی، لږ څه ضعیفه شوې ده، قوي خواړه دې وخوري او د نټروسي پرې ورته ورکوئ، ان شاءالله نوره به هم ښه شي، کوم جدي مشکل نه لري، بیا یې ماته مخ کړ اوس څنګه احساس کوې؟

زړه مې غوښتل چې ورته ووایم داسې ځان احساسوم لکه یو کوچنۍ ماشوم چې له مور او پلار څخه په صحرا کې پاتې وي او د یو ژوندي موجود په لټه کې اوسي؛ خو دا خبره مې هېڅ کله نشوای کولی.

ډاکټر بیا وویل زما خبرې اورې؟

ورو مې وویل: اوس ښه یم.

له روغتون څخه رخصت شوم، په لاره کې مې پلار راته مېوه واخیسته، خو زما زړه ته نه کېده، د مور په ټینګار مې یوه کیله وخوړله، کله چې کور ته ورسېدم نو خپلې کوټې ته لاړم په خپل ځای کې پرېوتم، د مجید په خیالونو کې ډوبه وم چې مور مې راغله، کمپله یې رانه لیرې کړه او وېې ویل سلګۍ ته ژاړې؟ ځانته مې پام شو چې په رښتیا مې ژړل، ومې ویل: نه، نه ژاړم.

مور مې ښکل کړم. وېې ویل: تا باندې دې ملګرې دومره ګرانې دي، چې د هغوی لپاره په پټه اوښکې تویوې حیرانه شوم چې د مور له دې خبرې هدف څه دی.

ترې ومې پوښتل هغه څنګه؟

مور مې ځواب راکړ: د ورېمې مور نن وویل، چې د ورېمې پسې خفه شوې ده؛ خو ښه شو چې هغې نن هر څه رښتیا وویل. پلار دې پریکړه کړې چې ته بېرته ښوونځی شروع کوې، سر له راتلونکې اونۍ څخه به ښوونځي ته ځې.

د دې خبرې په اورېدلو زیاته خوشحاله شوم.

یوه اونۍ وروسته مې پلار راسره ښوونځي ته لاړ لهٔ سر ښوونکې سره یې خبرې وکړې، پهٔ لسم ټولګي کې کښېناستم. ټولګیوالې مې ټولې راته خوشحاله وې، عایشې تر ډېره وخته پهٔ غېږه کې نیولې وم، زموږ دواړو لهٔ سترګو د خوشحالۍ اوښکې روانې وې.

وږمه پهٔ ټولګي کې نه وه، لهٔ عایشې مې پوښتنه وکړه، عایشې ووېل د هغوی کډه کابل ته تللې ده.

د دې خبرې پهٔ اورېدو سره مې وجود ولړزېدهٔ. د مجید دومره لېرې تلل راته د زغم نه و، ډېره خواشینې او نا هیلې شوم.

★★★★★

وخت تېرېدهٔ، کوشش مې کاوو چې مجید لهٔ یاده وباسم؛ خو هر کله بهٔ چې یواځې شوم د مجید پهٔ فکرونو کې بهٔ ډوبه شوم، د مجید مینه مې پهٔ رګونو کې ښکته او پورته کېدله،

زما او د مجید د جدایۍ دوه کاله تېر شول، هېڅ مې لهٔ ذهن څخه نه واتهٔ، د مجید یادونه مې تل پهٔ ذهن کې و، یوه یوه خبره یې راته یاده وه، مجید هیله درلوده چې موږ سره یو ځای شو او ګډ ژوند وکړو، نه پوهېدم چې پهٔ مجید بهٔ څهٔ تېرېدل، زهٔ بهٔ ورته یاده وم کهٔ بهٔ یې هېره کړې وم.

د مجید لهٔ یادونو سره سره ما کوښښ کاوهٔ، چې خپل درس پهٔ سم ډول ووایم، دولسم ټولګي ته په لومړۍ درجه بریالۍ شؤم، ژمی مې د دولسم ټولګي ټول کتابونه ولوستل، راتلونکي کال ته پوره پوره چمتو وم.

نوی ښوونیز کال پیل شو، خوشحاله وم اخري کال مې و، د ښوونځي د پیل پهٔ لومړۍ ورځ مو درس و نه لواستهٔ.

بله ورځ چې ښوونځي ته لاړم؛ ټولګیوالو مو راته ویل چې د انګلیسي لپاره نوی ښوونکی راغلی دی. لومړی ساعت مو ریاضي و ښوونکی راغی د خپل پلان په اړه یې خبرې وکړې، د ساعت د بدلیدلو زنګ ووهل شو، استاد لهٔ ټولګي څخه وواته، دویم ساعت انګلیسي و، ټولې د انګلیسي نوي ښوونکي ته په تمه وې، دا نو داسې وخت و چې د ښځینه ښوونکو تر څنګ نارینه ښوونکو هم موږ ته تدریس کاوهٔ.

نوی ښوونکی ناوخته شو، زه تختې ته ودرېدم او د ریاضی سوالونه مې حل کول، لهٔ دې سره سم یوې زده کوونکې غږ کړ: هغه دی ښوونکی راغی، بې له دې چې شاته وګورم لاړم خپل ځای کې کښیناستم، د ټولګي نماینده غږ کړ ولاړې شئ! دروازې ته مې وکتل لهٔ پښو مې دمه وخته، هېڅ پهٔ ځان پوهه نه شؤم، یو وخت چې مې سترګې خلاصې کړې، سر ته مې عایشه او سر ښوونکې ولاړې وې، زهٔ هم راکښیناستم.

عایشې پوښتنه وکړه څنګه یې؟

و مې ویل په ما څه شوي دي؟

عایشې وویل: بې هوښه شوې وې، ډېره دې وډاره کړم ښه شوه چې پهٔ هوښ راغلې.

ټولګي ته لاړو درېیم ساعت جغرافیه و، استاد پوښتنه وکړه په تا څهٔ شوي سلګۍ؟

عایشې وار مخکې کړ ویې ویل نوی استاد زمونږ د ټولګي پسې ښهٔ لاړهٔ نهٔ، هغه چې راغی سلګۍ بې هوښه شوه، لهٔ دې سره ټولو وخندل.

لهٔ ځان سره مې ویل دا کس مجید نه شي کېدلی، مجید دلته لهٔ کومه راغی، پهٔ دې سوچونو کې وم چې تفریح شو، ومې لیدل چې نوی ښوونکی رښتیا مجید و، د پخوا پهٔ شان ښکلی و، هېڅ کوم تغیر نه و پهٔ کې راغلی.

تفریح ختمه شوه، زده کوونکي بېرته ټولګیو نه ننوتل، موږ هم ټولګي ته لاړو، مجید زموږ ټولګي ته راغی، مخامخ را ته ودرېدهٔ، پوښتنه یې وکړه، سلګۍ اوس ښه یې؟

ټولو ټولګیوالو مې ماته وکتل، یوې وویل چې د سلګۍ نوم یې لهٔ کومه زده کړی دی.

غلي مې ورته وویل ښه یمه، هغه بېرته لهٔ ټولګي څخه ووت، زما هغه پخوانی د مینې احساس یو ځل بیا پهٔ جوش راغی، د مجید مینې مې بیا پهٔ رګونو کې جریان پیدا کړ.

ادارې ته لاړم، یوازې مجید ناست و، د سر ښوونکې پوښتنه مې وکړه، هېڅ یې را و نه کتل، بیا مې وویل سر ښوونکې مې پهٔ کار ده.

مجید را وکتل ویې ویل، تهٔ دوکه بازه یې، د مینې پاک نوم ته دې درناوی و نه کړ، زهٔ دې پهٔ نیمه لار کې پرېښودم؛ خو زهٔ لا هم مینه درسره لرم او دا دی بیا دلته ستا لپاره راغلم، کور مې پرېښودهٔ.

سمدلاسه مې ورته وویل ما تهٔ نه یې پرېښې، زما اوستا د بیلتون لامل ستا مور ده، زهٔ نه یم.

غوښتل مې لهٔ ادارې ووځم مجید را غږ کړ، یوه شیبه صبر وکه.

مجید وویل: دا تهٔ څهٔ وایې، زما مور زما پهٔ حق کې داسې ظلم نه شي کولی، هغې ته زهٔ لهٔ هر چا ډېر ګران یم، تهٔ دروغ وایې.

ومې ویل زهٔ دروغ نه وایم، هغه ورځ چې مور دې زموږ کره راغلې وه زهٔ یې مجبوره کړم، چې تا ته داسې خبرې وکړم.

د هغې ورځې کیسه مې ټوله ورته وکړله.

مجید وویل: مور خو مې ما ته بل څۀ ویلي و، ما وبښه سلګۍ، چې ستا پۀ اړه مې غلت فکر کړی و، ما د هیچا سره هم وادۀ نه دی کړی، د ماما د لور سره مې وادۀ نه دی کړی، لۀ تا پرته مې لۀ بل چا سره مینه نشته بغیر لۀ تا مې زړۀ مات شوی و، هېڅ مې ژوند ته زړۀ نه کېدۀ.

سلګۍ! مینه درسره لرم، تا نه شم هېرولی، بې لۀ تا ژوند نه شم کولای، تۀ مې روح یې.

ما او مجید یو بل ته زړونه تشول، چې د دروازې کړپ شو، ځان مې کنټرول کړ، د جغرافیې ښوونکی و، د باندې را ووتلم.

ټولګي ته لاړم دوه ساعته درس مو وویلې لۀ هغۀ وروسته رخصت شولو.

زۀ او عایشه د کورو خوا ته روانې وو، عایشې را باندې ملنډې وهلې، ویل یې اوس دې نو بیا زړۀ پۀ هوا دی، بیا بۀ درسونو کې شاته پاتې شې، لیلا او مجنون بیا سره یو ځای شول.

کور ته ورسیدو عایشه راسره ډوډۍ ته نه پاتې کېده، هغه خپل کورته لاړه، زۀ بې له دې چې څه وخورم خپلې کوټې ته لاړم او ویده شوم. لۀ خوبه چې را ویښه شوم مور مې راته غوسه وه، ویل یې بیا دې د غرمې ډوډۍ ونه خوړه، وګوره څومره ډنګره شوې یې.

لاړم ځانته مې هګۍ پخې کړې، مجید مې یاد ته راغی، ویل مې چې هغه به ډوډۍ خوړلې وي او کۀ نۀ؟ یو ګوله ډوډۍ مې وخوړه نوره مې لۀ ستوني نه تېرېده، همداسې مې پریښوده، خپلې کوټې ته لاړم لمونځ مې وکړ، لۀ هغۀ وروسته د کوټې پۀ اورسۍ کې کښیناستم، د باغچې ننداره مې کوله، لۀ ډېر وخت وروسته مې مجید لیدلی و، ډېره خوشحاله وم، پۀ مړۀ وجود کې مې د ژوند سا بیا پیدا شوې وه، مړې هیلې مې بیرته را ژوندۍ شوې وې، تر ډېره ناسته وم د طبیعت ننداره مې کوله.

د سبا پۀ تمه وم، ورځ او شپه راته کال شول، ټوله شپه مې په ویښه تیره کره، سهار وختي مې ځان تیار کړ، ښوونځي ته لاړم، و مې لیدل چې مجید هم راغلی دی، درېیم ساعت مو انګلیسي و، ټولګي ته لاړو، دوه ساعته درس مو ولواستۀ، درېیم ساعت مجید راغی.

مجید پر چوکۍ کښیناستۀ، ویل یې نن زۀ درس نه ورکوم ستاسو اول نمره بۀ درس ورکوي. زۀ اماده نه ومه، ومې ویل زۀ نه شم کولای درس ورکړم، امادګي نه لرم.

ویې ویل اول نمره باید تل اماده اوسي، تۀ باید نن درس ورکړې.

لۀ نا چارۍ د ټولګي مخې ته لاړم، پۀ تخته مې د درس عنوان ولیکۀ، مجید په ډېر دقت راته غوږ نیولی و، ګوډ او مات درس مې تشریح کړ، درس خلاص شو مجید راته چک چکې وکړې، ټولګیوالو مې هم د چک چکو پۀ

وهلو سره تشویق کړم، خپل ځای کې کښیناستم، رنګ مې سور اوښتی و، مجید زما د تدریس ډېر تعریف وکړ او ډېره یې تشویق کړم، د تفریح زنګ ووهل شو، پهٔ دې وخت کې مجید راته یوه کتابچه راکړه، ویې ویل دا تاته ډالۍ ده.

لاسونه مې رېږدېدل د مجید لهٔ لاس څخه مې کتابچه راواخیسته، د عایشې هم راته پام و.

عایشې وویل خلاصه یې کړه، څهٔ یې پهٔ کې لیکلي دي. کتابچه مې خلاصه کړه. د کتابچې پهٔ اوله صفحه کې یې لیکلي و: دا مې تاته لیکلي، باید بل څوک یې و نه ویني، عایشې پهٔ خندا وویل: بیا یې لکه چې د مینې لیک درته لیکلی دی.

کتابچه مې بېرته بنده کړه.

پاتې ساعتونه مو هم درس وویلې، د رخصتي زنګ ووهل شو، کور ته مې پهٔ بېړه ځان ورساوهٔ، د مجید کتابچې ته مې اندیښنه وه، کور ته ورسېدم، مور ته مې سلام واچاوهٔ،

مور مې سلام وعلیک کړ، ویې ویل ترور دوی دې راغلې دي د هغوی سره بهٔ یو ځای ډوډۍ وخورې.

کوټې ته ور د ننه شوم، د ترور دوی سره مې ستړې مشې وکړه، مور مې راغږ کړل راشه ډوډۍ تیاره ده، ترور دوی ته دې د لاسو اوبو واچوه، ډوډۍ مو راوړه موږ ټولو یو ځای ډوډۍ خوړله، جسماً د میلمنو سره وم، فکر مې د مجید پهٔ کتابچه کې و، مازدیګر مهال ترور مې لاړه، خو زینب د ترور لور مې پاتې شوه، زهٔ پهٔ بېړه خپلې کوټې ته لاړم.

کتابچه مې خلاصه کړه، پهٔ لومړۍ صفحه کې یې دوه زړونه رسم کړي و، بیا یې لاندې ترې لیکلي و: جسماً را څخه لیرې یې، خو روحاً مې په زړه او ټول وجود کې یواځې تهٔ یې سلګۍ تا نه شم هیرولی.

دوهمه پاڼه کې یې داسې لیکلي و:

پوهیږې ستا بیلتون زهٔ څهٔ حالت ته رسولی یم؟ خو بیا ستا یادونه تل راسره دي پهٔ هر ځای او هر کار کې راسره مل دي، یوه لحظه دې هم لهٔ یاده نه شم ایستلی.

لکه وینه په رګونو کې مې یې، وینه له رګونو څخه هېڅ نشی لیرې کیدلی، همداسی ته هم زما په رګونو کې یې او د زړه وینې مې پمپ کوې.

پهٔ دریمه پاڼه کې یې لیکلي و:

نږدې ورځو کې بهٔ مې مور ستاسو کره در ولېږم، زما او ستا پیوند بهٔ د ټول عمر لپاره وتړل شي، نور بهٔ زیاتي پهٔ غلا غلا یو بل نه سره ګورو، لهٔ دې وروسته بهٔ پهٔ دیدن ماړهٔ یو.

زما ښکلې سلګۍ.

په څلورمه پاڼه کې يې لیکلي و:

سلګۍ ولې دې داسې وکړل؟ ولې دې زه په نيمه لاره کې پرېښودم، زما د زړګي دنيا دې ورانه کړه، مينې ته د احترام و نه کړ، خير دی زما د دې پوښتنو ځواب راکړه!

بله پاڼه مې واړوله، لیکلي يې و:

په مينه کې د معشوقې خواته اوسېدل د ژوند تر ټولو خوندورې شيبې وي، د معشوقې جدايي تر ټولو سختې شېبې وي، اوس زما د ژوند سختې شېبې دي او زه يم.

بله پاڼه کې لیکلي و:

يو ورځ به سره مخامخ شو دا کتابچه درکړم او وګوره چې ستا جدايي څومره راباندې ژوند سخت کړی دی، وګوره ستا لپاره له نړۍ سره په جنګ يم.

پلار راته شرط ايښی و، ويل يې يا به د ماما لۀ لور سره دې وادۀ کوې يا بۀ کور پرېږدې.

د ماما لۀ لور سره مې وادۀ و نه کړ، کور مې پرېښودۀ، يواځې د دې لپاره چې ستا مينې ته سپکاوی و نه کړم او بې وفا نه شم.

هغه وخت بۀ دې هم هيره نه کړم چې پۀ سپين لباس مې تن پټ شي او د خاورو لاندې شم، بيا بۀ مې هم ارواح لۀ تا سره وي.

پۀ ټوله کتابچه کې زمونږ د مينې او بيلتون کيسې يې ليکلې وې، هره پاڼه مې چې اړوله لۀ سترګو مې اوښکې بهېدلې، هېڅ مې ځانته پام نه و، ډېر وخت تېر شوی و زۀ د مينې پۀ ليکونو کې ډوبه وم، خپلو اوښکو ته مې هيڅ نه و پام شوی، چې پۀ دې وخت کې زينب د خاله لور مې راغله، پۀ دغۀ شپه زمونږ کره وه؛ کله يې چې زۀ پۀ ژړا وليدم؛ نو پوښتنه يې وکړه څه شوي ولې ژاړې؟

زينب زما او د مجيد پۀ مينه خبره وه، ويې ويل لکه چې بيا دې د مجيد يادونه تازه شوي دي؟

د مجيد د راتګ کيسه مې ورته وکړه او دا مې هم ورته وويل چې زما لپاره يې مور، پلار او د کورنۍ نور غړي پريښي دي.

زينب وويل: سلګۍ! تۀ د کانکور امتحان پۀ مخ کې لرې، داسې کار مه کوه چې راتلونکی دې تباه کړې، مجيد لۀ ياده وباسه، تۀ مجيد نه شې خپلولی، د مجيد پلار او مور نه غواړي چې تۀ دې د هغوی اِنګور شې، ستا پلار هم لۀ خپل دود، پښتني غرور او فرهنګ څخه نه شي تېرېدلی، نه غواړي چې لور يې پۀ چا مَينه اوسي او بيا دې لۀ

هغه سره وادهٔ وکړي، دا د ځان لپاره عيب او پيغور ګڼي. تا ته هم د خپلې ټولنې کلتور مالوم دی، مَينان پهٔ کې تل پهٔ وير لړلي وي، مينه دلته ګناه ده، نو لږ پهٔ هوښ راشه، لېونتوب پرېږده!

د زينب خبرو ډېره نا هيلې او بې زړهٔ کړمه، د پانې او پړانګ پهٔ مينځ کې ايساره شوم، يو خواته مې مينه وه بل خواته مې د پلار شمله او د کانکور آزموينه وه.

ټولو شپه مې دا سوچونه کول، چې مينې ته بهٔ ورسېږم او کهٔ بهٔ پاتې شم، کهٔ لهٔ مجيد سره همداسې اړيکه ولرم، خلک بهٔ خبر شي د پلار شمله بهٔ مې پهٔ ځمکه ولويږي، کهٔ څهٔ هم مينه ګناه نه ده، خو زموږ پهٔ ټولنه کې ورته د ګناه پهٔ سترکه کتل کېږي، پهٔ دې سوچونو کې وم ويده شؤې وم.

د سهار لمونځ مې وکړ، مور مې د سهار ناشته تياره کړې وه، د ناشتې پر مهال مې مور راته وويل سلګۍ دا دوه ورځې ډېره خفه ښکارې ولې څهٔ شؤي دي؟ چې لهٔ ښوونځي راشې خپلې کوټې ته منډه کړې، څهٔ درباندې شؤي دي؟ زهٔ دې مور يم ماته ووايه.

مور ته مې د کانکور آزموينه بهانه کړه، ومې ويل د کانکور آزموينه رانږدې شؤې ده، نو د درسونو يو څهٔ فشار دی، نوره بيخي ښه يم. ښه چېرې وم خو مور ته مې مجبوره وم چې دروغ ووايم.

د ښوونځي بکس مې اماده کړ، لهٔ کوره چې وتلم مور مې ښکل کړم، ويل يې زما وياړلې لورې پهٔ ځان دې پام کوه!

ښوونځي ته پهٔ لاره وم، د خپل نامالوم راتلونکي پهٔ اړه مې سوچونه کول، مجيد، پلار او مور مې او د کانکور امتحان، پهٔ دې کې راځخه انتخاب ورک شوی، ټول مې د ژوند پورې تړلي مهم مسايل و، هغه يو شاعر وايي:

ژوندون، لټون، مينه، مرګی او حساب

څومره کارونه مې پر سر پراتهٔ دي

آخر مې فيصله وکړه، چې زهٔ بايد درس ووايم، کانکور ته چمتوالی ونيسم، کهٔ پهٔ کانکور کې بې نتيجې شم، مور او پلار بهٔ مې زيات خفه شي؛ خو د مجيد هېرول هم سخت کار و.

ورځې او شپې تېرېدلې لهٔ مجيد سره مې اړيکه يو څهٔ کمزورې شؤې وه، خو لهٔ زړهٔ مې نه واتهٔ، کلنۍ آزموينه مو شروع شوه لهٔ ښوونځي څخه فارغه شؤم.

د کانکور آزموينه مې ورکړه د نتايجو اعلان ته يې دوه مياشتې انتظار وم، ښوونځي رخصت و، مجيد هم کابل ته تللی و، د مجيد د ټليفون شماره مې ليکلې وه، لهٔ زينب نه بهٔ مې کله کله پهٔ چل موبايل واخيسته، د مجيد سره بهٔ مې پهٔ غلا خبرې کولې.

دوه میاشتې وروسته د کانکور پایلې اعلان شوې، زهٔ د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځي ته بریالۍ شوې وم، عایشه د ننګرهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ته بریالۍ شوې وه.
ډېره خوشحاله وم، د مور او پلار یوه هیله مې پوره کېدونکې وه. پهٔ سبا ورځ زما پلار خیرات او د قرآنکریم ختم وکړ، ویل یې کهٔ تهٔ کامیابه شې زهٔ بهٔ د قرآنکریم ختم کووم او یو پسهٔ بهٔ خیراتوم، دا یې پهٔ ځان نذر منلی و.
پلار مې زهٔ کابل ته د درس ویلو لپاره یواځې نه شوم لېږلی؛ نو پرېکړه یې وکړه چې کابل ته بهٔ کډه وکړو، پلار مې کابل ته لاړهٔ، دوه ورځې وروسته بېرته راغی، پهٔ تایمني کې یې کور نیولی و.
سهار وختي زموږ د کور مخې ته مازده موټر ودرېده، د کور کالي مو لا د شپې ټول کړي و، دوه ساعته وروسته موټر بار شو، کشر ورور مې خوشحال د کډې موټر ته وخاتهٔ، موږ هم پهٔ خپل موټر کې سپارهٔ شو، پلار مې ډرېوري کوله.
ونو تازه د ګلانو غوټۍ سپړلې وې، دهقانان پهٔ خپلو پټیو کې پهٔ کار بوخت و، یوه نیمه د کوچیانو کډه هم پهٔ مخې راتلله، پلار مې دوه درې ځایه پهٔ کلي کې موټر ودراوهٔ، لهٔ کلیوالو یې خدای پهٔ اماني اخیستله، د کلي پهٔ ونو، لارو، بوټو، ویالو او کورونو پسې مې کتل، له سترګو مې اوښکې لاړې لهٔ کلي څخه لیرې تللو ډېره خواشینې کړم. پهٔ خپل کلي کې دنیا ته راغلې وم، د ماشومتوب خارپوړې مې کړې وې، ښوونځی مې لوستی و، زما او د مجید د مینې پیل لهٔ کلي شوی و، ډېر خاطرات مې بهٔ کلي پورې تړلي و. د موټر تېرونه پاخهٔ سړک ته سم شول، کلی ورو ورو لیرې کېدهٔ، لږ نور مزل مو چې وکړ کلی پنا شو.
سلګۍ راته دومره کیسه کړې وه، لهٔ سترې غږ څخه یې مالومېدل چې صحي وضعیت یې ښهٔ نه و.
لهٔ کوټې را ووتم مور مې بخارۍ پاکوله، لهٔ غوړو لرګیو یې شکایت کاوو، ویل یې هره دوهمه ورځ بخارۍ ډکه وي، کاش! چې برق مو لرلی زیاتي بهٔ د بخاریو لهٔ پاکولو خلاص و.
شیبه وروسته د آشپز خانې څخه د پخو وریجو بوی راغی، مور مې وویل ورشه لورې پهٔ دیګي پسې اور مړ کړه، وریجې پخې دي، همداسې مې وکړل، ډوډۍ مو وخوړه، وروسته مو لمونځ وکړ، لاړم خپلې کوټې ته د (زرو) ناول مې را واخیسته هغه مې تر ماښامه ټول ولواستهٔ. زرو د مینې لپاره کلی او کور پرېښي وو، د نورستان ولایت پهٔ یوهٔ ځنګل کې یې جونګړه جوړه کړې وه هلته یې لهٔ خپل عاشق سره ژوند کاوهٔ.
لهٔ ځان سره مې وویل چې زموږ پهٔ ټولنه کې مینې ته رسېدل او پالل یې څومره سخت دي.

د سلګۍ کیسه هم د زړو په شان له ستونزو او کړاوونو ډکه وه، ټوله کیسه مې لا نه وه اورېدلې. ډېره ورته په تلوسه کې وم؛ خو د سلګۍ له حالت څخه خبره شوې وم، چې مینې څهٔ حالت ته رسولې وه، له ژونده یې ایستلې او د ناروغۍ پر بستر مرګ ته منتظره وه.

ماخوستن مې خپل موبایل راواخیسته، څنګه مې چې ډېټا خلاصه کړه، ټنګ شو پیغام راغی، ومې کتل چې د سلګۍ پیغام دی.

له سلام څخه وروسته یې لیکلي و، وبښه کیسه مې په نیمایي کې درته پرېښوده. اوس نو راځم د کابل ژوند ته مو:

له کلي تر کابله په درې ساعتونو کې ورسېدو، د کډې موټر لا هم نه و رارسېدلی، پلار مې له هوټل څخه تیاره ډوډۍ راوړه. ډوډۍ مو وخوړه، لږ ساعت وروسته پلار ته مې زنګ راغی، ویل یې خوشحال دی، ټلیفون ته یې ځواب ور کړ، خوشحال ته یې د کور ادرس ورکړ، شېبه وروسته مازده موټر د کور مخې ته ودرېده، کالي مو ترې راکوز کړل، نوی کور مو فرش کړ.

شپه شوه، دوهم منزل کړکۍ کې ناسته وم، د کابل د ښار ننداره مې کوله، د کلي سره یې زیات توپیر درلود، د موټر غږونو ټول ښار کې شور جوړ کړی و، خلک یوې خوا او بلې خوا ته روان و، ګڼ کورونه و، ټول ښار رڼا و، آسمان شین و، خو ستوري آسمان کې سم نه ښکارېدل، یو نیم ستوری به ښکاره شو له ځان سره به مې ویل دا ځلېدونکی د مجید ستوری دی.

سهار وختي مې ځان آماده کړ، پلار مې پوهنتون ته ورسولم، د پوهنتون انګړ ته داخل شوو، نجونو رنګا رنګ جامې اغوستې وې د کلیوالي سیمو له جامو سره یې زیات توپیر درلود، د نجونو او هلکانو یو ځای ګرځېدل عادي و، ځینو نجونو به په خپل منځ کې شوخي کولې بیا به یې په کړس کړس وخندل، اکثره محصلین به جوړه جوړه ګرځېدل، آرامه فضا وه، د پسرلي موسم و، د کابل پوهنتون انګړ تک شین و، لوېې لوېې د نښتر ونې د پلې تګ د لارو یوې خوا او بلې خوا ولاړې وې، د انسان روح به ورسره تازه شو، هیڅا هم په بل چا غرض نه واهه.

زهٔ او پلار مې مستقیم د محصلانو چارو معاونیت ته ورغلو. پلار مې له رسمیاتو سره بلد و، ټول کارونه یې په یو ساعت کې راخلاص کړل. نور نو زهٔ محصله شوم، په دغهٔ ورځ ناوخته و درس ته لاړم نهٔ، کور ته لاړو.

سبا سهار پوهنتون ته روانه وم، ښار ته مې کتل، د موټرو رش و، د هرې خوا نه خلک تلل او راتلل، د ښار ژوند و نو، بالاخره پوهنتون ته ورسېدم. پوښتنه مې وکړه د اقتصاد پوهنځی مې پیدا کړ، د ننه ننوتم اوږد

دهليز و، يوې خوا او بلې خوا ته مې کتل تر څو چې خپل ټولګی پيدا کړم، د يوې دروازې پهٔ بورډ يې ليکلي و: (لومړی ټولګی) دروازه مې ټک ټک کړه استاد ويل راځه! ټولګي ته ور د ننه شؤم، د جګ قد والا يو استاد سټېج ته ولاړ و، ټولګي کې د سلو شاو خوا محصلين غلي ناست و، ټولې بهٔ شل تنه نجونې وې نور هلکان و. مخکې تر دې مې دومره لوی ټولګي کې درس نه و ويلی، غلې لاړم پهٔ دوهم قطار کې يوه څوکۍ خالي وه هلته کښيناستم. د پوهنتون تدريس، درسي مواد، د استاد رويه، د محصلينو اړيکې هر څهٔ لهٔ ښوونځي څخه بدل و.

د پوهنتون درسونه يو څهٔ سخت و، ما بهٔ زياته خواري کوله، ښهٔ پهٔ شوق مې درسونه ويل، هره ورځ بهٔ مستقيمه پوهنتون ته تللم او بيرته بهٔ سيده خپل کورته راتللم.

★★★★★

د جوزا مياشت وه، هوا هم ډېره توده وه، غرمه دولس بجې لهٔ پوهنتون څخه رخصت شوو، د باندې راووتم، د پوهنتون دروازه عمومي سړک سره نږدې وه، يو کرولا موټر راغی لاس مې ورکړ ودرېدهٔ، بې لهٔ دې چې موټر چلونکي ته وګورم د موټر شا سيټ ته وختم.

کتاب مې را واخيسته مطالعه مې کوله.

موټر چلوونکي وويل: ډير سخت دی کنه؟

غږ راته د مجيد ښکاره شو.

سترګې مې لهٔ کتابه پورته کړې، چې ګورم موټر چلوونکی رښتيا هم مجيد دی، لهٔ پښو مې دمه ووته پهٔ وارخطايي مې ورته وويل: تهٔ دل دل دلته څهٔ کوې؟

موټر يې ودراوو، ويې ويل زهٔ خو لکه تهٔ داسې نه يم چې هېره بهٔ دې کړم، ما درسره وعده کړې چې تر مرګه پورې بهٔ زهٔ لهٔ تا څخه لاس نه اخلم، سلګۍ! بې لهٔ تا ژوند نه شم کولای. دا ډېرې ورځې شوې چې تهٔ مې تعقيبولې، نن موقع پهٔ لاس راغله موټر مې درته ودراوهٔ.

مجيد موټر ته حرکت ورکړ، غږ مې پرې وکړ ودرېږه! زهٔ ښکته کېږم، و يې ويل ستا کور خو تايمني کې دی دلته ولې ښکته کېږې؟ اوس خو دې تر کوره پورې رسؤم.

په غوسه مې ورته وويل همدلته ښکته کېږم، کهٔ پلار مې وليدم، نو ژوند بهٔ مې تباه شي.

مجيد وويل سلګۍ پهٔ تا څهٔ شؤي دي، ولې دې زهٔ هېر کړی يم، تهٔ ولې زما پر وړاندې دومره بې پروا شؤې يې.

لومړی ځل و د مجيد پهٔ سترګو کې مې د بې وسۍ اوښکې وليدې.

موټر يې ودراوهٔ، زهٔ ترې ښکته شوم، بل موټر کې کښيناستم.

پهٔ ټوله لار کې مې د مجید اوښکې لهٔ زړهٔ څخه نه وتلې، د مجید پهٔ سوچ کې وم، چې موټروان په غږ مې جیټکه وخوړه ویل یې ورسېدې، پهٔ لاره هېڅ پوهه نه شوم، لاسي بکس ته مې لاس کړ، موټروان ته مې پیسې ورکړې، ترې ښکته شوم.

د کور دروازه مې ټک ټک کړه، مور مې دروازه راخلاصه کړه، مور مې چې راته وکتل ویې ویل څهٔ شوي لور جانې ولې دې رنګ الوتی دی؟

ځواب مې ورکړ، ښه یمه د اندیښنې وړ کومه خبره نشته، نن ګرمي زیاته وه، نو ځکه یو څهٔ نا ارامه یم.

خپلې کوټې ته لاړم دروازه مې پهٔ ځان پسې وتړله بیا مې ژړا د ژوند میلمنه شوه، د مجید د مینې یادونه یو څهٔ ساړهٔ شوي و، یو ځل بیا مې د مجید مینه پهٔ جوش راغله. د کوټې دروازه ټک ټک شوه، اوښکې مې پاکې کړې پاڅېدم، دروازه مې خلاصه کړه، مور او پلار مې دواړه دې دروازې شاته ولاړ و، پلار مې وپوښتل لورې څهٔ درباندې شؤي دي ناروغه خو بهٔ نه یې؟

مور مې تر ما وار مخکې کړ، ویې ویل: له پوهنتون نه چې راغلې ځان یې همدې کوټې کې بند کړی دی، وګوره اوس ښېړ بجې دي او د غرمې ډوډۍ یې هم نه ده خوړلې.

مخامخ ساعت ته مې وکتل رښتیا هم ښپږ بجې وې، خو زه په ځان هېڅ نه وم پوهه شؤې.

پلار ته مې وویل پلاره! اندېښنه مه کوه زهٔ ښه یمه، نن لږ ستړې شؤې یم.

د مجید راز مې لهٔ ټولو پټ کړ، هیڅ چا ته مې هم څهٔ و نه ویل.

بله ورځ بیا مجید موټر راته ودراوهٔ ویل یې سلګۍ! تهٔ هم پر ځان ظلم کوې هم پر ما باندې، راځه نوره لهٔ ضد څخه تېره شه، پخواني ژوند ته بهٔ بیرته وګرځو، ښهٔ پوهېږم چې تهٔ ما نه شې هېرولی، نو بیا ولې داسې کوې؟

زړهٔ نا زړهٔ وم، موټر ته ور وختم پهٔ لاره کې مو ډېرې کیسې وکړې، لهٔ کور څخه یوه کوڅه شاته یې کوزه کړم، مجید بیرته لاړهٔ.

وروسته لهٔ دې بهٔ مې هره ورځ لهٔ رخصتې څخه وروسته لهٔ مجید سره کتل.

د سرطان میاشت را ورسېده، زموږ د لومړي سمستر وروستۍ آزموینې وې، یوه ورځ مې امتحان ورکړ، لهٔ پوهنتون څخه راووتم د کور پهٔ طرف روانه وم، نور کله بهٔ پهٔ موټر کې تللم یا بهٔ هم مجید رسولم، پهٔ دې ورځ مې بازار کې خریداري کوله پهٔ یوه فرعي کوڅه پیاده روانه وم، ګورم د کوڅې پهٔ منځ کې یوه ډله هلکان ولاړ دي، یو یې ماته را مخته شو، زما دستکول یې راڅخه کش کړ، ما دستکول نه ورکاوهٔ، تر څو نور هلکان هم راغلل دستکول یې راڅخه واخیستهٔ، زهٔ یې ټیله کړم هلته ولویدم، پهٔ چیغو چیغو مې ژړل، کوڅه کې هېڅ څوک هم

نه و چې راسره مرسته وکړي، په دې وخت موټر راغی یو نفر ترې راښکته شو، ګورم چې مجید دی، مجید سمدلاسه پر هلکانو ورمنډه کړل، هلکانو چې مجید ولید نو دستکول هم ترې پاتې شو، ځانونه یې له صحنې څخه وباسل.

مجید له لاسه ونیولم موټر ته یې پورته کړم، اوبه یې راکړې، زه ډېره وېرېدلې وم، لومړی ځل له داسې پېښې سره مخ شوې وم.

مجید راته وکتل ویل یې مه ژاړه، چې زه ژوندی یم تاته هېڅ څوک هم زیان نه شي رسولی.

مجید وویل هې لېونی، په داسې کوڅو کې څوک ځانته نه ګرځي، بیا داسې غلطي و نه کړې، له دې وروسته دې هره ورځ زه پوهنتون ته وړم، تر هغه به درته منتظر یم ترڅو چې ته نه یې رخصت شوې.

له مجید څخه مې مننه وکړه.

مجید ویل بیا راڅخه مننه و نه کړې، دا زما وجیبه ده چې خپله مینه وساتم.

ومې خندل، مجید هم مسکی شو او وې ویل په خندا کې ډېره ښایسته ښکارې! زه یې تر کوره ورسولم، مجید بېرته لاړه.

د وعدې سره سم مجید هره ورځ همداسې کول، خو هېڅ څوک هم په دې راز نه و خبر.

اوس نو محصله وم پلار مې راته موبایل هم اخیستی و، ویل یې د پوهنتون په دوره کې موبایل او انټرنېټ ضرور دي.

ټوله شپه به ما او مجید یو له بل سره مسیجونه کول، ورځې او شپې مو په خوشحالی تېرېدلې.

سلګۍ همدومره پیغام راته پرېښی و، موبایل مې بند کړ، د مازدیګر د لمانځه وخت و لمونځ مې وکړ، مور مې د ماخوستن لپاره د خوړو تیاری نیوه، ما هم ورسره مرسته وکړه، مور مې ویل دا څو ورځې ډېره په موبایل کې مصروفه یې څه خبره ده؟ ومې ویل هېڅ یوه نجلۍ ده په امریکا کې اوسي، د هغې د ژوند تریخ داستان لیکم، هر وخت چې بشپړ شو، بیا به یې تاسو ته هم ووایم. مور مې وویل سمه ده، مور هم ورته منتظر یو.

وروسته له یوې اونۍ بیا د سلګۍ پیغام راغی.

له سلام او پوښتنې وروسته یې وویل زما صحي وضعیت هېڅ ښه نه دی، دا یوه اونۍ بیستر وم، د ژوند وروستۍ شپې او ورځې مې دي. کاش چې یو ځل مې خپل ګران زوی له نږدې وګورم! اوس لوی شوی هم دی، د مجید یو ګاونډي یې راته نوی تصویر لېږلی دی، زما سهراب ډېر ښایسته دی، هر څه یې پلار ته شوي دي، غټې سترګې، تور وېښتان او ښکلې څېره یې ټول مجید ته ورته دي.

سلګۍ راته د سهراب او مجید عکس را ولېږۀ.

ورته مې وویل: ډېر ښایسته دی لۀ نظره نه شي.

سلګۍ ویل مننه، آخر د چا زوی دی، پلار یې هم همداسې ښایسته دی.

سلګۍ ویل راځه چې کیسه را څخه نیمګړې پاتې نه شي:

پۀ وروستیو کې بۀ لۀ مجید سره پارک ته پۀ چکر هم تللم، آخیر نو زۀ هم زیاتي کابلۍ نجلۍ وم، ډېر ډار مې نه کېده.

مجید پۀ مکرویان چهار کې لۀ خپلې کورنۍ سره ژوند کاوو، د پلار او مور سره یې یو ځل د ماما د لور پۀ سر ورانه شوې وه، مجید لۀ هغې سره د وادۀ کولو څخه انکار کړی و، پلار او مور یې ورته ویلي و، چې هغه لا پۀ ماشومتوب کې ستا پۀ نوم شوې ده، کۀ وادۀ ورسره نه کوې؛ نو کور بۀ پرېږدې، مجید همداسې کړي و، ډېر وخت لۀ هغو سره نه اوسېده، د مور پۀ عذر او زاریو بیرته ورسره پخلا شوی و.

زما هم د پوهنتون دوره کرار کرار پای ته رسېدونکې وه، لۀ مجید سره مې هر وخت لیدل، مجید د پوهنتون پۀ څلور کلنه دوره کې زما ساتنه کوله، زما ساتنې او مینې ته یې کار ویلی و.

وروستی کال مو و، مونوګرافونه مو دفاع کړل، ښۀ و پۀ اول ځل مې د مونوګراف دفاع ومنل شوه.

یو څه وخت می فراغت ته پاتې و، وروستی آزموینې مو وې، لۀ پوهنتون څخه کور ته راغلم، ومې لیدل چې زمونږ کره میلمانۀ راغلي دي، لۀ مور څخه مې پوښتنه وکړه دا میلمانۀ څوک دي؟

ځواب یې راکړ: د پلار ملګری دې راغلی دی ورسره یې ښځه او لور هم دي.

مور مې ویل ورشه کالي بدل کړه، مخ او لاسونه دې پرېمینځه، بیرته راشه، لۀ هغوی سره ستړې مشې وکړه او میلمه پالنه یې وکړه.

یوه شیبه وروسته راغلم، لۀ میلمنو سره مې ستړې مشې وکړه کښیناستم، سمدلاسه نجلۍ وویل معرفت ښۀ دی چې وشي. زما نوم مسکا دی او دا مې مور ده حلیمه نومیږي، تا خو هسې هم پیژنم، مور دې راته ویل چې لور مې پوهنتون کې ده، سلګۍ نومیږي. مننه مې ترې وکړه.

بیا مسکا راڅخه وپښتل: سلګۍ درسونه مو څنګه دي.

.ښۀ دي، کۀ خدای کول زیاتي مې درسونه خلاصیږي.

.ښا ډېره ښه ده، دا خو نو بیا پۀ شیریني کې هم راغلې یې.

.زۀ دې پۀ خیر فارغه شم، شیریني خو وړه خبره ده.

.ښا نو درسونه خو دې هم خلاص شول، څنګه وادهٔ ته دې هم کوم تصمصیم نیولی کهٔ نهٔ؟

د مسکا داسې ناڅاپي پوښتنې، یو دم را ویښه کړم، مجید مې سترګو ته ودرېدهٔ، نږدې و چې ورته ووایم، د وادهٔ پهٔ اړه مې مخکې تصمیم نیولی دی، ښهٔ شو ځان مې کنټرول کړ.

ځواب مې ورکړ: ګورو بهٔ چې څهٔ کېږي.

مور مې راباندې غږ کړ، لورې ورشه چای بهٔ جوش شوی وي، میلمنو ته چای هم راوړې کهٔ یواځې کیسې ورسره کوې.

پهٔ دې سره مسکا او مور یې وخندل.

چای مې راوړ، پیالې مې ورته ډکې کړې، میوه دانې مې هم مخې ته ورته کېښوده، د چای څښلو څخه وروسته مسکا او مور یې ویل نور زیاتي موږ ځو، ناوخته دی، مور مې ډېر اصرار وکړ چې د غرمې ډوډۍ ته پاتې شي، خو هغوی ویل کور مو یواځې پرېښی دی.

وروسته لهٔ دې د مسکا او مور تګ را تګ یې زموږ کره زیات شو. ځینې وخت بهٔ مې مور ته ویل: ښهٔ د دمې او مجلس ځای یې پیدا کړی دی، بل ځای لکه چې نشته هره ورځ را خوشې وي، توبه توبه څومره خلاص خلک دي.

مور بهٔ مې ویل: غلې شه وا بهٔ یې وري، شرم دی.

★★★★★★★

د دوشنبې ورځ وه، وروستۍ آزموینه مو ورکړه، د ټولګي نماینده وویل، چې لهٔ آزموینې وروسته ټول صنف ته راشئ، د فراغت پهٔ باره کې سره خبرې کوو، همداسې مو وکړل، آخر فیصله دا شوه چې سبا نهٔ بله ورځ یعني د چهارشنبې پهٔ ورځ بهٔ زموږ د فراغت مراسم وي او د پوهنتون پهٔ تالار کې بهٔ فراغت غونډه نیسو.

کور ته راغلم پلار، مور، جمشید او خوشحال مخکې لهٔ مخکې زما پذیرایي ته ولاړ و، لهٔ ټولو سره ګلان وو، غاړې ته یې را واچول، ټولو مبارکي راکړه، د مور لهٔ سترګو مې د خوشحالۍ اوښکې روانې وې.

پلار مې وویل: لورې دا خو د ډالیو شروع ده، د فراغت د مراسمو پهٔ ورځ بهٔ درته سمې قیمتي ډالۍ اخلو.

پهٔ سبا ورځ مې پلار ښار ته لاړهٔ، ټولو ته یې ښکلې او قیمتي ډالۍ رانیولې وې، خوشحال خپله ډالۍ ترې واخیسته ویې ویل زهٔ یې سم ښایسته پاکټ کې بندوم، تاسو یې چې هر رقم ته ورته ډالۍ کوئ، پلار مې بهٔ خندا ورته وویل: هر څنګه چې ستا خوښه وي، خو ګوره زویه موږ هم پهٔ موډ پېږو.

سبا سهار وختي مور، پلار او ورونړو مې ځانونه آماده کړل، ما هم د فراغت جامې لا لهٔ کوره اغوستې وې، فراغت ته ډېره خوشحاله وم، خو خفه دې ته وم، چې مجید بهٔ راسره فراغت کې نه وي.

پوهنتون ته ورسېدو، د فراغت غونډه پیلېدونکې وه، موږ هم تالار ته ننوتو، ګورم چې مجید تر ما مخکې تالار ته تللی دی او شاته پهٔ یوهٔ کونج کې ناست دی، حیرانه پاتې شوم، چې دا څنګه راغلی او څنګه یې پهٔ دروازې کې بغیر لهٔ کارت څخه اجازه ورکړې ده.

خیر پهٔ هر حال غونډه پیل شوه، محصلینو، استادانو او ځینو والدینو ویناوې وکړې، د غونډې پهٔ پای کې د تصدیق پاڼو ویش پیل شو، ما ته مې پلار پهٔ خپلو لاسونه تصدیق پاڼه راکړه.

کور.ته راغلو، پلار مې هوټل ته دې دیرشو نفرو د ډوډۍ فرمایش ورکړی و، خپل خپلوان مو راغلي و، ټولو راته ښې ښایسته ډالۍ راوړې وې، ډېره یې ونارولم.

میلمانهٔ لاړل، مور او پلار مې د باندې پهٔ چمن کې ناست و. خوا ته یې ورغلم، ومې وویل موږ ټولګیوالو دا فیصله کړې ده، چې د فراغت پهٔ ورځ بهٔ باغ بابر ته ځو، نو کهٔ ستاسو اجازه وي، زهٔ بهٔ هم ورشم، وعده کووم، چې تر مازدیګره بیرته ځان رارسوم.

پلار مې وویل لاړه شه، خو پهٔ ځان دې پام کوه، کهٔ اړتیا وي خوشحال بهٔ هم درسره لاړ شي.

ومې نه نه یواځې تللی شم هلته مې ټولګیوالې هم شته.

لهٔ کوره راووتم، مجید ته مې زنګ وکړ، ویل یې لس دقیقې صبر شه.

پلار ته مې دروغ ویلي و، وجدان ته ملامته وم، پهٔ دې فکر کې وم کهٔ پلار مې راباندې پوی شي، نو تباه بهٔ شم، او باور بهٔ مې پاک لهٔ منځه لاړ شي.

موټر مې خواته ودرېدهٔ، مجید و، ویل یې راځه زما نازولې سلګۍ، موټر ته ورپورته شوم، یوهٔ رستورانت لاړو.

مجید وویل څهٔ خورو؟ ځواب مې ورکړ ډوډۍ ته مې زړهٔ نه کېږي اوس مو وخوړه، یواځې جوس بهٔ وڅښو، همداسې مو وکړل.

مجید جیب ته لاس کړ د سروزرو ګوتمهٔ یې را وباسله، ویل یې دا زما ډالۍ ده او کهٔ خدای کول زما او ستا د پیوند ګوتمه بهٔ هم همدغه وي.

زهٔ یو څهٔ خسته وم، ځکه چې پلار ته مې دروغ ویلي و، کهٔ خبر شي، نو توپان بهٔ راشي، مجید ته مې د خپلو دروغو کیسه وکړه، ویل یې دا هسې وهم دی، پلار بهٔ دې هېڅ خبر نه شي.

لږ ځنډ وروسته لهٔ رستورانته راووتو، مجید لهٔ کور نه یو څو قدمه لیرې کوزه کړم.

کور ته چې ننوتم ګورم چې مسکا او مور يې دي او ورسره يو ځوان هلک هم راغلی دی، په ونه جګ ځوان و، ويښتهٔ يې په منځ نيم کړی و، په لاس کې يې د ګلانو ګېډۍ هم وه.
مور مې وويل: ورشه لورې ګلان يې ستا لپاره راوړي دي، لهٔ ځان سره مې ويل دا نا اشنا هلک څوک دی، چې ماته يې ګلان راوړي، ګلان مې ترې را واخيستل.
د مسکا مور ويل اوس خو سلګۍ راغله، د احمد او سلګۍ د کوژدې مراسم بهٔ پيل کړو.
د ګلانو ګېډۍ مې لهٔ لاسه ولويده، ګلان دانه دانه شول، چيغې مې کړې زهٔ لهٔ احمد سره کوژده نه کووم، زهٔ احمد نه غواړم.
پلار مې وويل: لورې احمد ښهٔ تعليم يافته، خوش اخلاقه او ښايسته ځوان دی، کورنۍ يې هم درنده کورنۍ ده او تا هم درس خلاص کړ او پيغله يې نور بايد لهٔ يو چا سره پيوند وترې.
بيا مې وويل پلاره! زهٔ وادهٔ نه کووم، لهٔ ما سره خو بهٔ مو يو ځل مشوره کړې وه، دوی رخصت کړه، خير دی پلاره!
د مسکا مور را پاڅېده ويل يې تهٔ اوس د احمد پهٔ نوم شوې يې، شيريني مو هم ويشلې ده، اوس کهٔ ستا خوښه وي او کهٔ نه دا کوژده بهٔ کېږي.
سر راباندې وګرځېدهٔ، پهٔ سترګو مې تيارهٔ شوه، پهٔ ځمکه را پرېوتلم.
سترګې مې خلاصې کړې، مور مې سرته ولاړه وه، جوس يې پهٔ لاس کې و، و يې ويل: يې لورې اوس څنګه يې؟ ځواب مې ور نه کړ. مور مې جوس رانږدې کړ ويل يې دا وڅښه، د مور لاس مې ټيله کړ.
پهٔ ژړا مې ورته وويل: يو ځل خو بهٔ مو ماته ويلي و، ولې مو پهٔ خپل سر زما د نوي ژوند فيصله وکړه، زهٔ بهٔ څنګه لهٔ يو داسې کس سره ژوند تېروم چې هېڅ يې پېژنم هم نهٔ، زهٔ احمد نه غواړم، د ژوند تر پايه دا دردونه نه شم زغملی، مورې دا کوژده بېرته ختمه کړئ.
مور مې وويل: تا چې لهٔ مجيد سره دا اتهٔ کاله يارنه اچولې وه موږ دې خبر کړي و؟ زموږ عزت ته د پام کړی دی؟ تهٔ نه يې خبره چې زموږ پهٔ ټولنه کې دا څومره سپک کار دی، چې نجلۍ دې لهٔ بل چا سره اړيکه او مينه ولري؟
تا موږ بې عزته او بې ابرو کړو، نن ستا لهٔ تګ څخه وروسته د مجيد پلار او مور راغلي و، ويل يې ستاسو لور زموږ د زوی ژوند تباه کړی، لهٔ موږه يې بېل کړی دی، کوژدنه يې د پلار پهٔ کور ناسته ده، دا ټول ستاسو د لور لهٔ لاسه، ستاسو د مينې کيسه يې لهٔ پيل څخه راته وکړه.

زۀ زبون وهلې شوم، د خبرو توان را کې ورک شو، پۀ وجود کې مې سرې اوبو لاړې، یواځې دومره مې وویل: څۀ څۀ مجید!
.هو مجید.
.زۀ لۀ مجید سره اړیکه نه لرم، مور او پلار يې دروغ درته ویلي.
پلار مې موبایل را واخیسته، ویل یې دا عکسونه هم دروغ دي، د موبایل شیشې ته مې وکتل، پلار مې یو یو تصویر اړوي، ما چې لۀ مجید سره پۀ هر ځای کې کتلي و، د ټولو ځایونو تصویرونه و.
زنګ مې تک ژیړ شو، بې دمې شوم، پۀ وارخطا ډول مې ترې وپوښتل: دا دا تص تصویرونه مو لۀ کومه کړي دي.
پلار مې وویل: دا دې مجید کوژدنې رالیږلي دی.
.ومې ویل مجید کوژدنه نه لري.
.لري يې، مور يې خپل وریره پۀ ماشومتوب کې د مجید پۀ نوم کړې ده او هغه ستاسو پر اړیکه پوهه وه.
هغه ورځ دې پۀ یاد ده، چې پۀ کوڅه کې درڅخه لوچکانو دستکول اخیسته، هغه هم د مجید د کوژدنې پلان و.
ومې ویل: پلاره ما وبښئ، چې دا هر څۀ مې لۀ تاسو پټ کړي و، خو زۀ لۀ مجید سره مینه لرم، هغه لۀ لاسه نه شم ورکولای.
کړس شو پلار مې پۀ څپېړه ووهلم، ویې ویل: ستا لۀ لاسه زما ابرو او عزت لۀ خاورو سره خاورې شول، کۀ کلیوال خبر شي چې زما لور لۀ پردي هلک سره اړیکه لري، نو پۀ مړینې بۀ هم زۀ هلته شرمیږم، پۀ ژوندوني خو والله که چا ته سترګې هم ور پورته کړم، ښه شوه چې پۀ وخت خبر شوم، کنۀ نو تا بۀ نورې څۀ نخرې کړې وې. ما در باندې باور وکړ ښوونځي ته مې ولېږلې، ستا لپاره مې کلی پرېښوده، تر څو تۀ لۀ تعلیمه پاتې نه شې تا يې پۀ مقابل کې راته شرم پرېښود.
د پلار رنګ مې لۀ ډېرې غوسې تک سور شوی و، زۀ غلې وم څۀ مې نه شوای ویلی، دا زما د ژوند د تباهۍ پیل و، راز مې افشا شو، مجید مې لۀ لاسه ورکاوۀ، یو داسې هلک ته ور ودېدلم، چې هېڅ مینه مې ورسره نه لرله.
د دروازې درز شو، پلار مې پۀ غوسه لۀ کوټې ووت، مور مې هم پۀ ژړا لۀ کوټې ووتله.
چټ ته مې کتل، موبایل ته زنګ راغی، مجید و، موبایل مې اوکې کړ، د خبرو توان مې نه درلود، مجید هلو هلو نارې وهلې، پۀ ژړا مې ورته وویل: مجیده! لاړو ژوند مو تباه شو!
.څۀ، ولې څۀ شوي؟

مجید ته مې ټوله کیسه وکړه.

مجید وویل: دا نو زما او ستا د والدینو ظلم دی، موږ ولې باید لهٔ داسې چا سره پیوند وتړو، چې هېڅ مینه ورسره نه لرو. اوس نو مجبور یو چې یوه حل لاره پیدا کړو. سلګۍ تا زهٔ پهٔ هېڅ قیمت هم لهٔ لاسه نه شم ورکولی، هېڅ دود او دستور زما او ستا د مینې مخه نه شي نیولی، ضرور بهٔ سره یو ځای کېږو.

مجید بیا وویل: تذکره دې شته؟

ځواب مې ورکړ: هو تذکره لرم، خو څهٔ پرې کوې؟

.سبا ته لس بجې چې پهٔ هر ډول وي تذکره دې راواخله او لهٔ کوره راووځه، هلته درته کیسه کووم.

.سمه ده.

.ښه شپه ولرې، زما خوږې سلګۍ.

.تهٔ هم.

شپه تېره شوه، د سهار ناشته تیاره وه، زهٔ هم ورغلم، پر څوکۍ کښیناستم، یوهٔ هم خبرې نه کولې، د پلار خندا، د مور کیسې او د ورونو شوخي مې بیخي مړې شوې وې.

پلار مې بې لهٔ دې چې څهٔ ووایي لهٔ کوره د خپل کار پهٔ طرف ووتهٔ.

جمشید او خوشحال هم د کورس کتابونه او کتابچې لهٔ ځان سره واخیستې لهٔ کوره ووتل.

مور مې لوښي ټول کړل، لهٔ ماسره یې حتا خبرې هم نه کولې.

زهٔ خپلې کوټې ته لاړم، د مجید او خپل ژوند د راتونکي پهٔ سوچونو کې وم ویل مې چې څهٔ بهٔ پېښ شي. تر څو مې موبایل ته زنګ راغی مجید و، لهٔ سلام پرته یې وویل: هله نو بیړه کوه زهٔ ستاسو لهٔ کوره د شمال خوا تهٔ پارک سره ولاړ یم.

پرته لهٔ ځنډه مې تذکره او خپل دستکول را واخیستل، ومې کتل مور مې وچه ډوډۍ پخوله، پهٔ بیړه لهٔ کوره ووتم.

پارک زموږ لهٔ کور سره نږدې و، دوه دقیقې وروسته لهٔ مجید سره وم.

مجید لهٔ نورو خبرو تېر شو سمدلاسه مهمې خبرې ته راغی.

ویل یې تذکره دې راوړې؟

.هو، راوړې مې ده.

ترې ومې پوښتل پهٔ تذکره څهٔ کوې؟

.پاسپورت جوړوم درته.

.څۀ، پاسپورت؟

.هو، ځو امريکا ته.

څۀ، امريکا ته ځو، څنګه ځو؟

يو ملګرى مې پۀ امريکا کې دى، د شپې مې ورسره خبرې وکړې، هغه را ته غوښتنليک ليږي.

.خو.

.خو مو نشته، چې هر څنګه وي موږ بايد لۀ دې ځايه لاړ شو، تا احمد ته نه شم پرېښودلی. تۀ غم مه کوه زۀ ترتيب برابروم، تۀ تر هغۀ لږ پام کوه، څوک دربانديې پوى نه شي.

او هو، دا موبايل هم درسره واخله، پټ يې وساته.

و مې ويل پۀ دې څۀ وکړم؟

مجيد وويل: شايد پلار دې موبايل در څخه واخلي، ځکه هغوى پوهيږي چې مونږ سره خبرې کوو، وايي بۀ هسې نۀ کومه بله پيښه را منځته شي.

ومې ويل دا مو پر ځاى فکر کړى دى.

مجيد وويل: زۀ سخت وږى شوى يم، تۀ موټر کې کښينه زۀ برګر راوړم، برګر مو وخوړل، پۀ بيړه بيرته کور ته راغلم.

څنګه چې د کور انګړ ته ننوتم، پۀ پلار مې سترګې ولږېدې.

ومې ويل پلار خو مې کار ته تللى و دلته لۀ کومه شو.

پلار مې را غبږ کړل: بيا لکه چې د عاشق ديدن ته دې ورغلې وې؟

ډېره وارخطا شوم، خبره مې جوړه کړه، نه نه زړۀ مې تنګ و د کور شاته پارک ته لاړه وم، تر څو خستګي مې رفع شي.

پلار مې راغى سمدلاسه يې وويل موبايل دې راکه!

موبايل مې لۀ دستکول څخه را واخيسته، پلار ته مې ورکړ، بې لۀ کومې خبرې پورته يې کړ پر ځمکه يې وويشته، موبايل دانه دانه شو. پلار مې سخت غوسه ښکارېدۀ. ويې ويل نور تۀ دلته بندي شوې، لۀ کوره نوره نه شې وتلى، اوس ورکه شه رنګ دې را څخه ورک کړه!

د پلار دې حالت ته مې چې وکتل، ډېر وارخطا شوم، په بېړه یې له مخې لیرې شوم، خپلې کوټې ته لاړم، ښه ډېر مې وژړل.

موبایل مې را واخیسته، مجید ته مې زنګ وکړ، د پلار کیسه مې ورته وکړه، مجید ډاډګیرنه راکړه، ویل یې خیر دی مه ژاړه ته چې ژاړې ماته هم ژړا راځي، فقط یو څو شپې نور صبر وکړه، زیاتي به له دې مصیبتونو تل تر تله خلاص شو.

★★★★★

ورځې او شپې تېرېدلې، د مجید سره به مې پټې پټې خبرې کولې، له کور نه د باندې وتل مې ډېر سخت و، پلار مې تر ډېر جدي نظارت لاندې نیولې وم.

یوه شپه مجید زنګ راته وکړ د شپې لس بجې وې، ډېر خوشحاله مالومیدهٔ، ویل یې د پاسپورټ کار دې خلاص شو، یوازې اوس غوښتنلیک پاتې دی، ملګري سره مې خبرې وکړې ویل یې نږدې ورځو کې به د ویزې او غوښتنلیک کار هم خلاص شي.

ما ورته وویل: یعنې زهٔ او تهٔ بهٔ سره یو ځای شو؟

.هو نو، دا خو واضح خبره ده.

.مجیده! زهٔ خو ډېره ویرېږم، زموږ پلان شنډ نه شي.

.بېغمه اوسه الله ج تل د بې وسه خلکو ملتیا کوي.

.ښا نو موږ بهٔ وروسته له دې خوشحال ژوند ولرو کهٔ نهٔ؟

.هې لېونۍ تهٔ څهٔ وایې، ولې بهٔ نه یو خوشحاله؟

.ځکه چې زموږ د دواړو کورنۍ دا اړیکه نه مني.

.کهٔ هغوی رضا کوو، بیا نو زموږ هیلې او مینه پهٔ اوبو لاهو کېږي او زهٔ هېڅکله نه غواړم چې داسې وشي.

.ومې ویل، الله ج دې زما او ستا مدد وکړي.

.آمین

بیا مجید وویل: سلګۍ تهٔ زما ژوند یې، تا پهٔ هېڅ قیمت لهٔ لاسه نه ورکوم، زهٔ او تهٔ بهٔ پهٔ امریکا کې ښهٔ ژوند ولرو، ماشومان بهٔ ولرو، ښکلې کورنۍ بهٔ مو وي.

.و مې خندل، تهٔ خو سم خیال پلو وهې.

.خیال پلو نه وهم، هر څهٔ به درته رښتیا ثابت کړم، فقط پهٔ دې سفر کې ستا ملتیا غواړم.

.زۀ د خپلې مينې لپاره هرې قرباني ته تياره يم، زۀ تا يواځې نه پرېږدم، مينه درسره لرم مينه!!!

.زۀ هم درسره مينه لرم.

پۀ دې وخت کې د دروازې کړپ شو، پلار مې و، مستقيم راغی موبايل يې را نه واخيست، لۀ کړکۍ څخه يې د باندې واچاوو، پلار مې هېڅ هم و نه ويل بيرته لۀ کوټې ووتۀ. دا دوهم موبايل شو چې پلار مې راڅخه مات کړ. د مجيد سره د رابطې نيولو وروستۍ لاره هم راباندې ودرېده، پۀ اورسی کې کښيناستم، د باندې مې کتل، پام مې غلتوو، خو نۀ کېدۀ، لۀ سترګو مې همداسې اوښکې روانې وې، بيرته راغلم، پۀ کټ کې څملاستم لۀ ځان سره مې ويل: ولې زموږ د ټولنې خلک مينې ته د ګناه او مَين ته د ګنهکار پۀ سترګه ګوري؟ دا خلک بۀ څۀ وخت د مَينانو د زړونو درک کوي؟ تر کومه بۀ عاشقان بې اوره سوځي؟ تر کومه بۀ زموږ پۀ فرهنګ کې مينې ته اجازه نه وي؟ تر کومه بۀ عاشقان بد نام وي؟ تر کومه بۀ پلرونه او ميندې د عاشقان آزار اخلي؟

دا پوښتنې مې ذهن کې ګردې وردې تاوېدلې، تر څو چې سبا شو، د سهار لمونځ مې وکړ، لاسونه مې د الله ج پۀ دربار کې لپه کړل ومې يا الله ج د مجيد د جدايي غم راباندې و مه وينې، تۀ مو ملتيا وکړې، بغير لۀ مجيد ژوند نه شم کولای.

★★★★★

دوه ورځې مې هېڅ هم و نه خوړل، لۀ ډېرې کمزورۍ مې فشار بيخي ټيټ شوی و، مازديګر مهال و، چې سر راباندې وګرځېدۀ ولوېدم.

يو وخت مې سترګې لوڅې کړې سيروم راته چالان و، ډاکټرې ويل د سلګۍ فشار بيخي ټيټ دی، دا ټوله د کمزوري وجه ده.

پلار او مور مې هم ولاړ و، لۀ څېرو يې ښکارېدل چې خفه دي.

ډاکټر درمل راکړل ويل يې منظم خوراک کوه، کنۀ نورې ناروغۍ بۀ درته پيدا شي او درمل دې هم پۀ خپل وخت خوره.

مور مې لۀ لاسه ونيولم، لۀ روغتون څخه راووتو، پلار مې موټر چالان کړ، سيده د کور پۀ طرف يې حرکت وکړ، يو شيبه وروسته خوشحال د کور دروازه را خلاصه کړه.

لۀ موټره ښکته شوم، ګورم چې احمد او مور يې هم زموږ کره راغلي دي، هغوی را مخې ته شول زۀ مې مور لۀ لاس څخه نيولې وم، احمد راغی لۀ بل لاس څخه يې ونيولم، ژر مې لاس ترې را کش کړ ومې ويل: پام چې بيا ما ته لاس را نه وړې.

مور مې کوټې ته بوتلم د وتلو په وخت کې يې ويل لورې په ځان دې پام کوه.

ماښام احمد او مور يې بېرته لاړل.

پلار مې راغی ويې ويل لورې په ځان دې ظلم مه کوه، پرېږده مجيد هېر کړه، ته اوس کوژدن لرې، مور پښتانه يو، دا کارونه چې ته يې کوې د يو پلار ابرو او عزت له منځه وړي، احمد ومنه، دا رشته اوس ټينګه شوې ده، په هېڅ قيمت هم له منځه نه شي تللی.

ومې ويل پلاره! ستا عزت او ابرو ما ته ډېره مهمه ده، هيڅکله به داسې کار و نه کړم چې ستا شمله ټيټه شي، تا ماته ډېر ناز راکړ، تعليم دې راباندې وکړ، د ژوند ټولې اسانتياوې دې راته برابرې کړې، زه به په ټول عمر ستا د مينې پوروړې يم؛ خو پلاره خير دی ما احمد ته مه ورکوه، زه مجيد نه شم هېرولی، خير دی که خلک مينې ته په سپکه ګوري، ته مې درک کړه پلاره! مجيد هم زما سره بې حده مينه لري، مور مه سره بيلوئ، پرېږدئ چې خپلو هيلو ته ورسيږو، زمور په حق کې دا ظلم مه کوئ.

پلار مې راته وويل وه نجلۍ! ته لېونۍ شوې يې، دا خلک به څه وايي چې د پلاني لور احمد پرېښودۀ له بل چا سره يې وادۀ وکړ، خلکو ته به څه وايم، په کومو سترګو به ورسره مخ کېږم. مجيد دې له خياله وباسه، زما ورستی تصميم دا دی چې ته به له احمد سره وادۀ کوې او هغه هم په دې نيږدې ورځو کې.

نور مې پلار له کوټې څخه ووتۀ.

زۀ سلګيو ونيولم، د پلار خبرو مې نوره هم نا هيلې کړم، لږ ځنډ وروسته مې مور راغله، سوپ يې راته تيار کړی و، زرۀ ته مې نه کېدۀ، د زړه په زور مې دوه کاشوغې سوپ وخوړ.

نيمه شپه وه، زۀ په سوچونو کې ډوبه وم، د پلار خبرو مې په غوږونو کې انګازې کولې، هېڅ خوب نه راتۀ جګه شوم اودس مې وکړ، ورپسې مې دوه کعته لمونځ وکړ، خدای ته مې د بې وسۍ لاسونه لپه کړل: اې لويه خدايه ته قادر ذات يې، ته مې نوره له دې ستونزو خلاصه کړه، ياالله د مجيد جدايي غم مه راباندې ګورې، ته مو يو بل ته ورسوې، ياالله که د قسمت خبره وي ته مې قسمت راته ښۀ کړې. ما دعا کوله چې د اورسی کړنګ مې وواريدۀ اوچته را پورته شوم، له کړکۍ نه مې لاندې وکتل، په کوڅه کې رڼا وه، ګورم چې مجيد د يوې ونې لاندې پټ ولاړ دی، سخته وډاره شوم، له ځان سره مې ويل که پلار مې دا صحنه ووينې نو د دواړو به د ژوند ورستۍ شپه وي. د لاس په اشاره يې زۀ پوهه کړم، چې ښکته راشه.

کرار مې د خپلې کوټې دروازه خلاصه کړه، يوې خوا او بلې خوا ته مې وکتل څوک نه و، په آرامه لومړي منزل ته راښکته شوم، هلته هم څوک نه و، د حويلۍ څراغ بل و، په حويلۍ کې سپينه رڼا وه، زه لکه د نيمې شپې غل کرار کرار د دروازې خواته ورغلم.

دروازه مې خلاصه کړه، خوشحال راباندې غږ وکړ چېرته ځې؟

ټول ځان مې ورپېږدېدۀ، ساه را کې ورکه شوه.

په بنده بنده ژبه مې وويل: ززز‌ه زه.

خوشحال وويل: مجيد راغلی کنه؟

له ماسره ځواب نه و.

خوشحال بيا وويل: له ما نه يې مه پټوه.

.خو خو ته څه خبر شوې؟

.کله يې چې ستا کړکۍ په تېره وويشته زه په بام وم.

.خير دی خوشحاله، مه مې رسوا کوه چا ته حال و نه وايې.

.ټول خبروم.

.په ژړا مې وويل، بيا نو سبا ته زما د جنازې تياری هم ونيسه.

.هې زما نازولې خورکۍ، ټول خبروم، خو هغه وخت چې ته او مجيد امريکا ته ورسېږئ.

بيخي پوهه نه شوم، چې خوشحال څه وايي.

خوشحال وويل: څه ورشه مجيد وګوره، زه دلته يمه، که څوک ويښ شول زما به ورته پام وي؛ خو پام چې بغير له خدای په امانی لاړه نه شې.

زه حيرانه پاتې شؤم، چې دا خوشحال څنګه داسې خبرې کوې، کوم چل خو به يې نه وي جوړ کړی.

په بنده ژبه مې وويل: ته رښتيا وايې.

خوشحال وويل: هو، وروسته درته کيسه کووم.

ډېره خوشحاله شؤم، ځکه چې په دې لويه نړۍ کې يو کس خو پيدا شو چې مور يې درک کړي و.

خوشحال په عمر کم و، خو ډېر هوښيار او زړور و، له جمشيد څخه کشر و، خو خبرې يې په ټول کور کې چلېدې، داسې و لکه د کورنۍ مشر چې وي، خوشحال زمور د کورنۍ د ملا تير و.

لهٔ کوره ووتم، د مجید موټر ته مې ځان ور ورساوهٔ، موټر ته ور وختم ټولې کیسې مې ورته وکړې، پلار څنګه راڅخه موبایل واخیسته، څنګه ډاکټر ته لاړم او څهٔ حالت مې درلود.
مجید وویل: زهٔ لهٔ دې ټولو کیسو خبر شوم.
.نو تهٔ څنګه خبر شوې؟
.خوشحال ټولې کیسې راته وکړې.
.تهٔ لهٔ خوشحال سره پېژنې؟
.هو، لهٔ کومه مې چې لهٔ تا سره اړیکه پرې شوې وه، دلته بهٔ پټ پټ راتللم، یوه ورځ خوشحال ولیدم، چې راغی لومړی پهٔ قهر و، آخر مې ورته وویل عذر درته کووم خوشحاله! زما خبرې یو ځل د زړهٔ پهٔ غوږونو واوره، بیا دې چې هر څنګه خوښه وي همغسې وکړه، خوشحال ته مې آن د ښوونځي لهٔ وخته تر اوسه چې څهٔ تېر شوي و ټوله کیسه مې ورته وکړه، خپل ټول عواطف مې زما او ستا د مینې پهٔ باره کې ورته بیان کړل خوشحال هم راته غوږ و، پهٔ آخر کې یې وویل: مینه د انسان پهٔ خپل واک کې نه ده، یو ناڅاپه بې لهٔ ارادې رامنځته کېږي، د مینې ډېر کتابونه مې لوستي، عاشقان هېڅ ملامت نه دي، مینه تصادفي رامنځته کیږي هو، پاکه مینه، د نفس د غوښتنو پر بنیاد ولاړه مینه نهٔ.
بیا یې وویل: زهٔ لهٔ تاسو سره د رښتونې او پاکې مینې پهٔ دې سفر کې ملګری یم، هېڅ مرسته بهٔ در څخه دریغ نه کړم.
خوشحال ته مې ټینګه غېږه ورکړه، د منې لپاره مې هېڅ الفاظ نه لرل. یواځینی کس خوشحال و چې زموږ مینه یې پهٔ واقعي ډول سره درک کړه.
اوس چې زهٔ دلته لهٔ تاسره یم دا د خوشحال برکت دی، کنهٔ نو اوس بهٔ پهٔ زندان کې وم.
.څهٔ، زندان؟
.هو، زندان. زما او ستا پلار پلان جوړ کړی وو، چې مجید بهٔ دلته نیسو او پولیسو ته بهٔ زنګ کوو چې غل مو نیولی دی.
زما پلار بهٔ زهٔ پهٔ یو شرط لهٔ زندانه ایستلم، چې د ماما لهٔ لور سره مې وادهٔ وکړم او لهٔ هغې سره امریکا ته لاړ شم؛ خو ښهٔ شو چې خوشحال هم لهٔ دوی سره ناست و، زهٔ یې لهٔ ټول پلان څخه خبر کړم.
.خوشحال خو ماته هېڅ هم و نه ویل!

.شاید موقع پهٔ لاس نه وي ورغلې، ما ورسره خبرې کړې وې چې نن شپه زهٔ درځم او سلګۍ بیایم؛ نو ځکه خوشحال تر اوسه ویښ دی.

مجید بیا وویل اوس نو باید حرکت وکړو.

.چېرته؟

.ځو امریکا ته، د هر څهٔ کار خلاص شوی دی، ویزه هم راغلې او ټیکټونه مې هم تیار کړي دي، د پیسو غم هم مه کوه، هر څهٔ مې آماده کړي دي، لومړی دوبۍ ته ځو بیا لهٔ هغهٔ ځایه مستقیم امریکا ته ځو.

خپل موټر مې هم خرڅ کړی دی، دا موټر مې یوائې د نن شپې لپاره ترې راوستی دی، سبا سهار یې بیرته ورته تسلیمؤم.

ومې ویل مور او پلار بهٔ مې ډېر خفه شي، زما لهٔ امله بهٔ بدنام شي، زهٔ خو ډېره وېرېږم.

.هېڅ بهٔ هم نه کېږي، زهٔ درسره یم، مور، باید داسې وکړو بله لاره نه ده راپاتې.

.سمه ده زهٔ یو ځل کور ته ځم، خپلې جامې او نور اړین توکي را اخلم او لهٔ خوشحال سره بهٔ خدای پهٔ اماني هم وکړم.

.کوشش وکړه چې ژر اماده شې، هسې نهٔ چې څوک راباندې خبر شي.

.سمه ده ژر راځم.

لهٔ موټر څخه را ښکته شوم، د کور دروازه مې پهٔ ورو خلاصه کړه، خوشحال لا همغسې پهٔ حویلۍ کې ولاړ و، ویل یې څهٔ وشول.

ځواب مې ورکړ: مور، نور حرکت کوو.

خپلې کوټې ته لاړم ضروري شیان مې ټول پهٔ بکس کې واچول، د کورنۍ یو تصویر زما پهٔ کوټه کې و، هغه مې هم بکس ته ور واچاوهٔ.

قلم او کتابچه مې راواخیستل، پلار ته مې لیک ولیکه.

زما ګرانه پلار جانه!

ما وبښه، زهٔ پوهېږم چې تهٔ بهٔ زما پهٔ دې کار باندې ډېر پهٔ غوسه شې، خو مجبوره وم چې داسې مې کړي وای. زهٔ پرته لهٔ مجیده لهٔ بل چا سره ژوند نه شم کولای، مجید مې لکه روح داسې دی، زهٔ لهٔ مجید سره بې حده مینه لرم.

هو دا خبره باید هېره نه کړم چې تر هر چا ته ډېر ارزښت راته لرې، ستا عزت، ابرو او وقار ماته ډېر ارزښت لري، ما هېڅکله نه غوښتل چې ستا ابرو ته دې صدمه ورسیږي، بار بار مې تاسو ته وویل چې پلار جانه! زهٔ احمد نه غواړم، ما پرېږدئ چې لهٔ مجید سره ژوند کولو ته ادامه ورکړم، خو تاسو هېڅ حاضر نه شولی چې زما دا خبره ومنئ.

زهٔ دا کار د دې لپاره نه کؤم چې لهٔ تاسو انتقام واخلم، بلکې د خپلې مینې لپاره دا کار کووم، مجید زما لپاره لهٔ هر څهٔ تېر شو، نو پهٔ بدل کې یې زهٔ هم مجبوره شؤم، چې دا قرباني ور کړم او کهٔ زهٔ دلته پاتې کېږم نو د درېیو کسانو زما، مجید او احمد ژوند بهٔ لکه شاړه دښته داسې شي، مجید پرته لهٔ ما ژوند نه شي کولای، ضرور بهٔ ځان وژنه کوي، د مجید د ځان وژنې سره سم بهٔ زما زړه لهٔ ډېره درده وچوي او احمد بهٔ هم پهٔ کینه او نفرت کې ژوند کوي.

ما وبښئ پلاره!!!

ستاسو نازولې لور سلګۍ.

پلار ته لیکلی لیک مې پهٔ پاکټ کې بند کړ، بله پاڼه مې را واخیسته، خپلې مور ته مې هم لیک ولیکهٔ:

مور جانې!

زهٔ ستا یوه لور وم، ماته مو ډېره مینه راکړه، پهٔ پوره مینه مو زما پالنه او روزنه وکړه، ما ته مو د ژوند اصول را زده کړل، هېڅ ستونزو ته دې ورنه کړم، ماته مو د مور حقیقي مینه راکړه.

مور جانې! زهٔ در څخه ځم، خو ټول عمر بهٔ زما پهٔ زړهٔ کې ځای لرې، ستا تصویر مې راسره اخیستی دی، زهٔ بهٔ مو پهٔ تصویر مینه ماتوم.

ما وبښه مورجانې! ستاسو روزنه کې کمی نه و، خو کاش چې زړهٔ مې پهٔ خپل واک کې وای، نو پهٔ مجید بهٔ نه مینېدلم. مورې اوس مجید زما د ژوند یوه برخه ده، نه یې شم هېرولی، ما وبښئ.

زما لهٔ تللو وروسته بهٔ جمشید او خوشحال درسره وي، تهٔ بهٔ یواځې پاتې نه شې او هو یوه هیله در څخه کؤم چې جمشید او خوشحال ته پهٔ خپله خوښه د وادهٔ کولو واک ورکوئ.

وسلام

مورجانې! مینه درسره لرم

ستاسو نازولې لور سلګۍ

د ليک ليکلو پر مهال مې لۀ سترګو اوښکې توېې شوې، کاغذ لوند خوشت شو. دا ليک مې هم پاکټ کې بند کړ دواړه ليکونه مې د مور د کوټې د دروازې مخې ته کېښودل.

بکس مې را واخيسته، غلې غلې پۀ زينو کې ښکته راکوزه شوم، حويلۍ کې خوشحال ولاړ و، بکس هغۀ راڅخه واخيستۀ موټر ته يې ويوړ، زۀ چې لۀ کوره وتلم پښې را پسې درندې شوې، هېڅ مې زړۀ نه کېدۀ چې پلار او مور مې پرېږدم، بس مجبوري بد شی دی، کور ته مې وکتل د ټولو پۀ کوټو کې څراغونه مړۀ و، يواځې پۀ انګړ کې رڼا وه، زما سترګې لۀ اوښکو ډکې وې، پۀ زوره مې قدمونه اوچت کړل لۀ حويلۍ څخه ووتلم.

موټر ته ورغلم، پۀ زړۀ کې مې ډېرې خبرې وې، خو ژبې راسره ياری نه کوله، چې خپل احساس خوشحال ته بيان کړم. همداسې مې کله کور ته کله خوشحال ته کتل، لۀ سترګو مې اوښکې روانې وې، خوشحال مې خواته راغی زما اوښکې را پاکې کړې، ويې ويل: خورې زۀ ستا پۀ پاکې مينې باور لرم، مجيد ښۀ پاک مسلمان هلک دی، ډاډه يم چې تا به هېڅ ځای کې هم يواځې نه پرېږدي.

ما همداسې ژړل خوشحال ويل، بس که نو مه ژاړه، نور ستا د خنداګانو ورځې پيل کېدونکې دي، لۀ دې وروسته بۀ تۀ د مجيد پۀ خوا کې خوشحاله ژوند ولرې او زۀ بۀ دې هر وخت پۀ ټيليفون پوښتنه کوم او احوال بۀ مو اخلم.

و می ويل سمده ژمنه ده، نوره نه ژاړم؛ خو لۀ ما بۀ ګرکه نه کوې.

.لۀ تا بۀ ولې ګرکه کوم، تۀ خو زموږ نازولې يې، ټول عمر بۀ تۀ زموږ پۀ زړۀ کې يې.

له خوشحال سره مې خدای پۀ اماني وکړه، کله چې موټر ته وختلم، خوشحال ته مې پام شو، سترګې يې لۀ اوښکو ډکې وې، زما ژړا نوره هم زياته شوه، د موټر دروازه مې را بنده کړه.

زما دا هيله او اميد چې د پلار لۀ کوره بۀ لکه نورې نجونې د ناوې پۀ جامو کې وځم، هېڅکله هم پوره نه شوه. قسمت مې زۀ لکه د نيمې شپې غل پۀ توره تيارۀ کې د پلار لۀ کوره را و ايستلم، ډېر مې زړۀ ډک و، هېڅ مې هم لۀ وسه نه و پوره.

مجيد لۀ خوشحال سره پۀ خبرو لګيا و، ما مې د پلار کوټې ته کتل چې څۀ وخت بۀ ګرکۍ راخلاصوي او راته بۀ وايي چې لورې صبر شه لۀ مجيد سره د ناوې پۀ جامو کې ووځه.

مجيد لۀ خوشحال څخه خدای پۀ امانی را واخيسته، موټر ته را وختوت، موټر يې چالان کړ، خوشحال لاس راته وښوراوۀ، خو زما لاسونو کې دومره دمه نه وه، چې خوشحال ته لاس وښورم.

موټر حرکت وکړ، همداسې مې خپل کور او خوشحال ته کتل، شیبه وروسته خوشحال او کور مې له سترګو پناه شول، سلګیو ونیولم، مجید هم یواځې لارې ته پام کاوو، نور یې هېڅ هم نه ویل.

د کابل ټول ښار سپینو څراغونو روښانه کړی و، د شپې وروستۍ برخه وه، خو لا هم خلک ګرځېدل، اکثره هټۍ خلاصې وې، یو نیم ځای پولیس هم ولاړ و، نیم ساعت وروسته میدان هوایي ته ورسېدو.

مجید موټر ودراوه، ویې ویل: خوشحال ته به زنګ وکړم چې مور میدان هوایي ته ورسېدو.

څه مې ورته و نه ویل.

مجید موبایل را واخیسته، خوشحال ته یې زنګ وکړ، خو زنګ ته یې ځواب ور نه کړ.

مجید وویل: ځواب نه ورکوي، شاید ویده شوی وي.

د هو په بڼه مې ورته سر وښوراوو.

مجید وویل: سلګۍ اندیښنه مه کوه، زه درسره یم، ویره دې له زړه وباسه، نور ته زما شوې، هیڅوک ته به هم اجازه ور نه کړم چې تا ته تکلیف ورسوي.

ور ته مې وویل: پوهېږم چې ته زما لپاره هرې قربانۍ ته تیار یې، خو پلار او مور ته مې خفه یم، هغوی به له ما څخه کرکه کوي، هغوی به هېڅکله هم ما و نه بښي.

د سهار اذان وشو، د کابل هوایي ډګر سره نږدې جومات و، مجید وویل راځه جومات ته لاړ شو.

جومات ته ور د ننه شوو، یوازې یو په عمر پوخ ملا ناست و، سپین پټکی یې پر سر و، ګڼه ږیره یې درلوده، په لاس کې یې تسبیح نیولې وي، ژر ژر یې اړولې.

مجید سلا ور واچاوه.

ملاصاحب سلام وعلیک کړ، بیا یې وویل وروره دلته خوا کې ښځو لپاره ځانګړی ځای دی، نو ښه دا ده چې دا خور هلته بوځې.

مجید ورته وویل: سمه ده، خو زه درسره لږ کار لرم، مجید د ملاصاحب پر لور قدمونه ور واخیستل. تر ډېره ورسره ناست و، د سهار د لمانځه وخت هم را نږدې کېدونکی و، دوه تنه نور سپین ږیري هم جومات ته راغلل.

مجید ماته اشاره وکړه، ورغلم.

مجید وویل: سلګۍ! نور نو انتظار پای ته رسېدلی دی، زه او ته به نکاح وتړو، له ملاصاحب سره مې خبرې وکړېځ، ټوله کیسه مې ورته وکړه، ملا صاحب هم ومنله.

زۀ پۀ چورت کې لاړم، لکه خوب چې ګورم، زما او د مجید نکاح راته بیخي بل ډول احساس راکړ، نه پوهېدم چې ولې، خو لۀ سترګو مې مړې مړې اوښکې روانې وې.

ملا صاحب را څخه وپوښتل: تۀ خو بۀ يې پۀ زوره دې کار ته نه يې مجبوره کړې؟

ومې ویل: نه، زۀ پۀ رضا لۀ مجید سره نکاح کؤم.

بیا ملاصاحب وویل: ورشه هلته د باندې ښي لاس ته د ښځینه و ځای ده، هلته بۀ اودس او لمونځ وکړې، تر څو بۀ موږ هم لمنځونه وکړو، وروسته لۀ هغۀ بۀ د نکاح مراسم شروع کړو.

ما همداسې وکړل.

مجید را غږ کړل، ویل یې راځه چې ملاصاحب هم بیا ځي د نکاح مراسم بۀ پیل کړو.

د ملاصاحب خواته ورغلو، دوه تنه لمونځ کوونکي یې هم د شاهدي لپاره را ستانۀ کړي و، ملاصاحب د نکاح خطبه ولوستله، ایجاب او قبول وشو، نور نو زما او د مجید پیوند سره وتړل شو.

ملاصاحب لۀ خپلې الماری څخه، چاکلیټ راواخیستل، پۀ موږ یې وویشل.

لۀ جوماته را ووتو ستورو خپل ځای د لمر رڼا ته پرېښی و، لویدیځ طرف ته د پغمان پر غرونو د لمر وړانګې پرتې وې، منی و، د کابل هوا هم سړه شوې وه.

مجید د موټر دروازې خلاصې کړې، موټر ته ورپورته شوو، مجید موټر چالان کړ، ویل یې سارۀ دي بخاری بۀ چالانه کړو.

مجید وویل: هغه ګوتمۍ مې چې د فراغت پۀ ورځ درته ډالۍ کړې وه شته درسره؟

د هو پۀ بڼه مې سر ورته وښوراوۀ، ګوتمۍ مې لۀ دستکول څخه را واخیسته، مجید ته مې ورکړه، هغۀ ګوتمۍ زما پۀ ګوته کړه.

مجید بیا وویل: سلګۍ اوس مې زړۀ ډاډه شو، زما نیمګړی وجود اوس مکمل شو، هیله مې پوره شوه اوس بۀ د راتلونکي پۀ اړه فکر کوو.

ما سر ښکته اچولی و، هېڅ مې هم نه ویل، دا نو داسې حالت و چې لۀ مجید څخه شرمېدلم، زما حیا راته دا اجازه نه راکوله، چې زۀ هم د مجید پۀ شان خپل احساسات بیان کړم. کنۀ پۀ زړۀ کې ډېره خوشحاله وم، دا څو کاله دې شیبې ته پۀ تمه وم بالاخره مې مجید سره پیوند وتړل شو، نور مې نو وېره او ډار لۀ زړۀ څخه باسلې و، هو یواځې پلار او مور ته مې پۀ اندیښنه کې وم.

د سهار شپږ نيمې بجې شوې، چې د مجيد ملګرى راغى، مجيد ورڅخه مننه وکړه، موږ له موټر څخه ښکته شوو، هغه خپل موټر بيرته بوته.

زموږ پرواز اوو بجې و، په انتظار خانه کې لږ منتظر شو، لږ وروسته يو کس غږ وکړ ويل يې دوبۍ ته د کامير الوتکې مسافر راځئ، الوتکه پرواز کوي موږ هم بې له ځنډه خپل بکسونه را واخيستل د الوتکې په طرف ور روان شو.

دا مې نو لومړى ځل و چې په الوتکه کې مې سفر کاوه، زه د مجيد خواته ناسته وم، الوتکه پورته شو، له وېرې مې زړه ټوپونه وهل، سترګې مې ټينګې پټې وې، کلک مې د مجيد په غېږه پورې ځان نيولى و، وروسته چې الوتکه مستقيم حرکت ته سمه شوه، نو يو څه مې وېره ورکه شوه.

له شيشې څخه مې ښکته کتل، په کابل کې زياتې ودانۍ جوړې شوې وې، هرې خواته پاخه سړکونه غزېدلي و، خوشحاله وم ويل مې ځه ښه ده کابل خو يو څه اباد شوى دى. کرار کرار له کابل څخه لېرې کېدو، نور نو له کابل څخه ډېر ليرې شوي و.

ټوله شپه مې خوب نه و کړى، سترګې مې پټې پټې کېدلې، د مجيد را کې پام شو، ويل يې خوب درځي؟

ورته مې وويل: هو.

مجيد وويل زما پر اوږه سر کېږده، لومړى ځل و چې د مجيد پر اوږه مې خوب کاوه، ډېر د ارامۍ احساس مې کاوه، ډېره خوشحاله وم، هيڅ يې د بيانولو لپاره الفاظ نه لرم.

درې ساعته وروسته د دوبۍ په ميدان هوايي کې کوز شوو، د دوبۍ ميدان هوايي ډېره لويه او ښکلى و، په يوه دقيقه کې به څو الوتکو ناسته کوله او نورې به پورته کېدلې، د الوتکو غږونو شور جوړ کړى و.

موږ يو ساعت بايد انتظار شوي واى، له هغه وروسته الوتکې د امريکا په لور پرواز کاوه، مجيد لاړه له کانتين څخه يې د خوراک لپاره خوراکي توکي راوړل، زما زړه ته نه کېدل، خو د مجيد لپاره مې لږ خوراک وکړ.

يو ساعت پوره کېدونکى و، مسافر الوتکې ته ور وختل، دا نو بيا پوره دولس ساعته مزل و، يولس بجې الوتکې پرواز وکړ، دا ځل ډېره نه وېرېدم.

وروسته له دولسو ساعتو اوږده مزل څخه الوتکې په نيويارک د نړۍ تر ټولو زيات نفوس لرونکي ښار کې ناسته وکړه.

په نوبت سره موږ له الوتکې را کوز شو، بکسونه مو را واخيستل، ډېره ستړې شوې ومه، دا لومړى ځل و چې د امريکا غونډي لوى او ليرې هېواد ته راغلې وم، هر څه يې زموږ له هېواد سره توپير درلود.

مجید تر لاس ونیولم لۀ میدان څخه ووتو، امریکا کې د ورځې یوولس بجې وې، هوا هم سړه وه، ټولې لارې او کوڅې پخې وې، لوړې لوړې پۀ نقشه ودانۍ پۀ کې جوړې شوې وې، تر نارینه و ښځې زیاتې ګرځېدلې، چسپ چسپ پتلونونه یې اغوستي و، ټیکرۍ خو چا پېژاندۀ هم نۀ، یوازې زما پر سر ټیکرۍ و او افغاني جامې مې پر تن وې، هغوی ماته کتل او زۀ بیا د هغوی لباس ته پۀ سوچ کې تللې وم.

لږ مخکې لاړو یو موټر خواته پۀ ونه جګ ځوان، شنې سترګې یې وې او توره دریشي یې کړې وه ولاړ و. مجید ورغی سترې مشې یې ورسره وکړه، ما ته یې هم سلام وکړ وېې ویل وریندارې سترې مه شې، ما هم د سلام ځواب ورکړ.

مجید ویل سلګۍ! دا هغه ځوان دی چې ما درته ویلې پۀ امریکا کې مې ملګری دی، سلیمان نومېږي.

سلیمان پۀ خندا وویل مجیده! ښا نو دا هغه نجلۍ ده چې پۀ تا یې خوب او آرام حرام کړي وو؟

مجید وویل: هو، خو وروسته لۀ دې بۀ ژوند زموږ پۀ خوښه مخته ځي.

سلیمان ویل ځئ چې ځو هوا هم یخه ده، نورې کیسې بۀ پۀ کور کې کوو.

موټر ته ور پورته شوو، سلیمان ویل کمر بندونه وتړئ، دلته چې چا کمربند نه وي تړلی، جریمه کېږي، همداسې مو وکړل.

موټر حرکت وکړ، ټول ښار لۀ موټرو ډک و، خو یوه شېبه هم لاره بنده نه شوه، ځکه چې ټولو د ترافیکي اصولو او قوانینو مطابق ډرېوري کوله.

سلیمان مجبد ته وویل: کور مې درته نیولی دی، د یو کال قرارداد مې ورسره کړی دی، د دوو میاشتو کرایه مې هم ورکړې ده، سبا ته بۀ ورشو، نن بۀ زما میلمانۀ شئ، مجید مننه ترې وکړه.

سلیمان ویل منې ته اړتیا نشته، ملګر خو وي د داسې ورځو لپاره.

زۀ لا هم د پلار او مور پۀ سوچونو کې مې تللې وم، وروسته مې د دوی خبرو ته هېڅ پام نه شو.

موټر د یوې لوړې دیرش پوړیزې ودانۍ لاندې ودرېدۀ، سلیمان ویل موټر بۀ پۀ پارکینګ کې ودروم، همداسې یې وکړل.

لۀ موټره راښکته شوو، پاک صفا چاپېریال و، هېڅ بد بویي او چټلې نه وه، د پلې تګ د لارو خوا او شا، ښایسته ګلان و. ودانۍ ته دې ننه شوو، سلیمان د لفټ بټن وواهه دولسم پوړ یې پۀ نښه کړ، پۀ دولسم پوړ کې لۀ لفټ څخه را ښکته شوو اوږد دهلیز و، لۀ څو دروازو تېر شوو، سلیمان د دروازې پر سر بټن ټینګ کړ، یوې ځوانې نجلۍ دروازه را خلاصه کړه، ژېړ ویښتان یې

وو، تک سپین ګرد مرد مخ یې و، ګلابي جاکټ یې اغوستی و، بیخي لکه امریکایی نجلۍ داسې معلومېده،
سلیمان وویل دا مې کشره خور ده، رښا نومیږي، په رښتیا هم چې رښا رنا وه. د ننه ننوتلو یوې کوټې ته لاړو، لږ شېبه وروسته د پاخه عمر ښځه او سړی هم راغلل، سلیمان ویل دا مې مور او پلار دي، موږ یې هم ور معرفي کړو، سلیمان زموږ ښه میلمه پالنه وکړه.
سبا سهار وختي له سلیمان سره یو ځای هغه کور ته لاړو چې سلیمان زموږ لپاره نیولی و. دا کور هم د یوې لوړې ودانۍ په اتلسم پوړ کې و، ښایسته باغچه یې درلوده
سلیمان وویل ښه ځای دی دوه کوټې، دوه تشنابه او یوه آشپز خانه لري.
کوټې تیارې فرش وې، په یوه کوټه کې لوی تخت و، په هغې بلې کوټې کې کوچونه او څوکۍ ایښې وې، په دېوال کې یو لوی سکرین هم لرېدلی و، ښي لاس ته دیوال کې د کتابونو کوچنۍ الماری وه. اشپز خانه هم ښه وه، سلیمان ویل خوراکي توکي په یخچال کې دي، د یوې اونۍ سودا مې درته راوړې ده.
سلیمان له موږ سره د خدای په امانی پر مهال مجید ته وویل: یوه میاشت تفریح وکړئ، وروسته له هغه که غواړې له ماسره به په دفتر کې کار وکړې.
مجید: وویل سمه ده، مننه.
سلیمان لاړ مجید دروازه ورپسې بنده کړه، بیرته راغی ما ته یې وویل ورشه ته دې جامې بدلې کړه، زه به د غرمې لپاره یو څه تیار کړم.
پنځلس دقیقې وروسته راغلم، مجید هګۍ پخې کړې وې، سلات یې هم ورسره تیار کړی و په ګډه مو ډوډۍ وخوړه.
وروسته له ډوډۍ څخه، مجید جامې بدلولې.
ما د ټلویزیون ریموټ را واخیسته، ټلویزیون مې چالان کړ، هر چینل به مې چې بدلاوه، نو امریکایي چینلې وې.
مجید راغی، ورته مې وویل، ته خوشحال وګوره چې انلاین دی که افلاین؟
مجید موبایل را واخیسته، خوشحال افلاین و.
مجید وویل افغانستان کې به اوس نیمه شپه وي، نو ځکه خوشحال افلاین دی.
ما ورته وویل: خوشحال به ژر انلاین کېږي، زموږ کور کې به سم قیامت تېر شوی وي، له دې سره سلګیو ونیولم، د مور او پلار حالت ته ډېره خفه وم.

مجید مې لاسونه ونیول ویل یې: سلګۍ ته اندیښنه مه کوه، مور او پلار باندې به دې خدای ج هېڅ هم نه کوي، ته مه ژاړه زه درسره یم.
زموږ په کور کې به هم سم قیامت تېر شوی وي، مرسل مې د ناوې په جامو کې پرېښوده، پرون زما او د مرسل وادهٔ کېدونکی و، هر څه مې په ځای پرېښودل.
د مجید خبرو نوره هم خفه کړم، ورته مې وویل ما او تا له مرسل سره هم ظلم وکړ.
مجید مې خبرې را پرې کړې ویې ویل، ما او تا له هیچا سره هم ظلم نه دی کړی، له موږ سره ظلم شوی دی، کورنۍ مو نېې خبرې وې، چې زه او ته له یو او بل سره مینه لرو؛ خو بیا یې هم کوشش وکړ چې موږ سره بېل شو او له داسې یو چا سره مو پیوندونه وتړي چې هېڅ مینه ورسره نه لرو، حتا پر وړاندې یې ښهٔ احساس هم نه لرو.
د مجید خبرې خلاصې شوې، ترې ومې پوښتل د مرسل په اړه دې ولې هلته څه راته و نه ویل؟
مجید ځواب راکړ: ځکه چې زه پوهېدم ته خپل ژوند د مرسل لپاره قرباني کوې او ما داسې کار په ټول عمر کې هم نه غوښته.
مجید وویل: په هر حال، اوس چې هر څه شوې زموږ په ګټه شوې دي، ته هېڅ زړه مه خوره، زموږ کورنۍ به آخر هم زما او ستا رښتوني او پاکه مینه درک کوي او له زړونو به یې نفرت ورکیږي.
تر ډېره وخته ما او مجید کیسې کولې او زړونه مو یو او بل ته تشول.
شپه تېره شوه، سهار وختي د مجید موبایل ته زنګ راغی. ځواب یې ورکړ، سلیمان و.
ترې ومې پوښتل څه وایي؟
مجید وویل: هسې پوښتنه یې کوله.
نور نو زه هم د کور مېرمنه وم، آشپز خانې ته لاړم، د سهار چای مې تیار کړ، هګۍ مې هم پخې کړې.
دسترخوان مې هوار کړ، زه او مجید دواړه کښیناستو، مجید چې له هګیو لومړۍ ګوله وکړه، ویې ویل زما سلګۍ خو سمه آشپزه ده، دومره خوندورې هګۍ مې لا تر اوسه نه وې خوړلې، زما په لاس د تیارو شویو خوړو یې زیات صفت وکړ.
دسترخوان مې ټول کړ، بېرته راغلم کښیناستم، مجید ته مې وویل ته خوشحال وګوره موبایل به یې نه وي خلاص؟

ټلیفون یې راکړ ویې ویل ته ورته زنګ وکړه، مسینجر مې را خلاص کړ، خوشحال افلاین و، شماره یې د مجید په موبایل کې ثبت وه زنګ مې ورته وکړ، موبایل یې اوکې کړ، زه په تمه وم، چې خوشحال به وي؛ خو د هغې خوا نه مې د پلار مړاوی غږ واورېده، ما د خبرو کولو جرئت نه لاره، څو ځلې یې هلو هلو وویل، ما هېڅ هم نه ویل، د مور غږ مې واورېده څوک دی؟

پلار مې ورته وویل نه پوهېږم، غږ یې نه راځي.

د مور غاړې مې ناستې وې ویې ویل، د خوشحال کوم ملګری به وي، د خوشحال له مرګ نه به خبر شوی وي.

کړپ شو موبایل مې له لاسه ولوېده، چې په هوښ راغلم ګورم چې مجید او سلیمان مې سرته ولاړ دي او سیروم راته چالان دی.

مجید وویل اوس څنګه یې.

ومې ویل د خوشحال خبر رښتیا دی؟

.ولې په خوشحال څه شوي دي؟

.زما ژړا نه درېدله، په بنده ژبه مې وویل خوشحال نور له موږ څخه د تل لپاره لاړ

.مجید وویل په خوشحال به هېڅ هم نه کېږي، دوه ورځې مخکې خو جوړ تیار و، تا ته هسې وهم پیدا شوی دی.

ورته و مې ویل: مور مې دروغ نه وایي.

مجید نږدې راغی زما لاسونه یې ونیول، ویل یې نه دا امکان نه لري، چې خوشحال دې مړ شوی وي.

سلیمان له مجید څخه د خوشحال نمبر واخیسته ویل یې زه یې پوښتنه کوم، سلیمان د باندې ووات.

ما له ځان سره دعاوې کولې، چې خدای دې په خوشحال هېڅ هم نه کوي، کاش! چې ما خبره غلته اورېدلې وي.

څو شېبې وروسته سلیمان بېرته راغی، سر یې ښکته اچولی و ویل یې خدای ج دې وبښي.

زما چیغو زور واخیست، مجید کوشش کاوه چې ما ته ډاډ راکړي، خو زما زړه لا را ډکېده، چیغو مې ټول روغتون په سر اخیستی و، د خوشحال نوم مې په زوره زوره اخیسته، مجید او ډاکټرانو ټینګه نیولې وم، خو زه لکه لېونی داسې شوې وم، ډاکټر پیچکاري راته وکړه د ستنې د ننه کېدلو درد مې حس کړ، نوره په ځان نه وم پوهه شوې.

نه پوهېږم، چې څومره وخت به بې هوښه وم، خو چې سترګې مې خلاصې کړې مجید همغسې لا ولاړ و، په همدې وخت کې سلیمان هم راغی، ویې ویل اوس څنګه یې؟

ما سمدلاسه ترې وپوښتل ولې په خوشحال څۀ شوي و؟

سليمان وويل: خير دی لږ آرام وکړه، بيا بۀ درته ټوله کيسه وکړم.

ومې ويل وعده کوم چې بيا بۀ چيغې نه وهم، اوس راته کيسه وکړه.

سليمان وويل: خوشحال يې وژلی؟

.چا وژلی دی؟

.پلار دې وويل چې لۀ احمد سره يې جنګ کړی و، هغۀ وژلی دی.

مجيد ته مې مخ ور واړاوۀ ورته مې وويل: ګوره زما غچ يې لۀ خوشحال څخه واخيستۀ.

سليمان وويل: نا ستا پر سر يې نه دی وژلی.

پۀ تايمنې کې زما ملګری دی، ستا لۀ پلار نه مې وروسته هغۀ ته زنګ وکړ، هغۀ راته ټوله کيسه وکړه.

هغۀ ويل چې احمد د خوشحال لۀ خور سره مينه درلوده، احمد خوشحال لۀ خپلې خور سره ليدلی و، نو دواړه يې وژلي دي.

ومې ويل: خوشحال لۀ مسکا سره هيڅ مينه نه درلوده دا دروغ دي.

مجيد وويل: تۀ د هغوی لۀ مينې څخه نه وې خبره؟

ورته مې وويل: نه، زۀ نه وم خبره او هيڅ مې شک هم نه راتۀ چې خوشحال دې لۀ مسکا سره مينه ولري.

پۀ دې وخت کې ډاکټر راغی، زما فشار يې وکاتۀ او بيا يې پۀ انګليسي مجيد ته څۀ وويل، زۀ ښه پرې پوهه نه شوم.

مجيد وويل: ډاکټر وايي چې مريض مو اوس ښۀ دی، تاسو تللی شئ.

لۀ روغتون څخه را ووتلو، سليمان موږ تر کوره ورسولو، هغه بيرته لاړۀ.

مجيد زۀ کوټې ته بوتلم مجيد ته مې وويل زما پلار بۀ اوس پۀ څۀ حالت کې وي، دوه اولادونه يې لۀ لاسه ورکړي دي هغه هم مشر او کشر اولاد، موږ پۀ پلار باندې ډېر ګران و، هغه بۀ دا حالت نه شي زغملی.

مجيد وويل: تۀ اوس لږ آرام وکړه، زۀ پوره معلومات را اخلم، زۀ پۀ کټ کې څملاستم، مجيد د باندې وواتۀ زۀ پۀ سوچونو کې غرقه شوم، د خوشحال مرګ، زما امريکا ته راتلل، د پلار او مور بې وسي مې، يو اولاد يې تر څنګ و هغه هم جمشيد و، جمشيد قهرجن هلک و، تل بۀ يې پۀ کور کې جنجال کاوو، ويل مې چې پلار او مور بۀ مې لۀ هغۀ سره څنګه ژوند تېروي، پۀ دې سوچونو کې همداسې ويده شوې وم.

يو وخت مې چې سترګې لوڅې کړې، تيارۀ وه، پاڅېدم دهليز ته ووتم، مجيد پۀ څوکۍ کې ناست و.

مجید وویل: اوس څنګه يې؟

.اوس ښه يم، معلومات دې وکړل؟

مجید را اوچت شو زه يې له لاس څخه ونیولم، په څوکۍ کې يې کښېنولم.

ویې ویل: سلګۍ! هر څه د خدای ج له طرفه دي، خوشحال هېڅ ګناه نه درلوده، د خوشحال د مینې کیسه دروغ ده.

کله چې احمد زموږ له تېښتې خبر شوی دی، مستقیم ستاسو کور ته تللی دی، هلته يې سپکې سپورې خبرې کړې وې، خوشحال د احمد خبرې نه شوې زغملی، نو خبره تر جنګه رسېدلې وه، له احمد سره توپانچه وه، هغه يې را ایستلې وه، مسکا د دې لپاره چې خوشحال وژغوري، د هغه مخې ته ودرېدلې وه، احمد ډز پرې کړی و لومړی يې مسکا ویشتې وه او بیا يې خوشحال ویشتی و.

تر څو چې خلک را خبرېدل احمد له هغه ځای تښتېدلی و او په کور کې یوازې ستا مور وه، هغې هر څه په خپلو سترګو لیدلي و.

مجید ته مې له اوښکو ډکې سترګې ور واړولې ورته مې وویل: یعنې دا هر څه زما له لاسه وشول، زما له لاسه خوشحال مړ شو، زه مې د نازولي ورور په قتل کې شریکه یم، زه قاتله یم، له ځان نه مې نفرت کېږي.

مجید وویل: ته قاتله نه يې، دا هر څه د قسمت فیصلې دي، په تقدیر کې به يې داسې لیکل شوي و، ته هېڅ نه يې ملامته.

ما همداسې ژړل، لږ ځنډ وروسته جګه شوم، اودس مې وکړ، دوه رکعاته نفل مې وکړل او د خوشحال روح ته مې دعا وکړه.

په دې کې یو څو شپې تېرې شوې، زه هم یو څه ښه شوې وم، خو تل به مې د ملامتي احساس کاوه، مجید به له ما څخه هېڅ نه ښورېده، تل به يې ما ته ډاډ راکاوه.

یوه ورځ سهار وختي مجید ځان تیار کړی و.

ترې ومې پوښتل چېرته ځې؟

ویې ویل: سلیمان راته زنګ کړی و، ویل يې چې د قبولي او تابعیت اخیستلو کارونه به پیل کړو، سلیمان دې باندې ولاړ دی، زه ورځم او زما تر راتګه پورې دې په ځان پام کوه.

ورته مې وویل سمه ده.

مجید وویل: ټلویزیون درته چالان کړه، پام به دې غلت وي، زه بېرته ژر راځم.

د وتلو پر مهال يې راته وويل: يوه ژمنه راسره وکړه.

.د څهٔ شي ژمنه؟

.نور بهٔ هېڅ کله هم پهٔ دې ښکلو سترګو کې دې اوښکې نه پرېږدې، ستا پهٔ خنداګانو پسې مې ډېر زړهٔ خفه شوی دی، نوره نو پخوانۍ سلګۍ شه.

ما ورته وويل: خو زما زړهٔ ټوټې ټوټې دی، خولهٔ مې هېڅ خندا ته نه جوړېږي، ژړاګانې بهٔ مې پهٔ قسمت کې ليکل شوې دي.

.پوهېږم، راځه چې تېرې پېښې هېرې کړو، يو نوی لهٔ خوشحاليو ډک ژوند لهٔ سره پيل کړو.

.خو دا کار بهٔ زيات وخت ته اړتيا لري، د ورور ټپ بهٔ مې لهٔ زړهٔ څخه ژر ايسته نه شي.

.بس پهٔ ځان دې پام کوه زهٔ لاړم.

.سمه ده، پهٔ خير لاړ او راشې.

مجيد دروازه رابنده کړه، زهٔ پهٔ کور کې يواځې پاتې شوم، يوه شېبه مې ټلويزيون چالان کړ، زړهٔ مې ورته تنګ شو.

پاڅېدم اودس مې وکړ، يوه سپاره قرآن کريم مې تلاوت کړ، د خوشحال روح ته مې دعا وکړه.

لهٔ هغهٔ وروسته مې موبايل خلاص کړ، لهٔ انټرنېټ څخه مې د (شين خالۍ) پهٔ نوم ناول را ډاونلوډ کړ، هغه مې لواستهٔ، د يوې محصلې او محصل د مينې داستان و، ډېر دردونکی و، پهٔ لوستلو کې يې دومره ډوبه وم چې هېڅ مې د دروازې زنګونه نه و اورېدلي.

يو وخت مې پام شو، څوک دروازه خلاصوي، ګورم چې مجيد دی.

ورته مې وويل: و دې ډاره کړم.

مجيد وويل: څو وارې مې د دروازې زنګ وواهه را خلاصه نه شوه، ووېرېدلم چې پهٔ تا څهٔ شوي نه وي؛ نو ځکه مې پهٔ بيړه دروازه خلاصه کړه.

ورته مې وويل: کتاب مې لواستهٔ د هغهٔ پهٔ لوستلو کې ډوبه وم.

.ښا نو داسې ښکاري، چې ته اوس بالکل ښه شوې يې.

ترې ومې پوښتل څنګه شول کارونه دې.

پهٔ خوشحالي سره يې وويل: کار مې پيدا کړ او د تابعيت کار بهٔ هم پهٔ دې نږدې ورځو کې وشي.

ورته مې وويل: ډېر ښهٔ.

مجيد نږدې راغی او غېږه کې يې ونيولم وېې ويل ډېر ښهٔ نهٔ، بيخي فوق العاده شو.

مجيد خوشحاله و، امريکا ته چې راغلي و، د مجيد پهٔ سترګو کې مې خوشحالي نه وه ليدلې.

زموږ د راتګ نږدې مياشت پوره کېدونکې وه، مجيد د تابعيت کار ټول خلاص کړی و، پهٔ امريکا کې تابعيت اخيستل څهٔ ساده خبره نه ده، خو د مجيد ملګري سليمان پهٔ دې برخه کې لهٔ موږ سره زياته مرسته وکړه.

لهٔ دې وروسته مجيد پهٔ بانک کې کار کاوهٔ، ما هم پهٔ يوهٔ رستورانت کې د منشي پهٔ صفت دنده مخته وړله، ژوند مو تقريباً ښهٔ شوی وو، سهار بهٔ کار ته تللو ماښام بهٔ بېرته کور ته راتللو، پهٔ دې کې يو کال ووانهٔ.

د پلار او مور سره مې هېڅ خبرې نه وې کړې او نهٔ مې لهٔ هغوی سره د خبرو کولو جرأت لارهٔ، يوه ورځ مې څو زړونه سره يو کړل د مجيد موبايل مې را واخيستهٔ د پلار شماره مې ډايل کړه، ښهٔ و زنګ تېر شو، د پلار غږ مې واورېدهٔ، ما څهٔ نه ويل پلار مې بيا وويل څوک خبرې کوئ؟

د پلار غږ مې ډېر کمزوری شوی و، هغه پخوانی لوړ آواز او د خبرو توان پهٔ کې نه و پاتې.

زړهٔ مې نور طاقت و نه کړ ومې ويل پلار جانه!

پلار مې وويل سلګۍ يې؟

خوشحاله شوم چې د پلار خو مې تر اوسه نه يم هېره شوې.

بيا مې ورته وويل هو، پلار جانه! سلګۍ يم.

پلار مې لهٔ غوسې نهٔ پهٔ ډک اواز وويل: تا پهٔ کومو سترګو ماته زنګ کړی دی، تهٔ قاتله يې، تا زموږ ابرو او عزت لهٔ خاورو سره خاورې کړل، زهٔ مو پر ملا غوټ مات کړم، ستا لهٔ لاسه مې د غمي پهٔ شان زوی لهٔ لاسه ورکړ، تهٔ خو بهٔ دې لهٔ يار سره ښه خوشحاله يې، زموږ ژوند دې را تباه او برباد کړ.

ستا لهٔ لاسه دې اوس مور د ناروغۍ پر بستر پرته ده، زما جوړه کړې کيښتۍ دې لهٔ منځه يوړه.

پهٔ ژړا مې ورته وويل: پلار جانه ما وبښه!

.زهٔ ستا پلار نه يم، سلګۍ زموږ لپاره نوره مړه شوې ده، د يو پردي هلک لپاره دې خپل مور، پلار او کورنۍ پرېښودل.

.پلار جانه! داسې مه وايئ، تاسو ماته ډېر ارزښت لرئ، يوه شېبه مې هم لهٔ ياده نه يئ وتلي.

.ما ته پلار مه وايه!

لهٔ دې سره موبايل بند شو.

ما چيغې کړې، زهٔ قاتله نه يم، ما هېڅ هم نه دي کړي، زهٔ لهٔ تاسو سره مينه لرم پلار جانه!

مجيد وويل څۀ شوي؟

.پۀ ژړا مې وويل: پلار سره مې خبرې کولې، هغه لۀ ما څخه کرکه لري، د کورنۍ د ټولو ستونزو لامل يې زۀ وبللم.

مجيد بۀ غېږ کې ونيولم، راته يې وويل: پلار دې اوس ډېر غمجن دی، د خوشحال غم يې لا تازه دی، خير د وخت سره بۀ هر څۀ سم شي، تۀ مه ژاړه!

ورته مې وويل: مور مې هم ناروغه ده، پلار مې وخت را نه کړ چې لۀ مور سره مې خبرې وکړم، نه پوهېږم چې څۀ بۀ پرې تېرېږي.

بيا مې هغه پخواني دردونه را برسېره شول، مجيد ويل انديښنه مه کوه هر څۀ بۀ سم شي؛ خو تر اوسه هېڅ هم سم نه شول.

يو څو ورځې کار ته هم لاړم نۀ، وضعيت مې ښۀ نه و، لږ چې ښه شوم بيرته مې کار شروع کړ.

ډېر وخت هر څۀ نورمال و، ما او مجيد خپل ژوند مخته وړ، خو يوه ورځ پر لاره روانه وم چې يو ځوان هلک پر مخه راغی، سترګې يې پۀ ما کې خښې وې، لاره مې ترې چپه کړه، رستورانت ته لاړم هلته هم راغی همداسې يې ما ته کتل، ما ځان پرې نا خبره کړ، خپل کار ته مې دوام ورکړ.

چای يې وڅښۀ، راغی ما ته يې پيسې راکړې، پۀ پښتو ژبه يې خبرې کولې، ما ويل څه ښه ده زموږ افغان دی، خو لۀ قوارې عادي انسان نه ښکارېدۀ، سرې سترګې يې وې. تر دې وروسته هره ورځ دا کس رستورانت ته راتۀ.

يوه ورځ يې يو پاکټ راکړ، پاکټ مې خلاص کړ، کاغذ مې ترې را واخيستۀ، ليکلي يې و:  سلګۍ دويم وادۀ نه کوې؟

کاغذ مې وشکاوۀ ايسته مې واچاوۀ، غږ مې هم ورته و نه کړ.

هلک هم بغير لۀ څۀ ويلو لۀ رستورانت څخه ووatۀ.

★★★★.

يو څۀ وخت وروسته الله ج ما او مجيد ته يوه داسې تحفه او خوشحالي راکړه چې هغه خوشحالي بۀ مې ټول عمر هېره نه شي، تۀ پوهېږې هغۀ کومه خوشحالي وه؟ هغه زموږ د زوی سهراب خوشحالي وه، پۀ کور کې مو يو بل کس هم را زيات شو، نور نو موږ پۀ کور کې درې کسان وو، زموږ کورنۍ يوه مکمله کورنۍ شوه، زۀ او مجيد سهراب ته ډېر خوشحاله و، د نړۍ نور ټولو کارونو ته مې شا کړې وه، ټول پام مې د سهراب پۀ پالنه کې و.

کله چې سهراب د ژوند لومړۍ ساه واخیستله، نو تر درېیو میاشتو پورې زۀ پۀ کور کې وم، د کار ځای ته نه تللم، وروسته لۀ درېیو میاشتو زۀ بیا د خپل کار ځای ته ولاړم، سهراب مې هم راسره بوتۀ، سهراب لۀ رنګه تک سپین و، هر چا بۀ چې سهراب لیدۀ مینه بۀ یې پرې راتلله مشتریانو او زما همکارانو بیخي زیات ناز ورکاوۀ.

پۀ سبا چې د کار ځای ته ولاړم همغه کس بیا راغی، قهوه یې وخوړه، پر ما یې هېڅ کار و نه لارۀ، پیسې یې راکړې پرته لۀ څۀ ویلو وواتۀ.

زۀ بۀ روزمره کار ته تللم، یوه ورځ لۀ سرک څخه تېرېدلم هېڅ مې پام نه و، نږدې و چې موټر مو ووهي، خو هغۀ کس چې رستورانت ته بۀ راتۀ، زۀ او سهراب یې وژغورولو، مننه مې ترې وکړه.

هېڅ ځواب یې را نه کړ.

وروسته لۀ دې بۀ چې رستورانت ته راتۀ ما ته بۀ یې سلام هم کاوۀ، کله کله بۀ یې لۀ سهراب سره هم ساعت تېري کوله، سهراب د شپږو میاشتو و، ډېر شوخ شوی و، کار ته یې نه پرېښودلم، نو اناهیتا او هغۀ نا اشنا کس ته بۀ مې پرېښودۀ.

یوه ورځ مشتریان کم و، نو د دمې وخت بۀ راته پیدا کېدۀ، لاړم پر څوکۍ کښیناستم، پۀ دې وخت کې هغه نا اشنا کس هم راغی زما تر خوا کښیناستۀ راته یې سلام واچاوۀ، وروستۀ لۀ سلامه یې وویل: سهراب څنګه دی؟

ورته مې وویل ښۀ دی، بد نه دی.

ما ترې وپوښتل تاسو د افغانستان یاستئ.

.هو زۀ د افغانستان یم، فواد نومېږم.

بې لۀ ځنډه یې راته وویل: زوی دې ډېر ښایسته دی، تا ته شوی دی.

پۀ دې وخت کې یو مشتري راغی، فواد مې پرېښودۀ، زۀ مشتري ته ورغلم.

اناهیتا هم زما خوا ته راغله، اناهیتا ته مې وویل چې دا سړی ماته ښۀ نه ښکاري، کوم بد نیت لري، هغې هم زما خبره تائید کړه.

شېبه وروسته پۀ دهلېز کې غال مغال شو، زۀ او اناهیتا هم د باندې دهلېز ته ور ووتو، پر مجید مې سترګې ولږېدې، فواد یې لۀ غاړې نیولی و، خلکو فواد لۀ مجید څخه خلاصاوۀ، مجید همداسې فواد ټینګ نیولی و، ویل یې وژنم دې، تا زۀ ژوندی نه پرېږدم، ما ورمنډه کړل تر څو فواد ترې خلاص کړم، مجید زۀ ټیله کړم ایسته یې واچولم، خلک را ډېر شول فواد یې ترې خلاص کړ.

مجيد سمدلاسه ما ته وويل کار پرېږده راځه چې ځو کور ته، ډېره وارخطا شوم، د مجيد له سترګو معلومېدهٔ چې ډېر په قهر دی، حتا ما ته يې هم په قهر سره کتل، زهٔ لاړم د رستورانت د مسئول څخه مې اجازه را واخيسته، مجيد تيار موټر ته ته ختلی و، له ځان سره يې سهراب هم موټر ته خېژولی و، زهٔ هم موټر ته ورغلم.

مجيد بې لهٔ ځنډه موټر چالان کړ، حرکت يې وکړ، موټر يې ډېر په چټکۍ سره چلاوهٔ، نږدې و چې څو ځايه ټکر وکړي، هسې خدای ج ساتلو. مجيد هېڅ هم نه ويل، زهٔ هم وېرېدلې وم څهٔ مې نه شواى ورته ويلی، آخر مې زړهٔ وکړ لهٔ مجيد څخه مې پوښتنه وکړه، چې دا کس تهٔ څنګه پېژنې او ولې دومره ورته په قهر وې؟

مجيد وويل، دا د موټر خبرې نه دي، پهٔ کور کې سره خبرې کوو، نور زهٔ هم غلې شوم، تر کوره مې څهٔ ورته و نه ويل.

کور ته ورسېدو، موټر يې پهٔ پارکينګ کې ودراوهٔ، مجيد سهراب هم لهٔ ځان سره واخيسته، پاس وختلو، مجيد هېڅ هم نه ويل، بيا مې ترې وپوښتل، چې څهٔ خبره وه ولې فواد ته دومره پهٔ قهر وې؟

مجيد وويل: سهراب دې ويدهٔ شي.

د مجيد داسې رويه مې هېڅ نه وه ليدلې، زهٔ ډېره وېرېدلې وم، ويل مې خدای ج دې خير کړي، هسې نهٔ کومه بده پېښه رامنځته شوې وي.

ما سهراب لهٔ ځان سره واخيسته، خپل اطاق ته مې بوتهٔ، خوارهٔ مې ورکړل، سهراب ټوله ورځ ويښ و، نو ډېر ژر ويدهٔ شو.

د باندې را ووتم مجيد پر څوکۍ ناست و، زهٔ يې هم خواته کښيناستم، مجيد بغير لهٔ څهٔ ويلو يو پاکټ ما ته راکړ، پاکټ مې خلاص کړ، سر مې را باندې وګرځېدهٔ، چيغه مې کړه نه دا هر څهٔ دروغ دي، دا امکان نه لري، همداسې مې چيغې وهلې.

فواد يوازې زمونږ مشتري و، دا غير اخلاقي تصويرونه چا جوړ کړي دي، چا مونږ ته دسيسه جوړه کړې ده، ما د خدای پر ځمکه ننباسي، چې داسې کار بهٔ کړم.

مجيد وويل غلې شه! ستا لپاره مې مور، پلار، کور، د ماما لور، وطن او هر څهٔ پرېښودل، خو تا زمونږ مينې ته هېڅ احترام و نه کړ، زهٔ دې تباه او برباد کړم. ولې دې داسې وکړل ولې؟

سلګیو مې زور واخیست، مجید ته مې وویل، خیر دی پر ما باور وکړه، دا چا را ته دسیسه جوړه کړې ده، زهٔ لهٔ فواد سره هېڅ اړیکه نه لرم، بغیر لهٔ تا څخه زما پهٔ زړهٔ کې نهٔ بل څوک شته او نهٔ ورسره اړیکه لرم، همداسې لګیا وم مجید ته مې قناعت ورکاوهٔ، خو مجید زما پر خبرو هېڅ باور نه کاوهٔ.

د مجید رنګ لهٔ غوسې څخه تک سور شوی و، ویې ویل فواد تهٔ ولې لهٔ موټر څخه وژغورلې؟

.هغه هسې تصادف و، چې فواد موږ لهٔ موټر څخه وژغورولو.

.لهٔ سهراب سره ساعت تېرې او لهٔ تا سره خبرې هغه هم تصادف و؟

.هغه مشتري و، رستورانت ته راتهٔ، مشتري ته خو مو نه شوای ویلی چې دلته مه راځه.

.مشتري نه و، ستا عاشق و او تهٔ یې معشوقه وې.

.تاسو غلت پوی شؤي یاستئ، پر ما باور وکه زهٔ لهٔ هغهٔ کس سره هېڅ اړیکه نه لرم.

.غلې شه، دروغ مه وایه، ځواب راکړه چې تا ولې داسې وکړل؟

.پهٔ ژړا مې ورته وویل: مجیده دا هر څهٔ دروغ دي، زهٔ لهٔ تا څخه بغیر لهٔ هیچا سره هم مینه نه لرم.

.تهٔ د ځان پاک ثابتولو لپاره هېڅ ثبوت نه لرې او لهٔ ما سره ستا د پټې مینې ډېر ثبوتونه دي.

.اناهیتا زما شاهده ده، چې زهٔ هغه کس نه پېژنم.

.څوک چې پهٔ جرم کې شریک وي، هغه بهٔ کله رښتیا ووایي.

.پهٔ دا لسو کالو کې تا زما کوم داسې حرکت لیدلی، چې بغیر لهٔ تا مې د بل چا خواته توجه اوښتې وي؟

.نو دا لعنتي عکسونه لهٔ کومه شول، چې تا غلت حرکت نه دی کړی.

.نه پوهېږم، ما هېڅ هم نه دي کړي.

.سر لهٔ نن څخه زما او ستا پیوند د تل لپاره ختم شو، نوره ستا لاره جدا او زما جدا ده، ستا خویونه پهٔ امریکا کې پاک بدل شول، نور زهٔ د سلګۍ پهٔ نوم څوک نه پېژنم؟

.چیغه مې کړه، زهٔ بغیر لهٔ تا ژوند نه شم کولی، زهٔ فقط تا لرم او لهٔ تاسره مینه لرم، خیر دی زموږ پر مینه باور وکړه، مجیده! پهٔ تا څهٔ وشول؟

.تهٔ اوس فواد لرې، ژوند بهٔ دې ښهٔ وي، زهٔ یوازې شوم.

.خیر دی مجیده داسې مه کوه، زما پر پاکه لمنه د ټول عمر لپاره تور داغ مه لږوه!

.خپله لمن تا داغداره کړه، زهٔ داغ نه پرې لږوم.

نور مې مجيد ته د قناعت ورکولو لپاره بله هېڅ لاره نه لرله، زموږ د مينې باور چې قناعت ور نه کړای شو؛ نو بل هېڅ شي هم قناعت نه شو ورکولی.
مجيد وويل: لۀ دې وروسته د سهراب سر پرستي زما پر غاړه ده، تۀ پوهه شه او فواد پوی شه.
لۀ دې خبرو څخه وروسته مجيد لاړۀ، بکس يې را واخيسته، خپل او د سهراب کالي يې پۀ کې واچول، ډېر زاری او فريادونه مې وکړل، مجيد هېڅ غوږ نه راته نيوۀ، کالي يې بکس ته واچول لاړۀ سهراب يې هم لۀ ځان سره را واخيستۀ، زۀ يې پۀ پښو کې ور ولوېدم پۀ چيغو چيغو مې ژړل، خو مجيد خپل حواس پاک لۀ لاسه ورکړي و، همداسې يې پرېښودم لۀ کوره ووتۀ، زۀ يوازې پاتې شوم.
دا حالت ما ته لۀ قيامت څخه هم سخت و، ګرېوان مې لۀ ډېرو اوښکو لوند خوشت و، يو خوا ته مې مور، پلار او ورور لۀ لاسه ورکړي و، بل خوا ته د ژوند تکيه مې مجيد او سهراب مې لۀ لاسه ورکړل، پۀ دې دومره ستره نړۍ کې يواځې شوم، بغير لۀ خدايه مې نور هېڅ څوک هم نه لرل، دومره بد حالت کې وم چې غرونه او سيندونه بۀ هم د هغۀ حالت تاب نه و لرلی، دا شپه لکه قيامت چې جوړ شوی وي داسې را باندې تېره شوه.
دا لۀ توپانه ډکه شپه مې پۀ ژړا سبا کړه، سبا ورځ تر مازديګره مې د خپلې بد بختۍ وير او فرياد کاوۀ.
مازديګر د کور دروازه ټک ټک شوه، خوشحاله شوم ويل مې مجيد دی او زړۀ ته بۀ يې زما خبرې لوېدلې وی او رحم بۀ پۀ کې پيدا شوی وي، دروازه مې پۀ بيړه خلاصه کړه، ګورم چې اناهيتا ده، اناهيتا چې زما حال وليدۀ کلکه يې پۀ غېږ کې ونيولم، ويل يې دا څۀ دربناندې شؤي دي؟
زۀ هېڅ نه پوهېدم چې لۀ کومه يې ورته پيل کړم، اناهيتا زۀ بوتلم پر څوکۍ کښېنولم، اوبۀ يې را واخيستې، بيا يې وپوښتل ولې سلګۍ څۀ شؤي دي، چې نۀ يې دې حال ته را رسولې يې؟ مجيد او سهراب چېرته دي؟
نه پوهېدم چې اناهيتا ته بۀ مې څنګه کيسه کړې وي، خو پۀ کيسې مې پوهه کړه.
اناهيتا هم ډېره خواشينې شوه، راته يې وويل: ستا وضعيت ښۀ نه دی بايد ډاکټر ته ولاړ شو.
اناهيتا لۀ لاسه ونيولم لۀ کوره ووتو، روغتون ته يې بوتلم، ډاکټر مې فشار وکاتۀ بيخي ټيټ شوی و، ۶۰ پر ۳۵ و، بيا يې راته سيروم چالان کړ، يو څۀ مې پۀ سترګو رڼا شوه، ډاکټر وويل خوراک کوه ډېره کمزورې شؤې يې، ډاکټر لۀ دې نه و خبر چې د خوراک مسئله نه ده، ما مې د ژوند ټوله تکيه لۀ لاسه ورکړې وه، د درملو او خوراک درد نه و چې جوړ شوی بۀ و.

ماخوستن لۀ روغتون څخه کور ته راغلو، اناهیتا هم راسره پاتې شوه، ټوله شپه مې اناهیتا سره د مجید او سهراب پۀ اړه خبرې وکړې او خپله بد بختي مې ورته بیانوله، خو اناهیتا کوشش کاوۀ چې ما ته ډاډ راکړي هېڅ يې هم و نه کړای شول، زۀ همداسې د غمونو پۀ ټال کې زنګېدلم.

لۀ دې وروسته بۀ اناهیتا سهار کار ته تلله ماښام بۀ بیرته زما خوا ته راتلله.

یوه اونۍ وروسته د مجید د کار ځای ته ورغلم، هغلته د مجید د دفتر مخې ته ناسته وم، مازدیګر مجید د خپل دفتر څخه را ووتۀ، زۀ اوچته ودرېدم، مجید سمدلاسه راته وویل: څنګه دی نوی ملګری دې؟

همداسې را څخه روان شو، وروسته لۀ دې بۀ هره ورځ د مجید د دفتر مخې ته ورتللم، مجید ته بۀ مې اوښکې تویولې، ورته بۀ مې ویل خیر دی یو ځل خو سهراب را باندې وګوره؛ خو مجید مې هېڅ پۀ کیسه کې نه و.

پر ما باندې سختې شپې او ورځې تېرېدلې، اناهیتا یواځینی کس و، چې پر ما باندې یې پام کاوۀ، نور مې د نیویارک پۀ پر نفوسه ښار کې هیڅ څوک هم نه لرل.

پرلپسې درې اونۍ د مجید د دفتر مخې ته ورتللم، آخر مجید راڅخه تنګ شو راته یې وویل: تۀ بۀ نوره دلته نه راځې، پۀ اونۍ کې بۀ یوه ورځ یعنې د شنبې پۀ ورځ بۀ سهراب لۀ تا سره وي، هغه هم پۀ سهراب مې زړۀ بدیږي تر څو د مور لۀ مینې څخه محروم نه شي، تۀ خو هسې هم نوی ملګری لرې.

دا نو زما لپاره تر ټولو ښۀ زیری و، چې پۀ اونۍ کې بۀ سهراب یوه ورځ لۀ ماسره وي، د دې خبرو لۀ اورېدو سره زۀ لاړمه کور ته، نور بۀ د مجید کار ځای ته نه ورتللم، د شنبې ورځې ته درې ورځې پاتې وې دا درې ورځې لکه درې کاله دومره راباندې اوږدې شوې.

★★★★★

د شنبې ورځ سهار اتۀ بجې وې دروازه ټک ټک شوه، پۀ منډه د دروازې خوا ته ورغلم، دروازه مې خلاصه کړه مجید و، سهراب یې هم لۀ ځان سره راوستی و، د سهراب پۀ لیدلو سره مې لۀ سترګو بې اختیاره د خوشحالۍ اوښکې روانې شوې، مجید سهراب ما ته را کړ، پۀ غېږه کې مې ټینګ ونیوۀ، او څو ځله مې ښکل کړ، مجید وویل زۀ مازدیګر ته راځم سهراب بیرته لۀ ځان سره بیایم.

مجید ته مې د چایو ست وکړ، خو هغۀ هېڅ هم و نه ویل دروازه یې را بنده کړه او لاړۀ.

ما ډېر وخت سهراب نه و لیدلی، نو هېڅ مې لۀ غېږې څخه نه لیرې کاوۀ، همداسې مې پۀ غېږه کې ټینګ نیولی و، مازدیګر مجید راغی تر څو سهراب لۀ ځان سره بوځي، خو سهراب زما لۀ غېږې هېڅ نه ایسته کېدۀ، ټینګ یې ځان را پورې نیولی و، مجید هغه پۀ زوره زما لۀ غېږې جدا کړ او لۀ ځان سره یې بوتۀ.

د سهراب ژړا او زما بې وسي زیاته ودردولم، هېڅ مې د سهراب اوښکې له یاده نه وتلې، نوره له ژونده تنګه شوې وم، آشپز خانې ته لاړم د لاس رګونه مې غوڅ کړل، همداسې بې هوښه شوې وم.

یو وخت مې چې سترګې لوځې کړې په شفاخانه کې وم، سمدلاسه اناهیتا راته وویل: سلګۍ ته لېونۍ شوې یې هن!؟ ښه شوه چې زه په مناسب وخت کې در ورسېدلم، کنه نو اوس به ته دلته نه په قبر کې وې، ته پوهېږې ځان وژنه څومره ګناه لري؟

ګوره دا د حل لاره نه ده بیا داسې لیونتوب و نه کړې.

ما ترې وپوښتل: مجید را نه غی؟

اناهیتا وویل: نه، هغه مې نه دی خبر کړی.

ورته مې وویل کهٔ خبر وای هم نه راتهٔ، ښه ده چې خبر کړی دې نه دی.

یوه اونۍ په روغتون کې وم، وروسته له یوې اونۍ یې له روغتون څخه رخصت کړو، ډاکټر اناهیتا ته وویل دا نجلۍ رواني مشکل لري، کوشش وکړه چې یواځې یې پرې نږدې.

کور ته راغلو د شنبې ورځ وه زه په دې تمه وم، چې نن به بیا سهراب وینم، خو تر نهو بجو هېڅ څوک هم را ښکاره نه شول، لس بجې شوې بیا هم د مجید او سهراب درک و نه لګېده، مجید ته مې زنګ کاوه، موبایل یې بند و.

اناهیتا وویل: چېرته به په چکر تللي وي.

تر ماښامه ورته په تمه وم هېڅ مې هم نه و خوړلي، د مجید او سهراب تصویر مې په غېږ کې کلک نیولی و، همداسې مې ژړل، ماخوستن اناهیتا په زوره خواړه او درمل راکړل او همداسې پسې ویده شوې وم.

سهار وختي پاڅېدم، د مجید تر دفتره مې ځان ورساوه، د دفتر ټول کارمندان راغلل، خو مجید نه ښکارېده، د معلوماتو په سلګۍ کې مې پوښتنه وکړه، هغهٔ راته وویل مجید استعفاء ورکړې او دا دوه ورځې کېږي له خپل زوی سره لندن ته تللی دی.

دې خبرې زه سمه لېونۍ کړم، چیغې مې کړې، نه، دا امکان نه لري، ته دروغ وایې مجید او زما سهراب هیڅ ځای ته هم نه دي تللي!

په دې وخت کې د مجید یوه همکاره صنم راغله، صنم هم د افغانستان وه، له لاس څخه یې ونیولم او له دفتر یې د باندې را وباسلم، په یوه څوکۍ یې کښېنولم، ما ژړل د مجید لندن ته د تلو لامل مې ترې وپوښته، صنم وویل چې زه یې هم په لامل نه پوهېږم استعفاء یې هم رئیس ته د ایمیل له لارې را لېږلې وه.

همداسې مې صنم پر ځای پرېښوده، خپل کور ته لاړم، اناهيتا دروازه راخلاصه کړه، زما د حال ليدلو سره سم يې را څخه وپوښتل چې څهٔ شوي دي؟

يواځې دومره ځواب مې ورکړ: لاړل.

.څوک لاړل؟

.مجيد او سهراب.

.چېرې تللي دي؟

.بهٔ ژړا مې وويل: لندن ته.

.پهٔ لندن کې څهٔ کوي؟

.نه پوهېږم.

پهٔ دې وخت کې دروازه وټکېده، اناهيتا ورغله دروازه يې خلاصه کړه، بيرته لهٔ يوهٔ پاکټ سره راغله.

ما ته يې پاکټ ونيوهٔ ويل يې مجيد را لېږلی دی.

د مجيد د نوم پهٔ اورېدلو سره مې پهٔ بيړه، د اناهيتا لهٔ لاس څخهٔ پاکټ را واخيستهٔ.

پاکټ مې خلاص کړ ليکلي يې و:

سلګۍ! ما پهٔ ژوند کې يو ځل مينه وکړه، يو ځل مې زړهٔ وبايله، تا سره مې د ژوند پيوند وتاړهٔ، لهٔ افغانستان تر امريکا پورې يواځې ستا لپاره راغلم، هر څهٔ مې پرې ښودل، تر څو چې تا تر لاسه کړم، لهٔ ټولې نړۍ څخه مې تا ته زيات ارزښت درکړ، خو تا يې پهٔ بدل کې ما ته فرېب راکړ، زهٔ دې دوکه کړم، زمونږ د پاکې مينې خيال دې و نه ساتهٔ، لهٔ بل کس سره دې مينه شروع کړه، زهٔ دې يواځې پرېښودم، نهٔ دې د سهراب راتلونکي ته وکتل او نهٔ هم زما مينې ته، زهٔ دې لهٔ ژوند او دنيا څخهٔ زړهٔ توری کړم، دا دی ستا لهٔ لاسه اوس لهٔ امريکا څخه لندن ته ځم، ستا لهٔ لاسه سهراب د مور لهٔ مينې محروم شو.

دا افغانستان نه دی، امريکا ده، نو ځکه درته سزا مې نه شوای درکولی او دغلته پاتې کېدل مې وجدان نه منل، تل بهٔ مې د خجالت احساس کاوهٔ، نو ځکه راغلم لندن ته، دلته بهٔ له سهراب سره لهٔ سره يو نوی ژوند پيل کړم.

تهٔ دې لهٔ نوي ملګري سره دغلته خوشحاله ژوند ولرې.

د ليک د لوستلو پر مهال مې لهٔ سترګو اوښکې روانې وې، ليک لوند خوشت شو، اناهيتا را څخه ليک واخيستهٔ، لهٔ لوستلو وروسته يې وويل دا سړی څومره کم عقل دی.

لهٔ دې وروسته، د مجید او سهراب هېڅ خبر نه راتهٔ، زهٔ هم ورځ تر بلې کمزورې کېدلم، اناهیتا بهٔ تل ډاکټر ته بولم، خو د ډاکټر درملو راته هېڅ ګټه نه لرله، درې کاله تېر شول، زما حالت ورځ تر بلې خرابېدهٔ، یوه اونۍ بهٔ پهٔ کور کې وم بله اونۍ بهٔ پهٔ روغتون کې بیستر وم، اناهیتا راسره ډېر تکلیفونه و ایستل.

یوه ورځ اناهیتا را ته وویل: ښهٔ زیری درته لرم.

ورته مې وویل: بغیر لهٔ سهراب او مجید څخه داسې څهٔ نشته چې زهٔ پرې خوشحاله شم.

.حتماً بهٔ خوشحاله شې، د مجید ادرس او د موبایل شمېره مې پیدا کړې ده.

.نو تا لهٔ کومه کړل؟

.پهٔ لندن کې زما یوه ملګرې ده، هغې راته پیدا کړي دي.

لهٔ اناهیتا مې نمبر واخیستهٔ، نمبر مې ډایل کړ، زنګ تېر شو.

مجید ټلیفون ته ځواب ور کړ.

د مجید د غږ پهٔ اورېدلو مې لهٔ سترګو اوښکې را توې شوې.

ومې ویل: مجیده!

مجید وویل: سلګۍ یې؟

.هو، سلګۍ یم.

.څنګه اوس یاد ته درغلم؟

.پهٔ دې درې کالونو کې مې هېڅ لهٔ یاده نه یې وتلې.

مجید ټلیفون بند کړ.

څومره کوشش مې چې وکړ بیا زنګ ورته و نه شو، ماښام مې نا وخته واټساپ ته پیغام راغی، نا آشنا شماره وه، پیغام مې چې خلاص کړ ګورم چې د مجید غږ دی.

سهراب ته یې ویل: سهراب جانه مور به دې اوس چېرته وي؟

د سهراب ښکلی غږ مې واورېدهٔ، ویل یې: هغه بهٔ اوس پهٔ اسمان کې وي، مړي خو اسمان ته ځي.

چیغه مې کړه، نه، زویه زهٔ ژوندۍ یمه.

وروسته لهٔ درېیو کالونو مې د سهراب غږ اورېدلی و، نو ډېره ورته خوشحاله وم، هر څهٔ مې چې وکړل مجید ته زنګ نه کېدهٔ.

يوه اونۍ وروسته د اناهيتا په مرسته لندن ته لاړم، د لندن ښار بيخي نوی راته ښکاريده، آسمان به تل وريځ و، هره ورځ به باران کېده، ښکلې پاکه هوا يې وه، کورونه يې لوړ لوړ و، خو د امريکا په نسبت يو څه ټيټ و. د لندن په نا بلده ښار کې د مجيد په لټه کې وم، هغه ادرس چې اناهيتا پيدا کړی و هلته لاړم، له هغه ځايه مجيد تللی و، مجيد نه د واټساپ پيغام ته ځواب راکاوه او نه يې هم ټليفون ته ځواب ورکاوه، د لندن په ښار کې لکه لېونی ګرده ورده ګرځېدلم، خو هيڅ هم په لاس را نغلل، ناهيلې شوم بيرته راغلم امريکا ته.

امريکا ته چې راغلم صحي حالت مې بيخي خراب شو، له حرکته لوېدلې وم، اناهيتا روغتون ته بوتلم، له معايناتو وروسته معلومه شوه، چې د هډوکي سرطان لرم، ډاکټرانو له اناهيتا سره خبرې کولې ويل يې، شايد يو دوه کاله يا هم له دې ډېره ژوندۍ پاتې شي، زموږ تر درملنې لاندې به وي، ما هم دا خبرې واورېدې، خو هيڅ ورته خفه نه شوم، ځکه چې ما يو ځل مخکې هم د ځان وژنې کوشش کړی و، نور راته ژوند بې مانا و، کورنۍ، مور او پلار مجيد او سهراب ټول مې له لاسه ورکړي و، زه يواځې پاتې وم، زما قسمت همداسې خراب و.

زه همداسې دوه کاله د مرګ پر بيستر پرته وم، هيڅ چا مې هم احوال نه اخيسته، مجيد پاکه له ياده باسلې وم، سهراب له دې نه و خبر چې مور يې ژوندۍ ده، يواځې اناهيتا وه چې له ماسره يې خپل ژوند په عذاب کې اخته کړی و، پر ما يې ډېر پام کاوه، زه به د اناهيتا دا ښه په آخرت کې هم هېر نه کړم.

يوه ورځ اناهيتا راغله ويل يې سلګۍ ته پوهېږې چې څه مې درته راوړي!؟ د مجيد او سهراب نوی تصوير مې ړرته راوړی دی، موبايل يې راکړ سهراب لوی شوی و، همداسې مې موبايل په سينې پورې کلک نيولی و، هيڅ مې زړه نه مړېده تصوير مې څو ځله ښکل کړ، وروسته مې موبايل اناهيتا ته ورکړ ورته مې وويل: دا تصوير را چاپ کړه چې زړه مې پرې ډاډه وي، اناهيتا همداسې وکړل.

زما هم ورځ تر بلې صحي وضعيت خرابېږي، اوس په کور کې يمه، مخامخ د مجيد او سهراب تصوير په دېوال کې زوړند دی او په خوا کې مې د افغانستان بيرغ دی، تر دې مهاله زما د ژوند کيسه دې ځای ته را رسېدلې ده، نور که زه ژوندۍ وم او کيسه اوږدېدله هغه به هم وليکې.

او تر دې مهاله چې تا زما د ژوند د کيسې په ليکلو کې څومره تکليفونه ګاللي، د هغه ښښنه راته کوه او زه له تا څخه ډېره مننه کوم، چې زما د سوي ژوند داستان دې وليکه او خلکو ته دې وښوده، څوک چې دوه مَينان سره په زور بيلوي، پايله يې داسې شي او له دې به هم خلک خبر شي، چې رښتونې مينه هر ډول قرباني

غواړي، زۀ پۀ دې هيله يم چې لۀ دې وروسته څوک مَينان سره جدا نه کړي، ميندې او پلرونه خپل بچيان پۀ زوره وادۀ کولو ته مجبور نه کړي.
والسلام
تر دې وروسته يوه اونۍ د سلګۍ هېڅ پيغام را نه غی، څو ځله مې کوشش وکړ، خو زنګ نه ورته کېدۀ، آخر مې اناهيتا ته زنګ وکړ، اناهيتا هم ځواب نه راکاوۀ، سلګۍ ته ډېره پۀ انديښنه کې وم.
بله ورځ سهار وختي پاڅېدم، لمونځ مې وکړ، هوا هم سړه وه، مور مې پۀ خپله کوټه کې پۀ بخارۍ پسې اور بل کړی و، هلته لاړم، مور مې راته ويل، لورې ډېره نا ارامه ښکارې ناروغه شوې خو بۀ نه يې؟
ځواب مې ورکړ: نه، ښه يمه ناروغه نه يم، خو سلګۍ ته خفه يم، ډېر کړاوونه يې تېر کړي دي، د سرطان ناروغي لري، دا يوه اونۍ شوه چې هېڅ خبر نه ترې لرم، څۀ پرې شوي نه وي.
مور مې وويل: الله ج دې رحم پرې وکړي.
لۀ چای څښلو وروسته خپلې کوټې ته لاړم، د سلګۍ موبايل همغسې بند و، بيا مې اناهيتا ته زنګ وکړ، دا ځل اناهيتا ځواب ورکړ.
لۀ سلام او پوښتنې وروسته مې ترې وپوښتل سلګۍ څنګه ده او چېرته ده؟ دا څو ورځې يې موبايل بند دی.
اناهيتا پۀ بنده بنده ژبه وويل: سلګۍ، نور لۀ موږ سره نشته، لۀ دې نړۍ څخه يې سترګې پټې کړې.
زما سترګې لۀ اوښکو ډکې شوې، ترې ومې پوښتل څومره وخت شو چې سلګۍ مړه شوې ده؟
.د مجيد او سهراب لۀ مرګ څخه يوه ورځ وروستۀ
.څۀ مجيد او سهراب باندې څۀ وشول؟
.يوه ورځ مخکې لۀ دې چې دوی مړۀ شي، د مجيد پلار سخت ناروغه شوی و، پۀ روغتون کې بيستر و، ډاکټرانو ويلي و چې ساه لنډې لري، د ژوند وروستۍ شپې يې دي.
پلار يې مخکې لۀ دې چې مړ شي مجيد ته يې هر څۀ د غبريز پيغام لۀ لارې ويلي دي.
ترې ومې پوښتل: پۀ هغۀ غبريز پيغام کې څۀ و؟
اناهيتا وويل: پلار يې پۀ غبريز پيغام مجيد ته لېږلی و، هغۀ بيا ماته هم ولېږۀ د مجيد پلار ويلي دي:
زويه ما وبښه، د غچ اخيستلو پۀ نشه کې وم، ستا او د سلګۍ ژوند مې در تباه کړ.
احمد ما د سلګۍ کورته ورولېږه، تر څو کوژده ورسره وکړي او تۀ ترې بېغمه شې، د سړک پر سر لۀ سلګۍ څخه دستکول اخيستل دا هم زما کار و، د سلګۍ پلار ته مې وويل چې دا د مجيد د کوژدنې کار و، موږ ډېره

هڅه وکړه چې ته له سلګۍ څخه لیرې شې، خو ستاسو مینه ریښتونې وه، موږ خوشې کوښښ کاوه، چې تاسو سره بېل کړو.
کله چې تاسو امریکا ته وتښتېدئ، نو موږ سخت درته په غوسه و، له هغې ورځې ستاسو په لټه کې شوم، آخیر مې ستاسو ځای پیدا کړ، نو هغلته مو فواد ته پیسې ورکړې، چې له سلګۍ سره اړیکه جوړه کړي، خو سلګۍ هېڅ د اړیکو د جوړولو په کیسه کې هم نه وه، له تا پرته یې بل څوک نه لیدل او نه یې مینه ورسره کوله.
وروسته مو د سلګۍ او فواد عکسونه جوړ کړل، ډېر مصرف مو پرې وکړل داسې معلومېدل لکه اصلي عکسونه چې وي، خو هغه عکسونه چې تا تر لاسه کړي ول، جعلي و، هغه عکسونه هم موږ جوړ کړي و. دا زموږ وروستی چل و، په دې کې موږ کامیاب هم شوو، ته مو له سلګۍ بېل کړې، سلګۍ ستا او د سهراب د جدایي له درده د سرطان په ناروغۍ اخته شوه او یو ځل یې د ځان وژنې کوشش هم کړی و.
زه اوس د ناروغۍ پر بستر پرون یم، وجدان ته ملامت یې چې ستا او سلګۍ ژوند مې تباه کړ، زه به یو څو ورځې ژوندی یم یا نه، له تاسو بښنه غواړم، ما وبښئ زویه، ما ستاسو په حق کې زیات ظلم وکړ، له سلګۍ څخه هم زما له لوري بښنه وغواړه.
مجیده زویه ورشه سلګۍ د سرطان ناروغي لري، ډېر کم وخت به ژوندی وي، ته ځان ور ورسوه، چې د ژوند آخري شیبې خو یې لږ په خوشحالیو کې تېرې شي، هغه بغیر له تا او سهراب څخه نور څوک نه لري.
مجید چې دا غریز پیغام اورېدلی و، ما ته یې هم دا غریز پیغام ولېږهٔ. له دې وروسته یې راته زنګ وکړ له سلام څخه وروسته یې وویل: اناهیتا زما پلار له ما سره زیات ظلم وکړ، پلار ډېر مهربانه وي، خو زما پلار په غلطۍ سره او د خپلې غوسې سړولو لپاره له ما څخه دومره لوی انتقام واخیسته، هېڅ ښهٔ یې راسره و نه کړل. پلار مې هم نه دی ګرم، زموږ په ټولنه کې په مینه وادهٔ کول عیب دی او په مینه چې څوک وادهٔ وکړي، ټوله کورنۍ د شرم احساس کوي، خلک ورته په سپکه ګوري، نو زما پلار دا نه شوای زغملی نو ځکه یې دا هر څهٔ کړي دي.
په آخر کې یې وویل: ته په سلګۍ پام کوه زه، ځم ټیکټ کؤم او امریکا ته ځان درسوم، سلګۍ هم خبره کړه.
له مجید سره مې خبرې پای ته ورسېدې، د سلګۍ خوا ته ورغلم، سلګۍ ته مې ټوله کیسه وکړه. سلګۍ هم ژړل او هم ډېره خوشحاله وه.
په سبا ورځ له لندن څخه زنګ راغی، ویل یې له شفاخانې څخه مو درسره اړیکه نیولې ده، مجید او سهراب ټکر کړی دی حالت یې ډېر وخیم دی، نو تاسو ځانونه ورته را ورسوئ.

ډېره وارخطا شوم، سلګۍ ته مې څۀ و نه ويل چې، مجيد او سهراب پېښه کړې ده، سلګۍ ته مې وويل چې مجيد امريکا ته نه شي راتللی پۀ ويزې او پاسپورت کې ستونزه ده، موږ بايد هغلته ورشو.

لۀ دې وروسته زۀ لاړم ټيکټ مې وکړ، سبا سهار مو پرواز و، سبا سهار وختي ميدان هوايي ته لاړو، لۀ اتۀ ساعته مزل وروسته پۀ لندن کې ښکته شو، لۀ ميدان څخه را بهر شو، پوښتنه مې وکړه، روغتون مو را پيدا کړ، کله چې روغتون ته ورسېدو، سلګۍ لۀ پېښې خبره شوه، لۀ خبرېدو سره سم بې هوښه شوه، دوه ساعته وروسته يې درې تابوتونه را وباسل پرې ليکلي يې و: مجيد ،سلګۍ ،سهراب

پای